افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

بریا د ټولو هیله

د رسنیو او مطبوعاتو څانګه

نهم کال، څلورمه ګڼه | اکتوبر - دسمبر | ۲۰۲۳م کال

د افغانستان کرکټ بورډ

د رسنیو او مطبوعاتو څانګه

درې میاشتنۍ مجله

اکتوبر - دسمبر | ۲۰۲۳م کال

مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي: حکیم الله احمدزی، خپلواک دریځ، خوشحال درانی او سید نسیم سادات

ډیزاین: احمد ذبیح رامین

www.facebook.com/AfghanistanCricketBoardOfficial
www.facebook.com/ACBDomestic
www.facebook.com/GAOneDayCup
twitter.com/ACBofficials
twitter.com/AcbDomestic
/twitter.com/GAOneDayCup
www.instagram.com/afghanistancricketboard/
www.instagram.com/gaonedaycup/
www.youtube.com/c/AfghanistanCricketBoardOfficial
cricket.af/
whatsapp.com/channel/0029Va8IzMuJkK71MdD70Q1m

لیکلړ

۱ افغان لوبډلې په نړیوال جام کې تاریخي بریاوې خپلې کړې 2
۲ نړیوال جام کې د افغانستان لپاره لومړنۍ تاریخي سلیزه! 9
۳ عظمت الله عمرزی، د افغان لوبډلې یو بل نایابه غمی 10
۴ محمد نبي؛ لومړنی افغان لوبغاړی چې ۱۵۰ نړیوالې سیالۍ ترسره کوي 12
۵ راشد خان د افغانستان لپاره ۱۰۰ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې پوره کړې 15
۶ رحمت شاه زرمتي ۱۰۰ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې بشپړې کړې 16
۷ حشمت الله شهیدي په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۰۰۰ منډې پوره کړې! 19
۸ رحمن الله ګربز په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۰۰۰ منډې پوره کړې 20
۹ ابراهیم ځدراڼ په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۰۰۰ منډې پوره کړې 22
10 مجیب الرحمن په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۰۰ ویکټې بشپړې کړې 24
11 افغان ابدالیانو د چین په اسیایي سیالیو کې د دریم ځل لپاره هم د سپین زرو مډال وګاټه 26
12 افغان ابدالیان لوبډلې عمان ته د سیالیو په موخه سفر وکړ 28
13 استرالیا د ۲۰۲۳ کال نړیوال جام سیالیو اتلولي وګټله 32
14 د ویراټ کوهلي یوه بله ستره کارنامه، په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ۵۰ سلیزې! 38
15 افغان اتلان د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو په موخه هند ته سفر کوي 42
16 د زونونو په کچه د ۲۰۲۳م کال غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو هر اړخیز راپور 50
17 د نولس کلنو لوبغاړو نړیوال جام سیالۍ پیلېږي 62
18 سیستم بررسی موقیعت توپ (Ball Tracking) در بازی کریکت چگونه کار میکند؟ 64
19 د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې ځانګې د روزنې په برخه کې بېلابېل ښوونیز سیمینارونه ترسره کړل 70
20 د کوڅې او ښوونځیو کرکټ 72
21 د کرکټ په تاریخ کې لس زړه ماتوونکې پېښې! 74
22 د ۲۰۲۳م کال فعالیتونه، لاسته راوړنې او ننګونې 80
23 The Future of Cricket: How Technology is changing the Game 94

سرمقاله

۲۰۲۳زېږدیز کال د افغانستان کرکټ بورډ لپاره له لاسته راوړنو ډک و چې له هره اړخه پکې ډېرې لاسته راوړنې وې. افغانستان په یاده موده کې ۸ شل اوریزې نړیوالې، ۲۰ یو ورځنۍ نړیوالې او یوه ټېسټ لوبه ترسره کړه چې ډېری یې په بریاو سره پای ته رسېدلې دي چې غوره بېلګې یې له پاکستان د شل اوریزې لوبلړۍ ګټل، بنګله دېش ته په خپل کور کې ماتې ورکول او په نړیوال جام کې د لومړي ځل لپاره د څلورو سترو لوبو ګټل و.

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ مهالوېش هم ډېر بوخت و، له دویمه درجه ولایتي سیالیو نیولې، تر زرغون جام، احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس او لیسټ اې سیالیو ټولې پکې په ښه ډول ترسره شوې او دغه راز نورې هغه هم په خپلو وختونو ترسره شوې چې ډېری یې په ژوندۍ بڼه هېوادوالو ته وښودل شوې.

له مالي اړخه هم دغه کال یو غوره او له لاسته راوړنو ډک کال و چې د افغانستان کرکټ بورډ د مشرتابه هلو ځلو په پایله کې د کرکټ د اسیایي شورا او نړیوالې شورا له لوري د بودیجې اندازه څو برابره لوړه شوه چې یوه ستره لاسته راوړنه وه او دغه راز د بازارموندنې له اړخه هم افغانستان کرکټ بورډ د تېرو کلونو په پرتله ډېر عواید لرل او د سږ کال بودیجه هم ورسره لوړه شوې وه.

په اداري برخه کې ډېرې لاسته راوړنې موجودې وې او ډېری برخې ډیجیټلي بڼې ته واړول شوې، ترڅو په اداره کې د حساب ورکولو لپاره روڼ او شفاف سیستم موجود وي، او دغه راز هرڅه په غوره ډول مخ ته ولاړ شي.

دغه راز باید وویل شي چې ۲۰۲۴م کال به له یاد کال څخه هم بهتره او بوخت وي، ځکه د اوږدمهاله ستراتېژي له مخې داسې موخې او اهداف د ادارې لپاره ټاکل شوي چې ډېر مؤثره دي او اداره ورسره له هره اړخه ډېر پرمختګ کولی شي.

درنښت

اداره

افغان لوبغاړي

په نړیوال جام کې

تاریخي بریاوې خپلې کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د یو ورځنیو سیالیو په نړیوال جام کې خپل دریم ځلې ګډون تاریخي ثابت کړ. افغان لوبډلې له دې وړاندې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په دوه پړاو نړیوال جامونو کې برخه اخیستې وه خو له ۱۵ سیالیو یې یوازې یوه لوبه په خپل لومړي نړیوال جام کې د سکاټلنډ پر وړاندې ګټلې وه او په پاتې ۱۴ سیالیو کې له ماتې سره مخ شوې وه.

په ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې ګډون او غوره لوبې هغه خوږه تجربه ده چې تر دې ډېره به یې د افغان لوبډلې مینه وال په یاد ساتي او خوږې خاطرې به یې بیانوي. د دې سیالیو په لړ کې افغان اتلانو څلور بریاوې خپلې کړې او داسې لوبډلې یې ماتې کړې چې ماتول یې د ډېرو افغانانو هیله او ارمان و.

د افغانستان کرکټ ملي لوبدلې د دې سیالیو په ترڅ کې لومړی انګلستان، بیا پاکستان، ورپسې سریلانکا او له دې وروسته نیدرلنډ لوبډلې ته ماتې ورکړې. انګلستان، پاکستان او سریلانکا هغه هېوادونه دي چې له دې وړاندې یې د نړیوال جام اتلولي خپله کړې ده او نړیوال اتلان بلل کېږي. انګلستان په ۲۰۱۹، پاکستان په ۱۹۹۲ او سریلانکا بیا په ۱۹۹٦ کلونو کې نړیوال جامونه ګټلي دي او د نړۍ خورا پیاوړې لوبډلې شمېرل کېږي. افغان اتلان د اکتوبر میاشتې په ۱۵مه نېټه د هند په پلازمېنه ډهلي کې د انګلستان پر وړاندې د سیالۍ ډګر ښکته شول. افغان لوبډلې لومړی توپوهنه کوله، رحمن الله ګربز او ابراهیم ځدراڼ خورا ښه پیل واخیست، دواړو د لومړۍ ویکټې لپاره د ۱۱۴ منډو ملګرتیا وکړه خو وروسته یې درې ویکټې ډېر ژر وغورځېدې او د رحمن الله ګربز په شمول یې په ۱۲۲ منډو کې درې لوبغاړي له لاسه ورکړل. اکرام علي خیل چې په یاد نړیوال جام کې یې خپله لومړۍ لوبه کوله، د توپوهنې په موخه لوبغالي ته راغی او د منډو جوړولو لړۍ یې روانه وساتله، افغان لوبډلې که څه هم په منځ کې خپلې ویکټې له لاسه ورکولې خو د اکرام نیمه سلیزې او په مهم وخت کې د راشد خان او مجیب الرحمن چټکې منډې د افغانستان لپاره ډېرې ګټورې تمامې شوې چې پر مټ یې افغان لوبډلې سیالې انګلستان لوبډلې ته د ۲۸۵ منډو هدف ورکړ.

له خورا ښې توپوهنې وروسته افغان اتلانو په توپ اچونه کې هم ډېر ښه پیل وکړ او د سیالې لوبډلې لومړی پیلیز توپوهونکی یې په دویم اور کې له ډګره بهر کړ. افغان اتلانو خپله ښه توپ اچونه جاري وساتله او سیال لوبغاړي یې یو په بل پسې له ډګره وویستل. هېرې بروک یوازېنی توپوهونکی و چې د انګلستان لپاره یې نیمه سلیزه جوړه کړه خو بیا هم په دې بریالی نشو چې خپله لوبډله بریا ته ورسوي او د مجیب الرحمن د غوره توپ اچونې ښکار شو. په دې لوبه کې مجیب الرحمن او راشد خان هر یوه ۳، محمد نبي ۲، فضل الحق فاروقي او نوین الحق یو یو سیال لوبغاړی له ډګره وویست. د ۲۰۱۹م کال نړیوال جام اتلې انګلستان لوبډلې د خپلو ټولو لوبغاړو په زیان یوازې ۲۱۵ منډې جوړې کړې او په ٦۹ منډو یې له افغان اتلانو ماتې وخوړه. مجیب الرحمن چې په ۱٦ توپونو یې ۲۸ چټکې منډې او په لسو اوورونو کې یې د ۵۱ منډو په بدل کې ۳ ویکټې ترلاسه کړې وې، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

دا د افغانستان کرکټ په تاریخ کې لومړی ځل و چې افغان لوبډله انګلستان ته په یوه نړیواله لوبه کې ماتې ورکوي. دغه راز دا په ۲۰۲۳م کال نړیوال جام کې د افغان لوبډلې لومړۍ او په ټوله کې په نړیوال جام سیالیو کې دویمه بریا وه چې افغان اتلانو ترلاسه کړه. د انګلستان پر وړاندې د افغان لوبډلې بریا د څو ورځو لپاره په نړیواله کچه د خبرونو سرټکی شو او هر ځای د افغان لوبغاړو او افغان لوبډلې د ستاینې په پار لیکنې او مقالې خپرې شوې.

له دې لوبې یوه اونۍ وروسته افغان اتلان په چینای ښار کې د پاکستان پر وړاندې د سیالۍ ډګر ته ښکته شول. افغان اتلانو لومړی توپ اچونه وکړه، د چینای ویکټ داسې وه چې له توپ اچوونکو سره یې ډېره مرسته کوله او منډې ډېرې نه پرې جوړېدې خو دې سره سره افغان لوبغاړو په توپ اچونه کې ښه پیل ونکړ او د سیالې لوبډلې لومړی توپوهونکی یې په ۵٦ منډو او دویم لوبغاړی یې په ۱۱۰ منډو کې له ډګره بهر کړ. له دې وروسته هم د دواړو لوبډلو ترمنځ سخته مقابله روانه وه، افغان توپ اچوونکو وروسته ښه توپ اچونه کوله او تر ډېره برلاسې و خو د لومړۍ پاڼۍ په وروستیو کې سیالو توپوهونکو خورا ښه توپوهنه وکړه او افغان لوبډلې ته یې د ۲۸۳ منډو هدف وټاکه.

د چینای په مړه او ګردجنه ویکټ داسې نه برېښېدل چې دغه منډې دې پوره شي، بیا د پاکستان په څېر د پیاوړو او نوموتو توپ اچوونکو پر وړاندې پوره کول یې د ډېرو په اند ناشونی کار و او ډېر مبصرین او د کرکټ څارونکي په دې باور و چې پاکستان به په ډېرې اسانۍ له دې هدفه دفاع وکړي او په نړیوالو سیالیو کې به د افغان لوبډلې پر وړاندې د خپلو بریاو لړۍ دوامداره وساتي. خو افغان لوبغاړو په ځان باور درلود چې د دې هدف په پوره کولو سره افغانستان تاریخي بریا ته رسولی شي. همداسې وشول، د پاکستان لوبډلې د ۲۸۳ منډو ستر هدف په ځواب کې یوازې څلور افغان توپوهونکو لوبه وکړه او دغه هدف یې یوازې د دوه لوبغاړو په زیان ترلاسه کړ او د ۸ ویکټو په ستر توپیر یې دغه لویه بریا خپله کړه.



د افغان لوبدلې په ګټه ابراهیم ځدراڼ ۸۷، رحمن الله ګربز ٦۵، رحمت شاه زرمتي ۷۷* او لوبډلمشر حشمت الله شهیدي ۴۸* منډې جوړې کړې او افغان لوبډله یې سترې بریا ته ورسوله. له دې وړاندې افغان لوبډلې د پاکستان پر وړاندې ۷ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې کړې وې خو په ټولو لوبو کې سیالې پاکستان لوبډلې بریا خپله کړې وه. افغان اتلانو که څه هم د ۲۰۲۳م کال په مارچ میاشت کې پاکستان ته د شل اوریزو سیالیو په لوبلړۍ کې ماتې ورکړې وه خو دا لومړی ځل و چې افغان لوبډله پاکستان ته په یوه نړیواله یو ورځنۍ لوبه کې ماتې ورکوي. دا یوازې یوه نړیواله یو ورځنۍ لوبه نه وه بلکه د نړیوال جام لوبه وه چې له ځانګړې ارزښته برخمنې دي او د ګټلو اعزاز یې تر عمره پاتې کېږي او یادېږي.

د انګلستان او پاکستان له ماتولو وروسته د افغان لوبغاړو مورال او په ځان باور دوه برابره شو او له دې وروسته یې هره لوبه کې خپله واکمنې ثابتوله. افغان لوبډلې له دې وروسته سریلانکا سره هم ډېره ښه لوبه وکړه او یادې لوبډلې ته یې هم ستره ماتې ورکړه. افغان لوبډلې لومړی توپ اچونه وکړه او د فضل الحق فاروقي د غوره توپ اچونې پر مټ یې سیاله سریلانکا لوبډله په ۲۴۱ منډو له ډګره بهر کړه. افغان لوبډلې خپل تکړه پیلیز توپوهونکی رحمن الله ګربز په لومړي اور کې له کومې منډې پرته له لاسه ورکړ خو ابراهیم ځدراڼ او رحمت شاه زرمتي د دویمې ویکټې لپاره ښه ملګرتیا وکړه. ابراهیم ۳۹ او رحمت شاه ٦۲ منډې جوړې کړې. له دې وروسته لوبډلمشر حشمت الله شهیدي او ځوان تکړه لوبغاړي عظمت الله عمرزي د یوې بهترینې ملګرتیا وروسته افغان لوبډله د ۷ ویکټو په توپیر بریا ته ورسوله.

لوبډلمشر حشمت الله شهیدي ۵۸* او عظمت الله عمرزي ۷۳* منډې جوړې کړې او د افغان لوبډلې په بریا کې یې رغنده رول ولوباوه. ډېرو افغان لوبغاړو په دې لوبه کې ښه کارکردګي کړې وه خو د لوبې غوره لوبغاړی فضل الحق فاروقي ونومول شو چا چې په خپلو لسو اوورونو کې یوازې د ۳۴ منډو په بدل کې د سیالې لوبډلې ۴ لوبغاړي له ډګر ویستلي و. افغان لوبډلې له دې وړاندې درې ځلې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې سریلانکا ته ماتې ورکړې وه خو دا لومړی ځل و چې د نړیوال جام سیالیو په ترڅ کې ماتې ورکوي.

په نړیوال جام کې له درې بریاو خپلولو وروسته افغان اتلان له نیدرلنډ سره مخ شول. نیدرلنډ د افغان لوبډلې په پرتله په نړیوال کرکټ کې اوږده مخینه لري او نړیوال کرکټ ته د افغان لوبډلې له راتګ وړاندې او وروسته یې ښه کرکټ کړی او ګڼ شمېر نړیوال جامونو کې یې برخه اخیستې ده. دغې لوبډلې په دې نړیوال جام کې هم خورا ښې لوبې وکړې او د سوېلي افریقا او بنګله دېش په څېر پیاوړو لوبډلو ته یې ماتې ورکړې.

افغان لوبډلې چې له دې وړاندې یې د نړۍ درې اتلان یو په بل پسې مات کړي و، په خورا لوړ مورال او جذبې سره د نیدرلنډ پر وړاندې د لوبې ډګر ته ښکته شوه، نیدرلنډ پیل ډېر ښه ونکړ او په لومړي اور کې یې خپل پیلیز توپوهونکی له لاسه ورکړ خو نورو دوه توپوهونکو یې د ۷۰ منډو ملګرتیا وکړه او داسې ښکارېده چې ډېرې منډې به جوړې کړي، خو داسې ونشول، افغان اتلانو دا ځل په ډګر ساتنه کې خپله وړتیا وښوده، د سیالې لوبډلې څلور توپوهونکي یې د منډې پر مهال له ډګره وویستل او نیدرلنډ لوبډلې خپل ټول لوبغاړي په ۱۷۰ منډو کې له لاسه ورکړل.
افغان اتلان په توپوهنه کې هم خورا ښه وځلېدل او یاد هدف یې د درې لوبغاړو په زیان ترلاسه کړ. د افغان لوبډلې په ګټه رحمت شاه زرمتي ۵۲، حشمت الله شهیدي ۵۶* او ځوان الرونډر عظمت الله عمرزي ۳۱* جوړې کړې او افغان لوبډله یې څلورمې بریا ته ورسوله. د سیالۍ له پای ته رسېدو وروسته د نیدرلنډ لوبډلمشر سکاټ ایډوارډز رسنیو سره په خپلو څرګندونو کې ووېل چې دوی د افغان لوبډلې د ماتولو فکر درلود خو له لوبې وروسته پوه شول چې افغانستان پخوانۍ لوبډله نده پاتې او اوس مهال د نړۍ له سترو لوبډلو شمېرل کېږي چې د ماتولو لپاره یې باید ډېره خواري وویستل شي.

له څلورو بریاو وروسته افغان لوبډلې د لسو ګډون کوونکو لوبډلو ترمنځ پنځم مقام خپل کړ او د نړیوال جام نیمه پایلوبو ته د رسېدو لپاره مخکښه لوبډله شمېرل کېده. دا مهال د نړیوالو رسنیو د خبرونو سرټکی افغان لوبډله وه او ډېرې بحثونه په دې و چې د افغانستان، پاکستان او نیوزیلنډ له منځه به کومه لوبډله د نړیوال جام نیمه پایلوبو ته وځي. نیمه پایلوبو ته د رسېدو لپاره افغان لوبډلې ته دوه نورې بریاوې پکار وې، که دوه نه وی نو یوه ستره بریا ډېره اړینه وه.

د افغان اتلانو بله لوبه د استرالیا پر وړاندې وه، استرالیا له دې وړاندې د ۵ نړیوالو جامونو اتلولي ګټلې وه (دغه شمېره اوس شپږو ته پورته شوې ده). افغان اتلان په خورا لوړ مورال د نړۍ د تر ټولو پیاوړې لوبډلې پر وړاندې په ممبۍ کې د سیالۍ ډګر ته ښکته شول. پکار وه چې افغان لوبډله لومړی توپوهنه وکړي او وروسته د خپلې ښې توپ اچونې پر مټ ترې دفاع وکړي. همداسې وشول، افغان لوبډلې لومړی توپوهنه غوره کړه او د رحمن الله ګربز او ابراهیم ځدراڼ په ښه ملګرتیا یې یو ځل بیا خورا ښه پیل واخیست. رحمن الله ګربز په ۲۱ منډو خپله ویکټ له لاسه ورکړه خو ابراهیم ځدراڼ د رحمت شاه زرمتي په ملګرتیا خپلې توپوهنې ته دوام ورکړ. د افغان لوبډلې ځوان توپوهونکي ابراهیم ځدراڼ په دې لوبه کې تاریخ جوړ کړ او د سلیزې په جوړولو لومړی افغان لوبغاړی شو چې په نړیوال جام کې سلیزه جوړوي. د ابراهیم ترڅنګ په دغه لوبه کې رحمت شاه ۳۰، لوبډلمشر حشمت الله شهیدي ۲۶، عظمت الله عمرزي ۲۲ او راشد خان په ۱۸ توپونو د ۲ څلوریزو او ۳ شپږیزو پر مټ چټکې ۳۵* منډې جوړې کړې او سیالې استرالیا لوبډلې ته یې د ۲۹۲ منډو هدف ورکړ.

افغان لوبډلې په دویمه پاڼۍ کې د یاد هدف په دفاع کې بهترینه او هر اړخیزه توپ اچونه پیل کړه. لومړی نوین الحق، بیا عظمت الله عمرزي او وروسته راشد خان د استرالیا پیاوړي توپوهونکي په پرلپسې توګه له ډګره وویستل او یوازې په ۹۱ منډو کې یې د سیالې لوبډلې ۷ ویکټې ترلاسه کړې. افغان لوبډلې، افغان ولس او د کرکټ ټولو مبصرینو، مینه والو، لیدونکو او څارونکو دا وانګېرله چې ګواکې افغان لوبډله استرالیا ته هم ماتې ورکوي او نیمه پایلوبو ته د رسېدو لپاره خپل مقام نور هم لوړوي، ځکه استرالیا ته څه باندې دوه سوه نورې منډې پکار وې او یوازې درې لوبغاړي ورسره پاتې و، چې پوره کول یې ټولو ته معجزه ښکارېده.

افغان لوبغاړو خپلې توپ اچونې ته دوام ورکړ خو سیالو لوبغاړو ګلېن مکسوېل او لوبډلمشر پېټرېک کمېنز ډېره ښه توپوهنه وکړه، په نه منونکې توګه یې د ۲۰۲ منډو ملګرتیا وکړه او په خورا حیرانوونکې توګه یې دغه لوبه د ۳ ویکټو په توپیر وګټله. مکسوېل په دغه لوبه کې په یوازې ځان غبرګه سلیزه جوړه کړه او ۲۰۱ منډې یې وکړې. دا لومړی ځل و چې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د اتمې ویکټې لپاره دومره اوږده ملګرتیا کېږي. دغه راز د لومړي ځل لپاره د یو ورځنیو سیالیو په دویمه پاڼۍ کې غبرګه سلیزه جوړه شوه. د افغانستان پر وړاندې د استرالیا دغه حیرانوونکې بریا له معجزې کمه نه وه چې پرې د کرکټ نړۍ سترو ویبپاڼو، چاپي او انځوریزو رسنیو د څو ورځو لپاره لیکنې او مقالې خپرې کړې.

افغان لوبډلې په نړیوال جام کې خپل سفر د بنګله دېش پر وړاندې په لوبه پیل کړ. تمه کېده چې افغان لوبډله به د دغې لوبډلې پر وړاندې ښه لوبه وکړي او په نړیوال جام کې به خپل سفر په بریا سره پیل کړي خو له بده مرغه داسې ونشول، افغان لوبډلې د تمې خلاف لوبه وکړه او دغه لوبه یې بنګله دېش لوبډلې ته وبایلله. له دې وروسته افغان لوبډلې هند او نیوزیلنډ لوبډلې ته هم خپلې لوبې وبایللې او د استرالیا او سوېلي افریقا پر وړاندې ماتو سره یې په نړیوال جام کې خپل سفر په ۵ ماتو او ۴ بریاو سره پای ته ورساوه.

د افغان لوبډلې له لوري تر ټولو مخکښ توپوهونکی ابراهیم ځدراڼ و چې په دغو سیالیو کې یې د یوې سلیزې او یوې نیمه سلیزې پر مټ د ۴۷ منډو په اوسط ۳۷۶ منډې جوړې کړې. دغه راز عظمت الله عمرزی په ۳۵۳ منډو دویم، رحمت شاه زرمتی په ۳۲۰ منډو دریم، لوبډلمشر حشمت الله شهیدي په ۳۱۰ منډو څلورم او رحمن الله ګربز چې په یادو سیالیو کې یې د افغان لوبډلې په ګټه ۲۸۰ منډې جوړې کړې وې، پنځم مخکښ توپوهونکی و. دغه راز په توپ اچوونکو کې راشد خان تر ټولو مخکښ و چې ۱۱ ویکټې یې ترلاسه کړې وې. د نوموړي ترڅنګ محمد نبي، نوین الحق او مجیب الرحمن هر یو په ۸ ویکټو دویم، دریم او څلورم، عظمت الله عمرزی په ۷ ویکټو پنځم او فضل الحق فاروقي او نور احمد په ٦ او ۵ ویکټو دوه نور مخکښ توپ اچوونکي و.

دا په عموم کې په نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې دریم ګډون و. افغان لوبډلې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۵م کال کې په نړیوال جام سیالیو کې ګډون وکړ چې له ٦ سیالیو یې یوازې یوه لوبه کې بریا خپله کړه. دغه راز افغان لوبډلې په ۲۰۱۸م کال کې د نړیوال جام د غوراوي پړاو سیالیو کې له اتلولي ګټلو وروسته د ۲۰۱۹م کال نړیوال جام سیالیو ته لاره ومونده چېرې چې ټولې یې ۹ سیالۍ ترسره کړې خو له بده مرغه په هیڅ لوبه کې یې بریا خپله نکړه. په ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې ګډون بیا له تېرو پړاونو ډېر مختلف و او دا لومړی ځل و چې افغان لوبډله په نړیوال جام کې له یوې ډېرې لوبې ګټې. د افغان لوبډلې دغه تاریخي بریاوې به تر ډېره یادېږي او د یوې خوږې خاطرې په توګه به د افغان کرکټ مینه والو مینه خړوبوي.

د افغانستان نړیوال جام کې

لپاره لومړنۍ تاریخي سلیزه

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تر اوسه د یو ورځنیو سیالیو په درېو نړیوالو جامونو کې برخه اخیستې ده. افغان اتلانو د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۵م کال نړیوال جام سیالیو کې ګډون وکړ. له دې وروسته افغان لوبډلې په پر له پسې توګه په ۲۰۱۹م او ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې هم ګډون وکړ.

افغان لوبډلې په ۲۰۱۵م کال نړیوال جام کې ٦ لوبې وکړې، دغه راز یې په ۲۰۱۹م کال نړیوال جام کې ۹ لوبې وکړې خو په یادو ۱۵ سیالیو کې هیڅ افغان لوبغاړي سلیزه جوړه نکړه. د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو په لومړیو ۷ لوبو کې هم افغان اتلان په دې بریالي نشول تر څو سلیزه جوړه کړي خو دغه تاریخ ځوان افغان توپوهونکي ابراهیم ځدراڼ بدل کړ. دافغان لوبډلې په ګټه په نړیوال جام کې له ۲۲ سیالیو وروسته په ۲۳مه لوبه کې سلیزه جوړه شوه او ابراهیم ځدراڼ لومړنی افغان لوبغاړی شو چې دغه کارنامه په خپل نوم ثبتوي.

ابراهیم ځدراڼ د نومبر میاشتې په اوومه نېټه د ممبۍ په وانکېډې کرکټ لوبغالي کې د استرالیا پر وړاندې لوبه کې په ۱۴۳ توپونو د ۸ څلوریزو او ۳ شپږیزو پر مټ ۱۲۹* ناسوځېدلې منډې جوړې کړې او لومړنی افغان لوبغاړی شو چې د افغانستان په ګټه په نړیوال جام کې سلیزه جوړوي.

په ۲۰۱۵م کال کې د افغان لوبډلې تکړه لوبغاړي سمیع الله شینواري د سکاټلنډ پر وړاندې لوبه کې ۹٦ منډې جوړې کړې وې، چې د ابراهیم ځدراڼ له سلیزې وړاندې د افغان لوبغاړو په ډله کې تر ټولو ډېرې منډې وې. اوسمهال په دغه لېسټ کې ابراهیم ځدراڼ په ۱۲۹* منډو لومړی، عظمت الله عمرزی په ۹۷* دویم، سمیع الله شینواری په ۹٦ منډو دریم، ابراهیم ځدراڼ بیا ځلې هم په ۸۷ منډو څلورم او اکرام علي خیل په ۸٦ منډو پنځم مقام له ځان سره لري.

ابراهیم ځدراڼ په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې تر اوسه ۵ سلیزې لري چې ښایي هم په خپله د ابراهیم او هم د نوموړي د ټولو مینه والو لپاره تر ټولو جالبه او ځانګړې هغه یې د استرالیا پر وړاندې وي چې په نړیوال جام کې یې د یادې لوبډلې پر وړاندې لوبه کې جوړه کړه او ستر تاریخي ویاړ یې په خپل نوم کړ.

عظمت الله عمرزی

د افغان لوبډلې یو بل نایابه غمی

افغانستان کرکټ بورډ په تېره څه بانديې یوه لسیزه کې د کرکټ نړۍ ته خورا نوموتي او با استعداده لوبغاړي وړاندې کړي دي. د افغان کرکټ په پیل کې محمد نبي، حمید حسن او یو شمېر نورو لوبغاړو د خپلې بېسارې وړتیا پر مټ د نړیوالو پام ځان ته راواړاوه.* له دوی وروسته د افغانستان کرکټ د راشد خان، مجیب الرحمن، رحمن الله ګربز، نور احمد او ابراهیم ځدراڼ په څېر ستوري د کرکټ نړۍ ته معرفي کړل چې هر یو یې اوس د یوه ځانګړي نوم څښتن دی او په نړۍ کې خاص ارزښت لري.

دغسې یو بل ځوان لوبغاړی عظمت الله عمرزی دی چې په ښي لاس توپوهنه او ښي لاس بهترینه چټکه توپ اچونه کوي. نوموړی د ګڼ شمېرو نورو افغان ستورو په څېر یو بل هغه ځلانده ستوری دی چې په دې وروستیو کې افغانستان نړیوال کرکټ ته معرفي کړی دی.

عظمت الله عمرزي خپله لومړنۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه د ۲۰۲۱م کال د جنورۍ میاشتې په ۲۱مه نېټه د ایرلېنډ پر وړاندې وکړه. نوموړي د ۲۰۲۳م کال تر پایه ۲۲ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې ترسره کړې چې په ۱٦ پاڼیو کې یې د ۴ نیمه سلیزو پر مټ د نږدې ۴۵ منډو په اوسط سره ۴۹۰ منډې جوړې کړې دي.

نوموړي دغه راز په ۲۲ پاڼیو کې ۱۳ ویکټې هم اخیستې دي چې تر ټولو غوره توپ اچونه یې د ۵۲ منډو په بدل کې د ۲ ویکټو اخیستل دي.

دا چې د عظمت الله عمرزي لوبیز ژوند له پیل راهیسې یوازې دوه کاله کېږي او ښایي راتلونکي کې د هېواد لپاره ډېر ښه کرکټ وکړي، خو تر اوسه یې ښایي په نړیوال کرکټ کې له ټولو ښې ورځې د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې تېرې شوې وي، چېرې چې نوموړي د افغان اتلانو په ګټه بهترینې لوبې ننداري ته وړاندې کړې.

عظمت الله عمرزي په نړیوال جام کې د افغان لوبډلې په ګټه په پنځم پوزېشن توپوهنه وکړه چې په ۸ پاڼیو کې یې د درې نیمه سلیزو پر مټ د نږدې ۷۱ منډو په اوسط ۳۵۳ منډې جوړې کړې چې په یوه پاڼۍ کې یې تر ټولو ډېرې منډې ۹۷* وې چې د سوېلي افریقا پر وړاندې لوبه کې یې وکړې. د نوموړي ۳۵۳ منډې د افغان لوبغاړو په ډله کې له ابراهیم ځدراڼ (۳۷٦) وروسته له ټولو ډېرې وې چې په نړیوال جام کې یې د ټولو ګډون کوونکو لوبغاړو له منځه ۲۲م مقام خپل کړ. سربېره پر دې د نوموړي ۹۷* منډې بیا د افغانستان له اړخه د ابراهیم ځدراڼ له ۱۲۹* منډو وروسته په دویم مقام کې له ټولو ډېرې دي چې د نړیوال جام په یوه پاڼۍ کې جوړېږي.

عظمت دغه راز په نړیوال جام کې ۷ ویکټې هم اخیستې وې او یوازېنی افغان لوبغاړی و چې د لوبې په دواړو برخو کې ډېر ښه وځلېده او په توپوهنه کې یې د ۳۵۳ منډو ترڅنګ ۷ ویکټې هم ترلاسه کړې.

داسې لوبغاړي چې هم توپوهنه وکړي او هم ورسره چټکه توپ اچونه وکړی شي، د کرکټ په نړۍ کې له خاص ارزښت برخمن وي. د سوېلي افریقا جېک کالېس یو همدغسې لوبغاړی و چې د خپل لوبیز ژوند تر پایه یې ۲۵ نیم زره منډې او نږدې شپږ سوه ویکټې اخیستې دي چې بل یوه لوبغاړی هم تر اوسه په یوازې ځان داسې کارنامه نده کړې. یو شمېر لوبغاړي داسې وي چې ډېره توپوهنه او کمه توپ اچونه کوي، یا هم داسې چې ډېره توپ اچونه او کمه توپوهنه کولی شي، خو داسې لوبغاړی چې پوره توپوهنه او پوره توپ اچونه وکړی شي، ډېر کم پیدا کېږي.

د انګلستان لوبډلې د ټېسټ لوبو اوسنی لوبډلمشر او نوموتی الروندېر بېن سټوکس که څه هم اوس د ټپونو له امله توپ اچونه نه کوي، خو یو له هغو لوبغاړو و چې دواړه دندې به یې په ډېره ښه توګه ترسره کولې او د خورا ښې توپوهنې ترڅنګ به یې بهترینه چټکه توپ اچونه هم کوله. بل ورته لوبغاړی چې په دې اړه د کرکټ په نړۍ کې ستر شهرت لري، د هندوستان هاردېک پانډیا دی چې هم نهایت ښه چټکه توپ اچونه کوي او هم د بشپړ توپوهونکي رول لوبوي. داسې لوبغاړي د لوبډلې په جوړښت او توازن کې خورا مهمه ونډه لري، ځکه هم د توپوهونکي په توګه په څلورم-پنځم-شپږم پوزېشن توپوهنه کوي او هم ډېری وخت له توپوهنې په توپ اچونه کې اغېزمن ثابتېږي او د لوبډلې په ګټه مهم وخت کې د سیالو لوبډلو ویکټې ترلاسه کوي.

د افغان لوبډلې الراونډر عظمت الله عمرزی هم د همدې کټګورۍ لوبغاړی دی چې هم پوره توپوهنه او هم پوره توپ اچونه کوي. نوموړي په تېر نړیوال جام کې د افغانستان لپاره خورا ښه توپوهنه او توپ اچونه وکړه او ډېر ښه وځلېده. دا د افغانستان د کرکټ او لوبډلې لپاره ښه زېری دی چې د پنځم پوزېش لپاره داسې توپوهونکی پیدا کوي چې د حالاتو مطابق توپوهنې وړتیا لري، هم د کرارې لوبې او هم د چټکې لوبې عظیمه وړتیا لري.

د توپ اچونې په برخه کې بیا نوموړی په نوي توپ خورا ښه توپ اچونه کوي، دغه راز دواړو لوریو ته د بال تاوول د نوموړي بل هغه کمال ده چې افغان لوبډله راتلونکي ډېره ګټه ترې اخیستلی شي. نوموړي که څه هم په دې سیالیو کې په زاړه توپ د پام وړ توپ اچونه نده کړې، خو هیله مندي شته چې په زاړه توپ به هم زیار وباسي ترڅو ځان ورسره ښه عیار کړي او یو بهترین، بشپړ او هر اړخیز الراونډر ترې جوړ شي.

*محمد نبي اوسمهال په نړۍ کې د شل اوریزو سیالیو د الراونډرانو په درجه بندۍ کې لومړی مقام لري او له خورا ستر شهرته برخمن دی. حمید حسن د کرکټ نړۍ ته بهترین پیل وکړ او په کم وخت کې یې ستر نوم پیدا کړ، خو له بده مرغه د کرکټ نړیوالې شورا د یوې لوبډلې په ګټه د انګلستان پر وړاندې یوه لوبه کې سخت ټپي شو او ډېر وخت د کرکټ له ډګره لېرې پاتې شو. حمید که څه هم وروسته بیاځلې کرکټ ته را وګرځېد خو هغه حمید حسن کله هم پاتې نشو، کوم چې د ۲۰۱۲م کال د فبرورۍ له ۱۲مې نېټې وړاندې و. حمید اوسمهال نړیوال کرکټ سره مخه ښه کړې، خو یو بل ستر رول او مسوولیت مخې ته وړي او د افغان لوبډلې د توپ اچونې روزونکی دی.

محمد نبي؛ لومړنی افغان لوبغاړی چې ۱۵۰ نړیوالې سیالۍ ترسره کوي

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې پیاوړی او تر ټولو باتجربه لوبغاړي محمد نبي لومړنی افغان لوبغاړی شو چې په ۱۵۰ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې د هېواد استازیتوب کوي. نوموړي خپله ۱۵۰مه لوبه د ۲۰۲۳م کال د اکتوبر میاشتې په ۱۵مه نېټه د نړیوال جام سیالیو په ترڅ کې د انګلستان پر وړاندې ترسره کړه چې پکې افغان اتلانو له یوې هر اړخیزې لوبې وروسته انګلستان ته د لومړي ځل لپاره ماتې ورکړه.

محمد نبي هغه لوبغاړی دی چې د افغانستان په لومړنۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه هم د لوبېدو ویاړ لري. افغان لوبډلې خپله لومړنۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه د ۲۰۰۹م کال د اپرېل میاشتې په ۱۹مه نېټه، هغه ورځ چې افغانستان ته د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو مقام ورکړل شو، د ۲۰۱۱م کال نړیوال جام د غوراوي پړاو سیالیو په لړ کې د سویلي افریقا په بینوني ښار کې د سکاټلنډ پر وړاندې ترسره کړه. په یاده لوبه کې افغان لوبډلې د محمد نبي او سمیع الله شینواري د نیمه سلیزو او حمید حسن د بهترینې توپ اچونې پر مټ سیالې لوبډلې ته ماتې ورکړې وه چې پکې محمد نبي د ۵۸ منډو په جوړولو سره د لوبې غوره لوبغاړی هم نومول شوی و.

محمد نبي له هغه وروسته د افغانستان لپاره په پر له پسې توګه، له کومې دمې پرته په ۱۱۱ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ولوبېد چې په ډېرو مسلسلو یو ورځنیو لوبو کې د ګډون له حسابه د افغانستان لخوا لومړی او په نړیواله کچه ۱۳م مقام له ځان سره لري. نوموړي تر اوسه (د ۲۰۲۳م کال تر پایه) د هېواد په استازیتوب ۱۵٦ نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ ترسره کړې چې د لوبې په درې واړو برخو کې ډېر ښه ځلېدلی دی.

محمد نبي په یادو ۱۵٦ سیالیو کې ۱۳۷ ځلې توپوهنه کړې چې پکې یې د یوې سلیزې، ۱٦ نیمه سلیزو، ۲۰۸ څلوریزو او ۹۹ شپږیزو پر مټ د ۲٦.۲۹ منډو په اوسط ۳۲۰۸ منډې جوړې کړې چې د افغانستان له اړخه د ډېرو منډو په برخه کې له رحمت شاه زرمتي وروسته دویم مقام له ځان سره لري.

دغه راز نوموړي د هېواد په ګټه په ۱۵۱ پاینیو کې د ۳۲.۲۷ اوسط او ۴.۲۸ ایکانومي ریټ سره ۱٦۲ ویکټې اخیستې دي چې د افغانستان له اړخه د ډېرو ویکټو په برخه کې هم له راشد خان وروسته دویم مقام له ځان سره لري. نوموړي دغه راز د لوبې په دې بڼه کې ٦۹ کېچونه هم اخیستي دي او په نړیواله کچه یو له هغو لوبغاړو شمېرل کېږي چې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې له زرو زیاتې منډې، له ۵۰ زیاتې ویکټې او له ۵۰ زیات کېچونه لري.
محمد نبي بیا لومړنی افغان لوبغاړی دی چې په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې له درې زرو ډېرې منډې او له ۱۵۰ ډېرې ویکټې ترلاسه کوي. په یو ورځنیو سیالیو کې د نوموړي ٦۹ کېچونه او ۹۹ شپږیزې هم د افغان لوبغاړو تر منځه تر ټولو ډېرې دي.

راشد خان

د افغانستان لپاره ۱۰۰

نړیوالې یو ورځنۍ لوبې پوره کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځلانده ستوري راشد خان د افغانستان لپاره ۱۰۰ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې پوره کړې او له محمد نبي (۱۵٦ لوبې)، اصغر افغان (۱۱۴ لوبې) او رحمت شاه زرمتي (۱۰٦ لوبې) وروسته څلورم افغان لوبغاړی شو چې د هېواد په استازیتوب دغه ویاړ ترلاسه کوي.

راشد خان په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د لومړي ځل لپاره د ۲۰۱۵م کال د اکټوبر میاشتې په ۱۵مه نېټه د زمبابوې پر وړاندې ولوبېده. نوموړی له هغه وروسته د افغان لوبډلې دایمي غړی شو، د هېواد لپاره یې ګڼ شمېر ویاړونه خپل کړل او د ځان لپاره یې په نړیواله کچه ستر نوم پیدا کړ چې اوسمهال د یوه افسانوي لوبغاړي په نوم یادېږي.

نوموړي خپله سلمه لوبه د ۲۰۲۳م کال د اکټوبر میاشتې په ۳۰مه نېټه د نړیوال جام سیالیو په ترڅ کې د سریلانکا پر وړاندې ترسره کړه او اوسمهال (د ۲۰۲۳م کال تر پایه) ۱۰۳ نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ لري. راشد په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې مخکښ افغان توپ اچوونکی دی چې تر اوسه یې په ۹۸ پاټیو کې د توپ اچونې له بهترین ۲۰.۴۸ اوسط او ۴.۲۴ ایکانومي رېټ سره ۱۸۳ ویکټې ترلاسه کړې چې په یوه پاټۍ کې یې تر ټولو غوره توپ اچونه د ۱۸ منډو په بدل کې د ۷ ویکټو ترلاسه کول دي. نوموړي دغه راز تر اوسه شپږ ۴ او څلور ځلې ۵ ویکټې هم ترلاسه کړې دي.

راشد خان د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په خپلو لومړنیو ۴۴ پاټیو کې ۱۰۰ ویکټې ترلاسه کړې دي چې په نړیواله کچه د کمو سیالیو له اړخه د دومره ویکټو ترلاسه کولو نوی ریکارډ و. دغه ریکارډ یا کارنامه که څه هم اوس د یوه نیپالي لوبغاړي له لوري ماته شوې او راشد خان دویم مقام ته ښکته شوی، خو د بشپړ غړیتوب لرونکو لوبډلو له منځه اوس هم دغه ستره کارنامه د راشد خان په نوم ثبت ده. دغه راز د کمو سیالیو له اړخه ۱۵۰ ویکټو ته د رسېدو په کارنامه کې راشد خان د استرالیا له میچل سټارک (۷۷ لوبې) او د پاکستان له پخواني لوبغاړي سقلین مشتاق (۷۸ لوبې) وروسته دریم مقام له ځان سره لري چې ۱۵۰ ویکټو ته په خپله ۸۰مه لوبه کې ورسېد.

د افغانستان د کرکټ دغه ځلانده ستوری په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د نړۍ د تر ټولو کم عمره لوبډلمشر (۱۹ کاله او ۱٦۵ ورځې) ریکارډ هم له ځان سره لري. نوموړی دغه راز دریم کم عمره لوبغاړی دی چې د ۱۸ کلونو او ۱۷۸ ورځو په عمر د نړیوالو یو ورځنیو سیالیو په یوه پاټۍ کې ۵ ویکټې ترلاسه کوي. سربېره پر دې د نوموړي غوره توپ اچونه چې د ۱۸ منډو په بدل کې ۷ ویکټې دي، د نړیوالو یو ورځنیو سیالیو د تر ټولو غوره توپ اچونو په لېست کې څلورم مقام لري.

راشد خان په توپوهنه کې هم ډېر ښه ځلېدلی او تر اوسه یې په ۸۱ پاټیو کې د ۵ نیمه سلیزو او نږدې ۲۰ منډو په اوسط ۱۳۱٦ منډې جوړې کړې چې د ډېرو منډو له اړخه د افغان لوبغاړو په ډله کې اتم مقام له ځان سره لري. نوموړی په اتم پوزېشن د افغانستان لپاره توپوهنه کوي چې ډېری وخت د توپوهنې لپاره د ډېر وخت او یا د ډېرو منډو جوړولو موقع په لاس نه ورځي خو بیا هم راشد خان زیاتره وخت د خپلې چټکې توپوهنې پر مټ د افغان لوبډلې په ګټه مهم وخت کې ښې منډې جوړې کړې چې د لوبډلې لپاره ډېرې ګټورې او اغېزمنې ثابتې شوې دي. د نوموړي په توپوهنه کې ۴۸ شپږیزې هم شاملې دي چې د ډېرو شپږیزو له حسابه د افغان لوبغاړو په ډله کې پنځم مقام له ځان سره لري.

راشد خان دغه راز د لوبې په دې بڼه کې په ډګر ساتنه کې هم ښه ریکارډ لري چې تر اوسه یې ۳۸ کېچونه اخیستي دي او په نړیواله کچه یو له هغو لوبغاړو شمېرل کېږي چې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې له زرو زیاتې منډې او له سلو زیاتې ویکټې لري.

رحمت شاه زرمتي

۱۰۰ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې بشپړې کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه توپوهونکي رحمت شاه زرمتي د افغانستان لپاره ۱۰۰ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې بشپړې کړې. رحمت شاه هم خپله سلمه نړیواله یو ورځنۍ لوبه د ۲۰۲۳م کال د اکتوبر میاشتې په ۱۵مه نېټه د نړیوال جام سیالیو په ترڅ کې د انګلستان پر وړاندې ترسره کړه چې پکې افغان اتلانو له یوې هر اړخیزې لوبې وروسته انګلستان ته د لومړي ځل لپاره ماتې ورکړه.

رحمت شاه زرمتی په ټوله کې له محمد نبي (۱۵٦ لوبې) او اصغر افغان (۱۱۴ لوبې) وروسته دریم افغان لوبغاړی دی چې د هېواد لپاره ۱۰۰ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې پوره کوي. نوموړي د افغانستان لپاره خپله لومړنۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه د ۲۰۱۳م کال د مارچ میاشتې په شپږمه نېټه د متحده عربي اماراتو په شارجه کرکټ لوبغالي کې د سکاټلنډ پر وړاندې کړې وه او اوسمهال (د ۲۰۲۳م کال تر پایه) ۱۰٦ نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ لري.

رحمت شاه زرمتی مخکښ افغان توپوهونکی دی چې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې تر ټولو ډېرې منډې لري. نوموړي تر اوسه په ۱۰۲ پاڼیو کې د ۵ سلیزو او ۲٦ نیمه سلیزو، ۳۱۱ څلوریزو او ۳۸ شپږیزو پر مټ د ۳٦.٦۲ منډو په اوسط؛ ۳۵۸۹ منډې جوړې کړې دي چې د لوبو په دې بڼه کې د افغانستان له اړخه تر ټولو ډېرې دي.

نوموړی دغه راز په ښي لاس لیګ بریک توپ اچونه هم کوي چې تر اوسه یې د افغان لوبډلې په ګټه په ۲۹ پاڼیو کې ۱۵ ویکټې ترلاسه کړې چې تر ټولو غوره توپ اچونه یې، د ۳۲ منډو په بدل کې د ۵ ویکټو ترلاسه کول دي.

حشمت الله شهيدي

په يو ورځنيو نړيوالو سياليو کې

۲۰۰۰

منډې پوره کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې لوبډلمشر حشمت الله شهيدي په يو ورځنيو نړيوالو سياليو کې ۲۰۰۰ منډې بشپړې کړې. نوموړی ۲۰۰۰ منډو ته د رسېدو لپاره په ۷۰ پاڼيو کې ولوبېده او د ۱۸ نيمه سليزو پر مټ يې د ۳۳،۹۲ منډو په اوسط سره دغه کارنامه په خپل نوم ثبت کړه.

حشمت الله شهيدي له رحمت شاه زرمتي (۳۵۸۹)، محمد نبي (۳۲۰۸)، محمد شهزاد (۲۷۲۷)، اصغر افغان (۲۴۲۴) او نجيب الله ځدراڼ (۲۰۶۰) وروسته شپږم افغان لوبغاړی شو چې په يو ورځنيو نړيوالو سياليو کې ۲۰۰۰ منډې جوړوي. حشمت الله د ۲۰۲۳م کال تر پايه په ۷۳ نړيوالو يو ورځنيو سياليو کې لوبېدلی چې د ۱۹ نيمه سليزو پر مټ يې د ۳۴.۱۸ منډو په اوسط سره ۲۰۸۵ منډې کړې او د افغان لوبغاړو په ډله کې د ډېرو منډو له حسابه پنځم مقام لري.

رحمن الله ګربز

په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۰۰۰ منډې پوره کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه پیلیز توپوهونکي رحمن الله ګربز په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ۱۰۰۰ منډې پوره کړې. نوموړي په خپله ۲۷مه پاڼۍ کې د ۵ سلیزو او ۴ نیمه سلیزو پر مټ د۴۰،۲۰ منډو په اوسط د ۱۳م افغان لوبغاړي په توګه دغه کارنامه په خپل نوم ثبت کړه.

ګربز د ۲۰۲۱م کال د جنورۍ میاشتې په ۲۱مه نېټه د متحده عربي اماراتو په ابوظبۍ کې د ایرلنډ لوبډلې پر وړاندې خپله لومړنۍ یو ورځنۍ نړیواله لوبه وکړه چې پکې یې ۱۲۷ منډې جوړې کړې او لومړنی افغان او په نړیواله کچه ۱۶م توپوهونکی شو چې په خپله لومړنۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه کې سلیزه جوړوي.

نوموړي د ۲۰۲۳م کال د جولای میاشتې په اتمه نېټه د بنګله دېش په چټوګرام ښار کې د کوربه بنګالۍ لوبډلې پر وړاندې له ابراهیم ځدراڼ سره یو ځای د ۲۵٦ منډو ملګرتیا وکړه چې د لومړۍ ویکټې لپاره یې د ډېرو منډو له حسابه د افغانستان له اړخه لومړی او په نړیواله کچه ۱۴م مقام خپل کړ. ګربز دغه راز د اګست میاشتې په ۲۴مه نېټه د پاکستان پر وړاندې لوبه کې هم له ابراهیم ځدراڼ سره د ۲۲۷ منډو په ملګرتیا کې هم ښکېل و چې نوموړي پکې د ۳ شپږیزو او ۱۴ څلوریزو پر مټ ۱۵۱ منډې جوړې کړې وې.

د رحمن الله ګربز ۱۵۱ منډې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په یوه پاڼۍ کې د نوموړي تر ټولو ډېرې دي. دغه راز د ویکټ ساتونکي لوبغاړي په توګه د افغان لوبغاړو ترمنځ لومړی او په نړیواله کچه د ویکټ ساتونکو ترمنځ د ډېرو منډو له حسابه ۱۴م مقام لري.

رحمن الله ګربز نړیوال کرکټ خورا ښه پیل کړی او په ډېره لنډه موده کې یې د خپلې بېسارې وړتیا له امله ځان ته ستر نوم پیدا کړی دی. نوموړي په خپلو لومړنیو ۲۳ لوبو کې ۵ سلیزې جوړې کړې او د کمو لوبو له حسابه د ۵ سلیزو جوړونکو لوبغاړو له منځه یې دریم مقام خپل کړ. نوموړی د توپوهنې له خورا عجیبې وړتیا برخمن دی چې پر مټ یې کولی شي چې په راتلونکي کې لا ډېر وځلېږي او د هېواد لپاره ډېر ویاړونه راوړي.

ابراهیم ځدراڼ ۱۰۰۰ منډې پوره کړې

په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې بل تکړه او ځوان پیلیز توپوهونکي ابراهیم ځدراڼ هم په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ۱۰۰۰ منډې پوره کړې. نوموړی په خپلې ۲۴مه پاڼۍ کې د څلور سلیزو او همدومره نیمه سلیزو پر مټ د ۴۷،۸۰ منډو په اوسط سره د ۱۰۰۰ منډو سرحد ته ورسېده او ۱۴م افغان لوبغاړی شو چې دغه کارنامه په خپل نوم ثبتوي.

ابراهیم ځدراڼ به د افغان لوبغاړو په ډله کې ۱۴م لوبغاړی وي چې په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې دومره منډې پوره کوي، خو د افغان لوبغاړو له منځه بیا تر ټولو لومړی مقام هم لري چې په کمو (۲۴) سیالیو کې یې دغه سرحد ته ځان رسولی دی. له نوموړي وړاندې رحمن الله ګربز په ۲۷ او رحمت شاه زرمتي په ۳۱ پاڼیو کې زر منډې جوړې کړې وې چې د افغان لوبغاړو له منځه له نورو مخکې و.

ابراهیم ځدراڼ که څه هم د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو پیل د رحمن الله ګربز په څېر ښه ونکړ او په لومړنیو درې لوبو کې یې په ترتیب سره ۲، ۱۹ او ۵ منډې جوړې کړې، خو په خپله څلورمه لوبه کې یې د زمبابوې په پلازمېنه هرارې کې د کوربه لوبډلې پر وړاندې سلیزه جوړه کړه او ۱۲۱* ناسوځېدلې منډې یې ترسره کړې. ابراهیم له دې پاڼۍ وروسته نور هم ډېر ښه وځلېد او په نورو ۹ پاڼیو کې یې ۳ سلیزې او دوه نیمه سلیزې چې ۹۸ منډې هم پکې شاملې وې، جوړې کړې.

ابراهیم د ۲۰۲۳م کال تر پایه په ۲۸ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې د هېواد استازیتوب کړی چې د ۵ سلیزو او ۵ نیمه سلیزو پر مټ یې د ۵۱،۴۸ منډو په اوسط ۱۲۸۷ منډې جوړې کړې دي. د نوموړي د څه باندې ۵۱ منډو اوسط د افغان لوبغاړو په ډله کې له ټولو لوړ او په نړیواله کچه ۱۰م مقام لري.

د نړیوالو یو ورځنیو سیالیو په یوه پاڼۍ کې د نوموړي تر ټولو ډېرې منډې ۱۶۲ دي چې د ۲۰۲۲م کال د نومبر میاشتې په ۳۰مه نېټه یې د سریلانکا پر وړاندې جوړې کړې. نوموړي په دې پاڼۍ کې د ۱۳۸ بالونو مخه وکړه او د ۱۵ څلوریزو او ۴ شپږیزو پر مټ یې په ۱۱۷،۳۹ سټرایک ریټ ۱۶۲ منډې جوړې کړې چې د افغان لوبغاړو په ډله کې له نورو ټولو ډېرې دي. په دې لېست یا نوملړ کې بیا دویم مقام له رحمن الله ګربز سره دی چې په یوه پاڼۍ کې یې ۱۵۱ منډې جوړې کړې دي.

د ابراهیم ځدراڼ په سلیزو کې لومړۍ د زمبابوې، دویمه او دریمه د سریلانکا، څلورمه د بنګله دېش او پنځمه د استرالیا پر وړاندې ثبت دي. د استرالیا پر وړاندې د نوموړي سلیزه ځکه تاریخي او له نورو ټولو ځانګړې ده چې یو خو یې په نړیوال جام کې دغه کارنامه په خپل نوم ثبت کړه او بل لومړنی افغان لوبغاړی شو چې په نړیوال جام سیالیو کې سلیزه جوړوي. نوموړي په دغه لوبه کې له پیل تر پایه خپله ویکټ له لاسه ورنکړه، په ۱۴۳ توپونو یې د ۸ څلوریزو او ۳ شپږیزو پر مټ ۱۲۹* ناسوځېدلې منډې جوړې کړې او پرته له دې چې خپله ویکټ له لاسه ورکړي، له لوبغالي ووت.

ابراهیم ځدراڼ هم د رحمن الله ګربز په څېر نړیوال کرکټ کې ډېر ښه پیل اخیستی او په کمه موده کې یې د نړیوالو مبصرینو او کرکټ مینه والو پام ځان ته اړولی. ډېری نړیوال مبصرین ابراهیم ځدراڼ ته د افغانستان او نړۍ د کرکټ د راتلونکي ستوري په نظر ګوري او باوري دي چې نوموړی به په راتلونکي کې خپل هېواد ته ډېرې بریاوې او د ځان لپاره ستر نوم او شهرت خپل کړي.

مجیب الرحمن
۱۰۰
په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ویکټې بشپړې کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه ورو توپ اچوونکي مجیب الرحمن په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ۱۰۰ ویکټې پوره کړې. نوموړي د نومبر میاشتې په دریمه نېټه د نړیوال جام سیالیو په ترځ کې د نیدرلنډ پر وړاندې لوبه کې چې د نوموړي ۷۱مه پاڼۍ وه، خپله سلمه ویکټ ترلاسه کړه. مجیب الرحمن اوسمهال (د ۲۰۲۳م کال تر پایه) په ۷۵ سیالیو کې د افغانستان استازیتوب کړی چې په ۷۴ پاڼیو کې یې تر اوسه په ۲۷ اوسط او ۴.۳۲ ایکانومي ریټ ۱۰۱ ویکټې لري چې په یوه لوبه کې یې تر ټولو غوره توپ اچونه د ۵۰ منډو په بدل کې د ۵ ویکټو اخیستل دي.

مجیب الرحمن په ټوله کې له راشد خان (۱۸۳)، محمد نبي (۱٦۲) او دولت ځدراڼ (۱۱۵) وروسته څلورم افغان لوبغاړی دی چې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۰۰ ویکټې پوره کوي. نوموړي د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو په لړ کې د انګلستان پر وړاندې لوبه کې د افغان اتلانو په ګټه بهترینه توپ اچونه وکړه او په خپلو لسو اورونو کې یې د ۵۱ منډو په بدل کې ۳ مهمې ویکټې ترلاسه کړې چې پر مټ یې افغان لوبډلې په یاده لوبه کې ستره بریا خپله کړه او مجیب الرحمن د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

مجیب د ۲۰۱۸م کال د فبروري میاشتې په ۱٦مه نېټه د متحده عربي اماراتو په شارجه کرکټ لوبغالي کې د زمبابوې پر وړاندې د ۵۰ منډو په بدل کې ۵ ویکټې واخیستې او د ۱٦ کلونو او ۳۲۵ ورځو په عمر تر ټولو کم عمره لوبغاړی ونومول شو چې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۵ ویکټې ترلاسه کوي. د کم عمر لرونکو لوبغاړو په ډله کې چې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په یوه لوبه کې یې ۵ ویکټې ترلاسه کړې وي، مجیب الرحمن اوس هم لومړی مقام له ځان سره لري.

د سپنرانو یا ورو توپ اچوونکو لپاره په نوي توپ (بال) توپ اچونه سخت کار دی او ډېر کله هغه وخت توپ اچونه کوي چې بال نسبتاً زوړ شوی وي، خو مجیب الرحمن بیا د ګوتو په شمېر یو له هغو توپ اچوونکو دی چې په نوي توپ خورا ښه توپ اچونه کوي او په دې برخه کې ښه مهارت لري. نوموړي ډېری وخت د افغان لوبډلې په ګټه د سیالو لوبډلو د پیل لوبغاړي وختي له ډګره ویستلي چې ورسره افغان لوبډلې ښه پیل اخیستی دی.

افغان ابدالیانو

د چین په اسیایي سیالیو کې د دریم ځل لپاره هم د سپین زرو مډال وګاټه

افغان ابدالیان (افغانستان کرکټ الف لوبډلې) د دریم ځل لپاره په اسیایي سیالیو کې چې د چین په هانګزو ښار کې ترسره شوې، ګډون وکړ او یو ځل بیا یې د یادو سیالیو پایلوبې ته لاره ومونده چې په پایله کې یې د سپینو زرو مډال وګاټه.

د افغانستان کرکټ بورډ غوراوي ډلې د سپتمبر په ۲۰مه نېټه د چین په هانګزو ښار کې کېدونکو اسیایي سیالیو لپاره د ګلبدین نایب په مشرۍ د افغان ابدالیانو لوبډله اعلان کړه چې په جوړښت کې یې د باتجربه لوبغاړو تر څنګ نویو ځوانانو ته هم موقع ورکړل شوې وه. په لوبډله کې د لوبډلمشر ګلبدین نایب ترڅنګ د توپوهونکو په برخه کې محمد شهزاد (وېکټ ساتونکی)، نورعلي ځدراڼ، زبید اکبري، صدیق اتل، وفی الله تره خېل، افسر ځاځی (ویکټ ساتونکی)، د ټول چارو یا الراونډرانو په برخه کې شاهدالله کمال، کریم جنت او شرف الدین اشرف، په ورو توپ اچوونکو کې قیس احمد او ظاهر خان پکتین، او چټک توپ اچوونکو کې نجات مسعود، فرید ملک او سید شېرزاد ته ځای ورکړل شوی وو.

د اسیایي سیالیو له پیل وړاندې چې ټاکل شوې وه د ۱۵ هېوادونو لوبډلې به پکې ګډون وکړي او دغه راز افغانستان به په ګروپي سیالیو کې د منګولیا په وړاندې ولوبیږي او د بریا وروسته به کوارټر فاینل یا ۸ غوره لوبډلو ته لاره پیدا کړي، خو کله چې بحرین په دې سیالیو کې له لوبېدو پر شا شو نو افغانستان په ۲۰ اوریزه سیالیو کې د غوره مقام د لرلو له کبله وکولای شول، نېغ په نېغه د هندوستان، پاکستان، سریلانکا او بنګله دېش ترڅنګ ۸ غوره لوبډلو پړاو ته لاره ومومي.

په کوارټر فاینل یا ۸ غوره لوبډلو پړاو کې افغان لوبډله د سریلانکا پر وړاندې د سیالۍ ډګر ته ښکته شوه، لومړی یې توپوهنه وکړه او د ټولو ویکټو له لاسه ورکولو وروسته یې سریلانکا ته د ۱۱۷ منډو هدف وټاکه. په دویمه پاڼۍ کې د سرېلانکا ټوله لوبډله په ۱۰۸ منډو له ډګره بهر شوه او په پایله کې یې افغانستان ته د ۸ منډو په توپیر ماتې ومنله. د دې بریا وروسته افغان لوبډله په نیمه پایلوبه کې د پاکستان سره د سیالۍ ډګر ته ښکته شوه. پاکستان لومړی توپوهنه وکړه او د ټولو لوبغاړو په له لاسه ورکولو سره یې افغانستان ته د ۱۱٦ منډو هدف وټاکه چې افغانستان یاد هدف ته په ۱۷.۵ اورونو کې ځان ورساوه او هغوی ته یې په ۴ وېکټو ماتې ورکړه.

له دې دواړو بریاو وروسته افغانستان وکولی شول، د دویم ځل لپاره د اسیایي لوبو پایلوبې ته لاره پیدا کړي. دا ځل افغانستان په پایلوبه کې د پیاوړې لوبډلې هندوستان سره مخ وه، خو د پایلوبې په ورځ که څه هم افغانستان خپله توپوهنه پیل کړې وه تر څو هندوستان ته هدف وټاکي، خو د پرلپسې ورښت له امله لوبه لغوه اعلان شوه او دا چې هند په اسیا کې د ۲۰ اوریزه سیالیو په جدول کې د افغانستان مخکې وو، سیالۍ د هغوی په ګټه اعلان شوه او دې سره افغانستان د یادو سیالیو په لړ کې دویم مقام وګاټه او د دویم ځل لپاره یې افغانستان ته د سپینو زرو مډال راوړ.

د یادونې وړ ده چې افغانستان د دریم ځل لپاره په اسیایي سیالیو کې ګډون وکړ. د دې وړاندې افغانستان په ۲۰۱۰، او ۲۰۱۴ کې هم په یادو سیالیو کې ګډون کړی و او دواړه ځل تر پایلوبې رسیدلي و او د سپینو زرو مډالونه یې ګټلي وو. په ۲۰۱۸ کې یادې سیالۍ نه وې ترسره شوې او دریم پړاو چې ټاکل شوې وه ۲۰۲۲ کال کې تر سره شي، د یو لړ ستونزو له کبله په ۲۰۲۳ کال کې ترسره شو او افغانستان پکې د دریم ځل لپاره هم د سپینو زرو مډال ترلاسه کړ.

همدارنګه په ټوله کې دا د اسیایي لوبو ۱۹م پړاو و او ۱٦ ډوله سیالۍ پکې تر سره شوې. د سپتمبر په ۱۹مه نېټه پیل او د اکتوبر په ۸ نېټه پای ته ورسېدې چې افغانستان پکې د ۸۳ هېوادونو په لیکه کې د ۵ مډالونو (۴ د برونزو او یو د سپینو زرو مډال) په ګټلو ۳۰ مقام وګاټه.

افغان ابدالیان لوبډلې

عمان ته د سیالیو په موخه سفر وکړ

افغان ابدالیان (افغان الف) لوبډلې عمان ته د دوو یو ورځنیو او پنځو ۲۰ اوریزو سیالیو په موخه سفر وکړ، چې په لړ کې یې د یو ورځنیو سیالیو لوبړی د افغان ابدالیانو او د ۲۰ اوریزه سیالیو لوبړی د عمان په ګټه پای ته ورسېده. یادې سیالۍ په لومړي ځل د افغانستان او عمان کرکټ ادارو د مشرتابه د خبرو اترو په پایله کې برابرې شوې، چې د دواړو لوریو د اړیکو په پراختیا کې غوره رول لوبولی شي.

افغان ابدالیانو د یادو سیالیو سفر د اکتوبر میاشتې پر ۱۲مه نېټه د یو ورځنیو لوبو په لوبړۍ سره پیل کړ، چې په پایله کې افغان ابدالیانو یاده لوبړۍ ۰-۲ وګټله. د دغه سیالیو په لومړۍ لوبه کې افغان ابدالیانو د ۲۸ منډو په توپیر سره بریا خپله کړه چې ذبید اکبري، محمد اسحاق رحیمي او عبدالمالک د توپوهنې او همدا راز نوید ځدراڼ د توپ اچونې په برخه کې تر نورو ښه وځلېدل.

د یو ورځنیو سیالیو د لوبړۍ په دویمه لوبه کې افغان ابدالیانو د ۱۵ منډو په توپیر سره د عمان لوبډلې ته ماتې ورکړه چې په پایله کې دغه لوبړۍ ۰-۲ د افغان ابدالیانو په بریا سره پای ته ورسېده. په یاده لوبه کې عبدالمالک او ناصر جمال په توپوهنه او دغه راز وفادار مومند، نوید ځدراڼ او شاهدالله کمال په توپ اچونه کې په زړه پورې سیالۍ ترسره کړې.

د افغان ابدالیانو پیلیز توپوهونکی عبدالمالک په ۱۵۷ منډو د یادو سیالیو تر ټولو مخکښ توپوهونکی و. د افغانستان له لوري په نورو توپوهونکو کې ذبید اکبري ۹۱، اسحاق رحیمي ۷۸ او ناصر جمال ۵۸ منډې جوړې کړې وې. د یادو سیالیو د توپ اچونې په برخه کې بیا نوید ځدراڼ په ۵ ویکټو تر ټولو مخکښ توپ اچونکی و. په نورو توپ اچوونکو کې بیا وفادار مومند ۴، شاهدالله کمال ۳ او ضیاء الرحمن اکبر ۲ ویکټې ترلاسه کړې وې.

همدا راز د پنځو شل اوریزو سیالیو د لوبړۍ په لړ کې د سر څلور سیالۍ د کوربنې عمان او پنځمه سیالۍ د افغان ابدالیانو په ګټه پای ته ورسېده. افغان ابدالیانو په وروستۍ لوبه کې د ۵ ویکټو په توپیر د عمان لوبډلې ته ماتې ورکړې وه. په دغه لوبه کې صدیق اتل او شاهدالله کمال د توپوهنې او وفادار مومند، سلیم ساپی او قیس احمد د توپ اچونې په برخه کې ښه ځلېدلي وو.

د ۲۰ اوریزو سیالیو په لوبلړۍ کې د افغانستان په ګټه شاهدالله کمال ۱۰۵، سمیع الله شینواري ۸۰، صدیق اتل ۷۸ او محمد شهزاد ۷٦ منډې ترسره کړې وې. همدا راز د توپ اچونې په برخه کې وفادار مومند ۸، سلیم ساپي ٦، ظاهر خان پکتین او قیس احمد هر یوه ۵ ویکټې ترلاسه کړې وې.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رئیس ښاغلی میرویس اشرف وایي، د یادو سیالیو څخه زموږ موخه د الف یا ابدالیان لوبډلې مصروف ساتل و، ترڅو په راتلونکې کې په بشپړ ډول چمتو واوسي او د ملي لوبډلې ترڅنګ یوه بله پیاوړې لوبډله ولرو.

د یادونې وړ ده چې د افغان ابدالیان لوبډلې له دې وړاندې د ایمرجېنګ اسیا جام او همدا راز د چین په کوربه توب اسیایي سیالیو کې ګډون کړی و، چې په اسیا ایمرجېنګ جام سیالیو کې یې سریلانکا او عمان لوبډلو ته ماتې ورکړې او د اسیایي لوبو په لړ کې یې پایلوبې ته په رسېدو سره د دریم ځل لپاره د سپینو زرو مډال وګاټه.

استرالیا

د ۲۰۲۳ کال یو ورځنیو سیالیو نړیوال جام اتله شوه

د یو ورځنیو سیالیو د نړیوال جام ۱۳م پړاو چې په ۲۰۲۳ کال کې د هندوستان په کوربه توب د اکتوبر له پنځمې د نومبر تر ۱۹مې نېټې ترسره شو، اتلولي يې د اسټراليا د لوبډلې په نوم شوه. یادې سترې سیالۍ د ۱۰ هېوادونو په ګډون د هندوستان په ۱۰ ښارونو کې د ۴۶ ورځو په موده کې تر سره شوې. انګلستان، نیوزیلنډ، اسټرالیا، هندوستان، سوېلي افریقا، افغانستان، پاکستان، بنګله دېش، سریلانکا او هالنډ یا نیدرلنډ په دغو سیالیو کې ګډون وکړ چې له ډلې يې سريلانکا او هالنډ د غوراوي پړاو سیالیو وروسته یادو سیالیو ته لار ومونده او د افغانستان په ګډون پاتې ۸ لوبډلو وکولی شول په تېرو ۳ کلونو کې په سوپر لیګ سیالیو کې د خپل ښو کارکردګیو او لاسته راوړنو پر مټ نېغ په نېغه یادو سیالیو ته لاره وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د نړیوال جام دوه ځلي اتلولي ګټونکې لوبډلې ویسټ انډیز او بشپړ غړیتوب لرونکو لوبډلو زمبابوې او ایرلنډ ونه شو کولی چې نړیوال جام ته لار بیامومي.
د هندوستان لسو سترو ښارونو او لوبغالو د دغو سترو سیالیو کوربه توب پر غاړه درلود چې احمد اباد، بنګلور، چېنای، درمشاله، حیدر اباد، کلکته، لکهنو، ډيلي، ممبئي او پونې ښارونه پکې شامل وو.

د نړیوال جام د لومړي پړاو سیالۍ چې ټولې ۴۵ لوبې کېدې په راونډ-روبن بڼه ترسره شوې چې هرې لوبډلې پکې نهه سیالۍ ترسره کړې او د ټولو لوبډلو سره یو-یو وار د سیالۍ ډګر ته ښکته شوې. همدارنګه ټاکل شوې وه چې دویم پړاو ته به د جدول ۴ مخکښې لوبډلې لاره پیدا کړي.

د نړیوال جام د لومړي پړاو پیل د دفاعي اتلې لوبډلې انګلستان او دویمې لوبډلې نیوزیلېنډ په سیالۍ د نړۍ تر ټولو ستر لوبغالي د احمد اباد په نریندرا مودي لوبغالي کې وشو چې یاده سیالۍ د نیوزیلېنډ په بریا پای ته ورسېده.

د نړیوال جام د لومړي پړاو وروسته د ټولو لوبډلو د سیالیو پایلې په لاندې ډول دي:

- هندوستان خپلې ټولې سیالۍ وګټلې او په دې لړ کې يې اسټرالیا، افغانستان، پاکستان، بنګله دېش، نیوزیلنډ، انګلستان، سریلانکا، سوېلي افریقا او هالنډ ته ماتې ورکړې او لومړی پړاو يې پرته له کومې ماتې پای ته ورساوه.
- سوېلي افریقا خپلې ۷ سیالۍ وګټلې او ۲ يې وبایللې چې په دې لړ کې يې سریلانکا، اسټرالیا، انګلستان، بنګله دېش، پاکستان، نیوزیلېنډ او افغانستان نه خپلې سیالۍ وګټلې او هالنډ او هندوستان ته يې وبایللې.
- اسټرالیا خپلې ۷ سیالۍ وګټلې او ۲ يې وبایللې چې په دې لړ کې يې سریلانکا، پاکستان، هالنډ، نیوزیلنډ، انګلستان، افغانستان او بنګله دېش نه خپلې سیالۍ وګټلې او هندوستان او سوېلي افریقا ته يې وبایللې.
- نیوزیلنډ خپلې ۵ سیالۍ وګټلې او ۴ يې وبایللې چې په دې لړ کې يې انګلستان، هالنډ، بنګله دېش، افغانستان، او سریلانکا نه خپلې سیالۍ وګټلې او هندوستان، اسټرالیا، سویلي افریقا او پاکستان ته يې وبایللې.
- پاکستان خپلې ۴ سیالۍ وګټلې او ۵ يې وبایللې چې په دې لړ کې يې هالنډ، سریلانکا، بنګله دېش او نیوزیلنډ نه خپلې سیالۍ وګټلې او هندوستان، اسټرالیا، افغانستان، سویلي افریقا او انګلستان ته يې وبایللې.
- افغانستان خپلې ۴ سیالۍ وګټلې او ۵ يې وبایللې چې په دې لړ کې يې انګلستان، پاکستان، سریلانکا او هالنډ نه خپلې سیالۍ وګټلې او بنګله دېش، هندوستان، نیوزیلېنډ، اسټرالیا او سوېلي افریقا ته وبایللې.
- انګلستان خپلې ۳ سیالۍ وګټلې او ٦ يې وبایللې چې په دې لړ کې يې بنګله دېش، هالنډ او پاکستان نه خپلې سیالۍ وګټلې اونیوزیلنډ، افغانستان، سوېلي افریقا، سریلانکا، هندوستان او اسټرالیا ته يې وبایللې.
- بنګله دېش خپلې ۲ سیالۍ وګټلې او ۷ يې وبایللې چې په لړ کې يې د افغانستان او سریلانکا نه خپلې سیالۍ وګټلې او انګلستان، نیوزیلنډ، هندوستان، سوېلي افریقا، هالنډ، پاکستان او اسټرالیا ته يې وبایللې.
- سریلانکلا خپلې ۲ سیالۍ وګټلې او ۷ يې وبایللې چې په دې لړ کې يې د هالنډ او انګلستان نه خپلې سیالۍ وګټلې او سوېلي افریقا، پاکستان، اسټرالیا، افغانستان، هندوستان، بنګله دېش او نیوزیلنډ ته يې وبایللې.
- هالنډ خپلې ۲ سیالۍ وګټلې او ۷ يې وبایللې چې په دې لړ کې يې د سوېلي افریقا او بنګله دېش نه خپلې سیالۍ وګټلې او پاکستان، نیوزیلنډ، سریلانکا، اسټرالیا، افغانستان، انګلستان او هندوستان ته يې وبایللې.



د لومړي پړاو د ترسره کېدو وروسته هندوستان د ۱۸ نمرو، سوېلي افریقا او اسټرالیا د ۱۴،۱۴ نمرو او نیوزیلنډ د ۱۰ نمرو په تر لاسه کولو سره دويم پړاو (نیمه پایلوبو) ته لاره وموندله. د مهالوېش سره سم د نومبر په ۱۵ نېټه د هندوستان او نیوزیلنډ ترمنځ لومړۍ نیمه پایلوبه ترسره شوه چې هندوستان پکې نیوزیلنډ ته د ۷۰ منډو په توپیر ماتې ورکړه. دويمه نیمه پایلوبه بیا د سپتمبر میاشتې په ۱٦مه نېټه د سوېلي افریقا او اسټرالیا تر منځ ترسره شوه چې اسټرالیا پکې سوېلي افریقا ته په ۳ وېکټو ماتې ورکړه.

د یادونې وړ ده چې سویلي افریقا څلور ځلې د یو ورځنیو سیالیو تر نیمه پایلوبې رسېدلې، خو پایلوبې ته يې لاره نه ده موندلې. همدارنګه نیوزیلېنډ بیا اته ځلې نیمه پایلوبې ته او په دې لړ کې يې دوه ځل پایلوبې ته لار موندلې، خو د نړیوال جام په اتلولۍ ګټلو بریالۍ شوې نه ده چې په دې نوملړ کې د تېر ۲۰۱۹ کال نړیوال جام پایلوبه هم شامله ده چېرې چې دوی له انګلستان لوبډلې ماتې وخوړه او سیالۍ د انګلستان په اتلولۍ پای ته ورسېده.

هندوستان بیا پنځه ځلې تر نیمه پایلوبې رسېدلی چې له دې جملې يې څلور ځلې تر پایلوبې لاره موندلې او په دې لړ کې يې دوه ځل د نړیوال جام اتلولي په خپل نوم کړې، چې لومړی ځل يې په ۱۹۸۳ او دويمه ځل يې په ۲۰۱۱ کال کې اتلولي خپله کړې وه او دغه راز يې دوه وار پایلوبه کې ماتې خوړلې چې يو يې په ۲۰۰۳ کال کې او دويم يې په اوسني ۲۰۲۳ کال کې وی چې دواړه ځلې يې ماتې له اسټرالیا خوړلې دي.
اسټرالیا چې د نړیوال جام د اتلولۍ په تاریخ کې تر ټولو مخکښه لوبډله ده ۱۰ وارې تر نیمه پایلوبې رسېدلې چې له ډلې يې اته وارې تر پایلوبې لار موندلې او د روان ۲۰۲۳م کال په ګډون يې شپږ اتلولۍ په خپل نوم کړې، دوه ځلې يې په نیمه پایلوبه او دوه وارې په پایلوبه کې ماتې خوړلې ده.

لاندې جدول کې تاسو تر دې مهاله د نړیوال جام اتلولیو ګټونکو هېوادونو اړوند معلومات لیدلی شئ

هېواد	د اتلولیو شمېر او کلونه
اسټرالیا	٦ ځل (۱۹۷۸، ۱۹۹۹، ۲۰۰۳، ۲۰۰۷، ۲۰۱۵، ۲۰۲۳)
هندوستان	۲ ځل (۱۹۸۳ او ۲۰۱۱)
ویست انډیز	۲ ځل (۱۹۷۵ او ۱۹۷۹)
سریلانکا	۱ ځل (۱۹۹٦)
پاکستان	۱ ځل (۱۹۹۲)
انګلستان	۱ ځل (۲۰۱۹)

د ۲۰۲۳ کال نړیوال جام د افغانستان لپاره له ویاړونو ډک او تاریخي جام و. افغانستان لپاره دا دریم ځل و چې د یو ورځنیو سیالیو په نړیوال جام کې لوبیږي. له دې مخکې افغان اتلان په ۲۰۱۵ کال او ۲۰۱۹ کال نړیوال جامونو کې ګډون کړی و چې په ۲۰۱۵ کې سکاټلنډ ته په ماتې ورکولو سره له یوې بریا او په ۲۰۱۹ کې که څه هم ټې لوبې یې ترسره کړې وې، خو بیا هم پرته له کومې بریا راستانه شوي وو، خو دا ځل په ۲۰۲۳ نړیوال جام کې افغان لوبډلې وکولی شول څلور ستړي بریاوې د افغانستان په نوم کړي چې په دغه څلورو بریاو کې درې هغه یې د نړیوال جام اتلو لوبډلو، دفاعي اتل انګلستان، د ۱۹۹۲ کال اتل پاکستان او د ۱۹۹٦ کال اتلې سریلانکا پر وړاندې او یوه یې د هالنډ پر وړاندې ترلاسه کړه.

ګډون کوونکي او لیدونکي: د ۲۰۲۳ کال یو ورځنیو سیالیو نړیوال جام چې د هندوستان په کوربه توب ترسره شو د لومړي ځل لپاره د کرکټ نړیوالې شورا په تاریخ کې تر ټولو ډېرو لیدونکو او نندارچیانو ګډون وکړ چې شمېر یې ۱،۲۵ ملیون کسانو ته رسېده. د یادونې وړ ده چې تر دې مخکې د ډېرو ګډون کوونکو شمېره ۱،۰۲ ملیونه وه چې د ۲۰۱۵ کال یو ورځنیو سیالیو په نړیوال جام کې ثبت شوې وه چې د اسټرالیا او نیوزیلنډ په کوربه توب ترسره شوی و. همدارنګه د ۲۰۱۹ کال یو ورځنیو سیالیو نړیوال جام چې د انګلستان په کوربه توب ترسره شوی و، یوازې ۷۵۰،۰۰۰ لیدونکو پکې ګډون کړی وو. همدارنګه د ۲۰۲۳ کال یو ورځنیو لوبو سیالۍ بیا ۵۱۸ ملیونه خلکو د تلویزیون په پرده هم ننداره کړې، چې د لیدونکو او ګډون کونکو له حسابه یې ټول پخواني ریکارډونه مات کړل.

جایزې: په یاد نړیوال جام کې د کرکټ نړیوالې شورا له خوا نغدي جایزې په لاندې ډول وې:

د ګروپي پړاو د یوې سیالۍ ګټلو جایزه: (۴۰،۰۰۰) څلوېښت زره امریکایي ډالر
د ګروپي پړاو وروسته حذف شوو لوبډلو جایزه: (۸۰۰،۰۰۰) اته سوه زره امریکایي ډالر
د نیمه پایلوبو بایلونکو لوبډلو جایزه: (۱۰۰،۰۰۰) یو لک امریکایي ډالر
د پایلوبې بایلونکې لوبډلې جایزه: (۲،۰۰۰،۰۰۰) دوه میلونه امریکایي ډالر
د نړیوال جام اتلې لوبډلې جایزه: (۴،۰۰۰،۰۰۰) څلور میلونه امریکایي ډالر

د ۲۰۲۳ کال یو ورځنیو سیالیو نړیوال جام غوره لوبغاړي:

ویراټ کوهلي ـ د نړیوال جام غوره لوبغاړی: د ۲۰۲۳ کال یو ورځنیو سیالیونړیوال جام د لوبلړۍ غوره لوبغاړی ویراټ کوهلي ونومول شو. نوموړي د خپلې غوره توپوهنې پر مټ د خپلې لوبډلې په ګټه ۷٦٥ منډې جوړې کړې وې چې پکې ٦ پنځوسیزې او ۳ سلیزې شاملې وې.
دا هم د کرکټ په تاریخ کې په یوه نړیوال جام کې تر ټولو ډېرې منډې وې، د دې مخکې یاد ویاړ پخواني هندي لوبغاړی سچن ټنډولکر سره و چې هغه په یوه نړیوال جام کې ٦۷۳ منډې جوړې کړې وې.
په یاد نړیوال جام کې یو شمېر نور انفرادي ریکارډونه په لاندې ډول دي:

- تر ټولو ډېرې منډې (۷٦٥): هندي توپوهونکي ویرات کوهلي
- تر ټولو ډېرې ویکټې (۲۴): هندي چټک توپ اچوونکی محمد شامي
- تر ټولو ډېرې سلیزې (۴): افریقایي پیلیز توپوهونکي کوېنټن ډیکاک
- تر ټولو ډېرې پنځوسیزې (٦): هندي توپوهونکی ویرات کوهلي
- تر ټولو ډېرې منډې په یوه لوبه کې (۲۰۱): اسټرالیاوي توپوهونکی ګلېن میکسویل
- تر ټولو ډېرې شپږیزې (۳۱): هندي توپوهونکی روهیت شرما
- تر ټولو ډېرې څلوریزې (٦۸): هندي توپوهونکی ویرات کوهلي
- تر ټولو ډېر کیچونه (۱۱): نیوزیلېنډي ډېرل میچل
- تر ټولو مخکښ وېکټ ساتونکی (۲۰): سویلي افریقایي کوېنټن ډیکاک
- تر ټولو لوړ سټرایک ریټ (۱۵۰،۳۷): اسټرالیاوي توپوهونکی ګلېن میکسویل

یاد نړیوال جام ډېرې نورې کارنامې او ولولې هم له ځانه سره درلودې چې په تړاو به یې په راتلونکو ګڼو کې له تاسو سره معلومات شریک کړو.

د ویراټ کوهلي
یوه بله ستره کارنامه
په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې
سلیزې
AFGHAN CRICKET
افغان کرکټ
۳۸

ویرات کوهلي د کرکټ نړۍ هغه ستوری دی چې تر اوسه یې په خپلې پدیدوي ورتیا او ځلبدا د کرکټ نړۍ روښانه ساتلې ده. د نوموړي په اړه د کرکټ ستر مبصرین وایي چې داسي لوبغاړي په پیړۍ کې یو ځل پیدا کېږي. ځینې نور بیا په اړه وایي چې ویرات د نړۍ تر ټولو غوره توپوهونکی دی او په لوبېدو یې د نړۍ کرکټ ته ستره ښکلا ورکړې ده. ویرات د کرکټ نړۍ د ځوان توپوهونکو لپاره د یوې انګېزې ځای نیولی، هر ځوان لوبغاړی چې کرکټ پیلوي او غواړي چې توپوهونکی جوړ شي نو ښايي له ویرات یې انګېزه اخیستې وي او غواړي به چې د نوموړي په څېر توپوهونکی جوړ شي.

د ویرات کوهلي د ستاینې په موخه سلګونه مبصرینو بېلابېلې ویناوې کړې، خو نوموړي د ځان په اړه وایي چې سختې خوارۍ، محنت او په ځان باور تر دې ځایه رسولی. نوموړی وایي چې یوازې ورتیا لرل بسنه نه کوي بلکه د خپلې ورتیا پېژندل، بیا بیا هڅه او تکرار او خپلې دندې ته ژمن پاتې کېدل یې د بریا او کامیابی ستر رازونه دي.

ویرات کوهلي د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۸م کال کې د نړیوال کرکټ سفر د سریلانکا پر وړاندې په نړیواله یو ورځنۍ لوبه پیل کړ. نوموړي تر اوسه ۲۹۲ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې ترسره کړې چې په ۲۸۰ پاینو کې یې د ۵۰ سلیزو او ۷۲ نیمه سلیزو پر مټ د نږدې ۵۹ منډو اوسط او نږدې ۹۴ ستراېک رېټ سره ۱۳۸۴۸ منډې جوړې کړې دي. د نوموړي ۱۳۸۴۸ منډې په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې په نړیواله کچه له سچن ټېنډولکر (۱۸۴۲۶ منډې) او کمار سنګاکارا (۱۴۲۳۴ منډې) وروسته تر ټولو ډېرې دي.

پخوانی هندي افسانوي لوبغاړي سچن ټېنډولکر په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ۴۹ سلیزې جوړې کړې وې چې د لوبې په دې بڼه کې تر ټولو ډېرې وې. دغه کارنامه یا ریکارډ ویرات کوهلي د تېر نړیوال جام په نیمه پایلوبه کې مات کړ او د پنځوسمې سلیزې په جوړولو سره یې د کرکټ په نړۍ کې یو بله ستره کارنامه په خپل نوم ثبت کړه.

دا کارنامه ځکه ډېره ځانګړې ده چې د ډېرو سلیزو له اړخه د دویم او دریم مقام لرونکو لوبغاړو ترمنځ د ۱۸ سلیزو واټن دی. د هندي لوبډلې بل توپوهونکی روهت شرما په ۳۱ سلیزو سره په دې جدول کې دریم مقام لري. د دویم او دریم مقام ترمنځ له دومره لوی واټنه دا معلومېږي چې ښايي ډېر وخت وروسته هم نور توپوهونکي په دې بریالي نشي چې د ویرات کوهلي د ۵۰ سلیزو ریکارډ ته نږدې شي.

ویرات لس سلیزې د سریلانکا پر وړاندې جوړې کړې چې د یوې لوبډلې پر وړاندې د ډېرو سلیزو جوړولو په جدول کې هم تر ټولو مخکښ دی. نوموړي دغه راز ۹ سلیزې د ویسټ انډیز، ۸ د استرالیا، ٦ د نیوزیلینډ، ۵-۵ د بنګله دېش او سویلي افریقا، ۳-۳ د پاکستان او انګلستان او یوه سلیزه د زمبابوې پر وړاندې جوړه کړې ده.

د ویرات کوهلي په ۵۰ سلیزو کې ۲۷ سلیزې د لوبې په دویمه پاتې کې، د هدف د تعقیب پرمهال ثبت شوې، چې له امله یې د کرکټ نړۍ مبصرین او مینه وال د هدف په تعقیبولو کې د نړۍ تر ټولو غوره توپوهونکی بولي. نوموړي دغه راز په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۷۲ نیمه سلیزې لري او په ټوله کې یې ۱۲۲ ځلې له ۵۰ ډېرې منډې جوړې کړې چې د ډېرو پنځوسیزو له اړخه نهم او ډېر ځلې له ۵۰ ډېرو منډو جوړولو له اړخه په نړۍ کې دویم مخکښ توپوهونکی دی.

د ویرات کوهلي د توپوهنې ۵۸،٦۷ منډو اوسط په نړیواله کچه دریم مقام لري. د هالنډ پخواني لوبغاړي ریان ټېنډېسکاټې ۱۵۴۱ منډې په ٦۷ اوسط سره جوړې کړې، دغه راز د هندی لوبډلې ځوان توپوهونکی شبمن ګېل په ٦۱ اوسط څه باندې دوه زره منډې لري خو د څه له پاسه ۱۳ زره منډو جوړول په دومره لوړ اوسط سره عظیمه کارنامه ده چې جوړول یې لویه خبره ده.

ویرات کوهلي تر اوسه په ترسره کړو ۲۹۲ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ۴۱ ځلې د لوبې غوره لوبغاړی نومول شوی چې له سچن ټېنډولکر (په ۴٦۳ لوبو کې ٦۲ ځلې) او سنت جایاسوریا (په ۴۴۵ لوبو کې ۴۸ ځلې) وروسته دریم مقام لري. دغه راز نوموړی په ۷۱ لوبلړیو کې ۱۱ ځلې د لوبلړۍ غوره لوبغاړی نومول شوی چې دلته هم له سچن ټېنډولکر وروسته چې په ۱۰۸ لوبلړیو کې یې ۱۵ ځلې دغه جایزه ترلاسه کړې، په نړیواله کچه دویم مقام له ځان سره لري.

ویرات کوهلي د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام کې ۱۱ لوبې وکړې چې پکې یې د ۳ سلیزو او ٦ نیمه سلیزو پر مټ د نږدې ۹٦ منډو په اوسط سره ۷٦۵ منډې جوړې کړې چې د یوه لوبغاړي لخوا د نړیوال جام په یوه پړاو کې تر ټولو ډېرې منډې شوې. له نوموړي وړاندې سچن ټېنډولکر د ۲۰۰۳م کال نړیوال جام سیالیو کې ٦۷۳ منډې جوړې کړې وې چې په یوه نړیوال جام کې یې د ډېرو منډو له اړخه لومړی مقام درلود. ویرات کوهلي د دې ریکارډ په ماتولو سره یوه بله ستره کارنامه هم په خپل نوم کړه چې ښايي تر ډېره وخته د ده په نوم وي.

نوموړي تر اوسه درې ځلې په ۲۰۱۲، ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو کې د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو سیالیو د کال د غوره لوبغاړي جایزې ترلاسه کړې دي. نوموړي دغه راز په ۲۰۱۸م کال کې د کرکټ نړیوالې شورا د ټېسټ لوبو د کال غوره لوبغاړی هم ونومول شو. سربېره پر دې نوموړی شپږ ځلې د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو سیالیو او درې ځلې د کرکټ نړیوالې شورا د ټېسټ سیالیو د کال په غوره لوبډله کې ټاکل شوی دی. ویرات کوهلي د کرکټ نړیوالې شورا د لسیزې (۲۰۱۰ - ۲۰۲۰) تر ټولو غوره نارینه لوبغاړی ونومول شو. نوموړي دغه راز د یادې لسیزې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د غوره لوبغاړي جایزه هم ترلاسه کړه. باید ووېل شي چې په نړیوال کرکټ کې خورا نوموتي او تکړه توپوهونکي تېر شوي او لا هم زیات شمېر خورا ښه توپوهونکي په نړیوال کرکټ کې لوبېږي، خو ویرات کوهلي په ټوله کې یو له بهترینو لوبغاړو او په خپل عصر کې تر ټولو غوره توپوهونکی ګڼل کېږي.

ویرات کوهلي تر اوسه په نړیوال کرکټ کې ۲٦۵۳۲ منډې، ۲۰ سلیزې، ۱۳۸ نیمه سلیزې او ګڼ شمېر نورې کارنامې په خپل نوم ثبت کړې او ښايي ډېر کم داسې ریکارډونه پاتې وي چې هلته د ویرات نوم نه وي ثبت شوی. د نوموړي په اړه ویل کېږي چې که ژر له کرکټ سره مخه ښه ونکړي او ۸-٦ کلونو پورې نور هم خپلې لوبې ته دوام ورکړي نو کولی شي چې پاتې ۸ زره منډې او ۲۰ سلیزې جوړې کړي او په نړیوال کرکټ کې د ډېرو (۳۴۳۵۷) منډو او د ډېرو (۱۰۰) سلیزو ریکارډونه هم مات کړي او ډېرې نوې کارنامې په خپل نوم ثبت کړي.

AFGHANISTAN
TOUR OF INDIA
THREE-MATCH T20I SERIES

JAN 11	1ST T20I	MOHALI
JAN 14	2ND T20I	INDORE
JAN 17	3RD T20I	BENGALURU

افغان اتلان د درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو په موخه هند ته سفر کوي

د افغانستان کرکټ ملي لوبډله به د ۲۰۲۴م کال په جنوري میاشت کې هند ته سفر وکړي چیرې به چې افغان اتلان د کوربه لوبډلې پر وړاندې د درو نړیوالو شل اوریزو سیالیو بشپړه لوبلړۍ ترسره کړي.

د دغو سیالیو د مهالوېش له مخې به لومړۍ لوبه د جنوري میاشتې په ۱۱مه نېټه د پنجاب ایالت اړوند د چنډیګړ په موهالي کې ترسره شي. له دې وروسته به دواړه لوبډلې د دویمې لوبې په موخه مادیا پرادېش ایالت ته سفر وکړي او هلته به د همدې میاشتې په ۱۴مه نېټه د اندور په هولکر کرکټ لوبغالي کې د لوبې ډګر ته ښکته شي. دغه راز د افغانستان او هند کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ دریمه لوبه د کارناټاکا ایالت په مرکز، بنګلور ښار کې پلان شوې ده، چې د جنوري میاشتې په ۱۷مه نېټه به ترسره شي.
دا به د افغانستان کرکټ په لنډ تاریخ کې لومړنی ځل وي چې افغان لوبډله د یوې بشپړې دوه اړخیزې لوبلړۍ په موخه هند ته سفر کوي. له دې وړاندې افغان اتلانو د سیالۍ هندۍ لوبډلې پر وړاندې ۵ شل اوریزې نړیوالې لوبې ترسره کړې، خو هرځل په نړیوالو او اسیایي جامونو کې ورسره مخ شوي دي.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي مشر ښاغلي میرویس اشرف په ۲۰۲۳م کال کې د افغان لوبډلې له سیالیو خوښ دی او وایي چې دغه کال د سیالیو د تنظیم او لاسته راوړنو له اړخه د افغان لوبډلې او افغانستان کرکټ بورډ لپاره غوره کال و. د نوموړي په وینا، دوی په دې هڅه کې دي چې لوبډلې ته نورې سیالۍ هم برابرې کړي. ښاغلی اشرف په دې باور دی چې د هند پر وړاندې لوبې د افغان لوبډلې لپاره خورا مهمې دي او هڅه به کوي چې د ښو لوبو او بریاو په خپلولو سره هېوادوالو ته خوښي ورپه برخه کړي.
د یادونې وړ ده چې د هند پر وړاندې له لوبو وړاندې به افغان لوبډله د متحده عربي اماراتو له کوربه لوبډلې سره دوه تمریناتي یو ورځنۍ سیالۍ او درې نړیوالې شل اوریزې لوبې هم ترسره کړي. دغه راز به افغان لوبډله د هند له لوبلړۍ وروسته د ۲۰۲۴م کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو په ګډون د ګڼ شمېر سترو لوبډلو پر وړاندې دوه اړخیزې لوبلړۍ ترسره کړي چې نېټې به یې په نږدې راتلونکي کې له هېوادوالو سره شریکې شي.

DRINK COLD
Super Cold
Cola

AFGHANISTAN
RASHID
19
AFGHANISTAN
IBRAHIM
18
NAVEEN
78
15
AFGHANISTAN

د افغان ټيلي کام DSL انټرنيټ

DSL د افغان ټيلي کام مخابراتي شرکت يو له انټرنيټي خدمتونو څخه دی چې د ډيجيټل ټيليفون د مزي له لارې د ګټې اخستنې وړ دی.
د دې شرکت DSL انټرنيټ خورا ښه کيفيت لري چې خپلو پيرودونکـــو ته مياشتنۍ کڅـــوړې په مختلف سرعت او ظـــرفيت سره په محدوده او نامحدوده توګه پرته له وقفې څخه وړاندې کوي.

افغان Afghan Telecom
پوازینی بشپړ ملي مخابراتي شرکت

333
020 3330333
+93745 111 333
info@afghantelecom.af
www.afghantelecom.af

د DSL انټرنيټ نامحدوده مياشتنۍ کڅوړې

کڅوړې	د کڅوړې ډول	بيــه	د اعتبار موده
1.5 Mbps	1/1	1000 افغانۍ	يوه مياشت
2.5 Mbps	1/1	1500 افغانۍ	يوه مياشت
3.5 Mbps	1/1	2100 افغانۍ	يوه مياشت
6 Mbps	1/1	3250 افغانۍ	يوه مياشت
8 Mbps	1/1	4200 افغانۍ	يوه مياشت
10 Mbps	1/1	5800 افغانۍ	يوه مياشت

د DSL انټرنيټ محدوده مياشتنۍ کڅوړې

کڅوړې	د کڅوړې ډول	بيــه	د اعتبار موده
30 GB	4 Mbps	500 افغانۍ	يوه مياشت
150 GB	6 Mbps	1000 افغانۍ	يوه مياشت
300 GB	8 Mbps	1500 افغانۍ	يوه مياشت
500 GB	9 Mbps	2000 افغانۍ	يوه مياشت
700 GB	10 Mbps	2500 افغانۍ	يوه مياشت

د DSL انټرنيټ شپنۍ نامحدوده کڅوړې

د سهار له 7 څخه د شپې تر 10:59	د شپې له 11 څخه د سهار تر 06:59	بيــه	د اعتبار موده
1.5 Mbps	4 Mbps	1500 افغانۍ	يوه مياشت
2.5 Mbps	6 Mbps	2000 افغانۍ	يوه مياشت
3.5 Mbps	10 Mbps	3000 افغانۍ	يوه مياشت

افغان Afghan Telecom
پوازینی بشپړ ملي مخابراتي شرکت

333
020 3330333
+93745 111 333
info@afghantelecom.af
www.afghantelecom.af

NETHERLANDS
AFGHANISTAN
NABI
7

SMC
Star Medical Complex
ستار میدیکل کمپلکس
Save Health Save Life
Star Medical Complex
ستار میدیکل کمپلکس
Our Services:
General Medicine
Cardiology & Open Heart Surgery
Cath Surgery
(Angiography & Angioplasty)
Endo Urology & Laparoscopy
Nephrology and Hemodialysis
General & Minimal Access Surgery
Orthopedic Surgery
Knee Joint Replacement
Gastroenterology and Hepatology
Neurosurgery
Oncology (Medical and Surgical)
Obs/Gyn Including Infertility Care
Pediatric Medicine & Surgery
Pulmonology
ENT(Ear, Nose, Throat)
Dental Surgery & Orthodontics
Plastic Surgery
24hr Emergency & Trauma Services
+93 (0) 767 27 28 29
+93 (0) 728 27 28 29
info@smc.net.af
starmedicalcomplex1@gmail.com
www.smc.net.af
Between Baraki Square & Parwan -e- du, Kabul- Afg
بین چهارراهی برکی و پروان دو، کابل - افغانستان
Star Medical Complex

د زونونو په کچه د ۲۰۲۳م کال

غازي امان الله خان

لیسټ اې سیالیو هر اړخیز راپور

وخت، ځای او ګډونکې لوبډله:

د زونونو په کچه د غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو شپږم پړاو د اکتوبر میاشتې په ۲۹مه نېټه د ننګرهار ولایت په غازي امان الله خان کرکټ لوبغالي کې پیل شوې چې ۲۳ ورځې یې دوام وکړ او د نومبر میاشتې په ۲۰مه نېټه د بست زون لوبډلې په اتلولۍ پای ته ورسېدې.

د لوبډلو شمېر او د لوبو ځرنګوالی:

د افغانستان د کورني کُرکټ په دغو سترو یو ورځنیو سیالیو کې د هېواد د ۵ بست، امو، بند امیر، سپین غر او مس عینک زونونو اړوند لوبډلو ګډون درلود چې په لومړي پړاو کې یې په «ډبل راونډ روبن» بڼه هرې لوبډلې د نورو ګډون کوونکو لوبډلو پر وړاندې دوه لوبې ترسره کړې، چې په مجموعي توګه هرې لوبډلې ۸ لوبې وکړې او د لومړي پړاو او له ۲۰ لوبو وروسته د امو او بست زون لوبډلو، هرې یوې په پنځو بریاو او ۱۰ نمرو، د دوه مخکښو لوبډلو په توګه د یادو سیالیو پایلوبې ته لاره ومونده، چې له پایلوبې وروسته یې اتله لوبډله په ډاګه شوه.

د لوبډلو جوړښت:

د زونونو په کچه د ۲۰۲۳م کال غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو لپاره په ټولو ګډون کوونکو لوبډلو کې د ملي، الف او نولس کلنې کم عمره ملي لوبډلې د لوبغاړو ترڅنګ د کورني کرکټ غوره لوبغاړي هم شامل وو. د ملي لوبډلې ټول هغه لوبغاړي چې په هېواد کې و، په دغو سیالیو کې د لوبېدو لپاره وټاکل شول. د دې ترڅنګ د افغان ابدالیان (د افغانستان الف) لوبډلې ټول لوبغاړي چې د عمان له سفره هېواد ته راوګرځېدل، هم په بېلابېلو لوبډلو وېشل شوي وو. سربېره پر دې د ملي نولس کلنې لوبډلې یو شمېر لوبغاړي هم د یادو سیالیو په ترڅ کې د بېلابېلو لوبډلو په ګټه ولوبېدل، ترڅو راتلونکو اسیایي او نړیوالو سیالیو ته لا ښه چمتو شي.
د دوی ترڅنګ د کورني کرکټ هغه لوبغاړي چې په تېرو لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنیو او د زونونو په کچه د احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو کې ښه کارکردګي کړې وه، هم دغو سیالیو ته ټاکل شوي و. دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې څانګې اړوند د چټکو توپ اچوونکو د لټون پروګرام ۵ چټک توپ اچوونکي چې د یاد پروګرام په روزنیزو کمپونو کې یې له ځانه ښه وړتیا ښودلې وه، هم دغو سیالیو ته غوره شوي و، ترڅو له روزنیزو او تمریناتو کمپونو وروسته په رسمي سیالیو کې هم ولوبېږي او مهارتونه یې لا زیاته وده وکړي.

ترټولو ډېرې منډې

د بست زون تکړه توپوهونکي درویش رسولي په ۹ پاڼیو کې د دوه سلیزو او درې نیمه سلیزو پر مټ د ۸۲ منډو په اوسط ۴۹۲ منډې جوړې کړې چې په دغو سیالیو کې له ټولو ډېرې وې. په یوه پاڼۍ کې د نوموړي تر ټولو زیاتې منډې ۱۲۲ وې چې د یادو سیالیو په پایلوبه کې یې د امو زون پر وړاندې جوړې کړې.

په یوه پاڼۍ کې ترټولو زیاتې منډې د یوه توپوهونکي لخوا

په یوه پاڼۍ کې تر ټولو ډېرې منډې هم د بست زون لوبډلې د تکړه توپوهونکي درویش رسولي وې، چې د نومبر میاشتې په ۲۰مه نېټه یې د یادو سیالیو په پایلوبه کې د امو لوبډلې پر وړاندې وکړې. نوموړي په ۹۱ توپونو د ۱۳ څلوریزو او ۴ شپږیزو پر مټ په ۱۳۴.۰۶ سټرایک ریټ سره ۱۲۲ منډې جوړې کړې چې د شپږم پړاو غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو په یوه پاڼۍ کې تر ټولو زیاتې یا ډېرې منډې وې. په دې جدول کې دویم مقام هم له درویش رسولي سره دی چې د نومبر میاشتې په ۱۵مه نېټه یې د امو زون پر وړاندې لوبه کې ۱۲۱* ناسوځېدلې منډې جوړې کړې وې.

ډېرې سلیزې

ډېرې سلیزې:
د روان کال په غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو کې په مجموعي توګه ۱۰ سلیزې جوړې شوې چې د بست او امو زون لوبډلو تکړه توپوهونکو درویش رسولي او عبدالمالک هر یوه، دوه سلیزې جوړې کړې او د ډېرو منډو او سلیزو په جدول کې یې لومړي دوه مقامونه خپل کړل.

په یوه پاڼۍ کې ترټولو زیاتې منډې د لوبډلې لخوا

بست لوبډلې د امو زون په وړاندې د زونونو په کچه د غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو د پایلوبې په لومړۍ پاڼۍ کې د ٦ لوبغاړو په زیان سره ۳۳٦ منډې جوړې کړې. د دې لوبډلې لپاره درویش رسولي ۱۲۲، بلال احمد ۸۸، شمس الرحمن چټکي ۳۱*، نعمان شاه هم ۳۱ او احمد ظاهر ۲۷ منډې جوړې کړې وې چې د شپږم پړاو کورنیو لیسټ اې سیالیو په ترڅ کې د یوې لوبډلې لخوا تر ټولو ډېرې منډې دي.

په یوه لوبه کې ترټولو ډېرې منډې د دواړو لوبډلو مجموعي منډې

د ننګرهار ولایت غازي امان الله خان کرکټ لوبغالي کې اکثراً ډېرې منډې نه جوړېږي ځکه د دغه لوبغالي ویشتنځایونه ډېری وخت له چټکو توپ اچوونکو سره ډېره مرسته کوي. د سږکال په سیالیو کې لومړۍ دوه لوبې له غرمې وړاندې یا غرمه مهال پای ته ورسېدې، لومړۍ لوبه کې یوې لوبډلې یوازې ۱۰۷ منډې جوړې کړې، خو بلې هم په اسانه پوره نکړې او د ۷ لوبغاړو په زیان یې هدف ترلاسه کړ. دویمه لوبه کې بیا د سپین غر زون لوبډلې د بند امیر زون د ۳۷ منډو کم هدف په پوره کولو کې خپل ۵ لوبغاړي له لاسه ورکړل. که څه هم د کمو منډو جوړېدو لوی لامل د لوبو وختي پیلېدل و، خو دا چې د غازي امان الله خان کرکټ لوبغالي ویکټې په عادي وختونو کې هم له توپ اچوونکو سره مرسته کوي نو د منډو په نه جوړېدو کې یې د وختي پیل ترڅنګ خپله ونډه هم ادا کړې وه.

له دې وروسته د دغو سیالیو تخنیکي کمېټې پرېکړه وکړه چې د ورځو د لنډوالي له امله دې لوبې ۴۵ اوریزې شي او باید په معیاري وخت ۹ بجو پیل شي، ترڅو د دواړو لوبډلو لپاره د ګټې او زیان انډول وساتل شي. له دې وروسته لوبډلې په دې بریالۍ شوې چې ډېرې منډې جوړې کړي او لوبه تر ناوخته وغځېږي.

د زونونو په کچه د ۲۰۲۳م کال غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو په یوه لوبه کې تر ټولو ډېرې منډې، چې د دواړو لوبډلو لخوا په ټولیزه توګه جوړې شوې، ۵۷۰ منډې وې چې د امو او بست لوبډلو ترمنځ لوبه کې ترسره شوې. دغه لوبه د نومبر میاشتې په ۱۵مه نېټه ترسره شوه چې پکې د امو زون لوبډلې په ټاکل شویو ۴۵ اوړونو کې د لوبډلمشر عبدالمالک د سلیزې او اعجاز احمد احمدزي د ٦۲ منډو پر مټ د ٦ لوبغاړو په زیان ۲۸۷ منډې جوړې کړې. دغه هدف که څه هم بست زون لوبډلې ترلاسه نکړ، خو د درویش رسولي د سلیزې پر مټ یې ۲۸۳ منډې جوړې کړې او یوازې د ۴ منډو په توپیر یې ماتې ومنله. په دغه جدول کې دویم مقام کې ډېرې منډې ۵۴۳ دي چې همدې دوه لوبډلو د یادو سیالیو په پایلوبه کې جوړې کړې.

د ډېرو منډو ملګرتیا

د امو لوبډلې ځوان توپوهونکو عبدالمالک او اعجاز احمد د روان کال د کورنیو لېسټ اې سیالیو په ترڅ کې تر ټولو لوړه او د ډېرو منډو ملګرتیا وکړه. دواړو لوبغاړو د نومبر میاشتې په اوومه نېټه د بند امیر لوبډلې پر وړاندې لوبه کې د دریمې وېکټې لپاره په ګډه ۲۰۵ منډې جوړې کړې. په دې ملګرتیا کې دواړو لوبغاړو ۲۰۱ توپونه ولوبول چې له منځه یې اعجاز احمد ۱۰۲ او عبدالمالک ۹۳ منډې جوړې کړې.

ترټولو ډېرې ویکټې

د بست زون لوبډلمشر او تکړه چټک توپ اچوونکي یمین احمدزي په ۹ پاڼیو کې په ۱۶،۷۶ اوسط او ۴،۹۳ ایکانومي ریټ سره ۲۱ ویکټې ترلاسه کړې او د یادو سیالیو تر ټولو غوره توپ اچوونکی ونومول شو. نوموړي په یادو سیالیو کې یو ځلې ۵ ویکټې هم ترلاسه کړې او په یوه لوبه کې یې تر ټولو غوره توپ اچونه د ۳۴ منډو په بدل کې د ۵ ویکټو ترلاسه کول و.

په یوه پاڼۍ کې ترټولو ډېرې ویکټې

د یوه توپ اچوونکي لخوا

د سپین غر زون تکړه ښي لاسي چټک توپ اچوونکي محمد ابراهیم عبدالرحیمزي د زونونو په کچه د غازي امان الله خان لېسټ اې سیالیو په ترڅ کې د بند امیر لوبډلې پر وړاندې لوبه کې بهترینه توپ اچونه وکړه او د سیالې لوبډلې ۷ لوبغاړي یې له ډګره ووېستل. د ۲۲ منډو په بدل کې د ۷ ویکټو ترلاسه کول نه یوازې د ابراهیم عبدالرحیمزي د لوبیز ژوند تر ټولو غوره توپ اچونه وه، بلکې د دغو لېسټ اې سیالیو په ترڅ کې هم تر ټولو ډېرې ویکټې وې چې په یوه پاڼۍ کې د یوه لوبغاړي لخوا اخیستل کېږي.

تر ټولو ډېر کیچونه

د بست زون ځوان الراونډر ننګیال خروټي د یادو سیالیو په ترځ کې تر ټولو ډېر کېچونه ونیول. نوموړي په ۹ پاینو کې په مجموعي توګه ٦ کېچونه نیولي دي چې په یوه پاینی کې یې تر ټولو ډېر ۲ کېچونه دي.

تر ټولو غوره لوبغاړی

د امو لوبډلې لوبډلمشر او تکړه پیلیز توپوهونکی عبدالمالک چې په ښې لاس د خورا ښې توپوهنې ترڅنګ مناسبه اف بریک توپ اچونه هم کوي، په ۴۰۷ منډو او ۳ ویکټو د روان کال زونونو په کچه غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو تر ټولو غوره لوبغاړی ونومول شو. نوموړي په توپوهنه کې د دوه سلیزو او دوه نیمه سلیزو پر مټ د ۵۰،۸۷ منډو په اوسط سره ۴۰۷ منډې جوړې کړې چې د غوره توپوهونکو په لیکه کې یې هم دویم مقام خپل کړی و.

مخکښ ویکټ ساتونکی

د امو زون ویکټ ساتونکی عبدالهادي په یادو سیالیو کې له ټولو مخکښ و چې په ویکټ ساتنه کې یې له نورو ډېر ۱۲ کېچونه نیولي دي. نوموړي په ٦ پاینو کې ویکټ ساتنه وکړه چې پکې یې ۱۲ کېچونه ونیول، خو د هیڅ سټمپ موقع یې ترلاسه نکړه او د ویکټ ساتونکو په لیسټ کې یې لومړی مقام خپل کړ.

د سیالیو تر ټولو ځوان لوبغاړی

د بست زون تکړه ځوان توپوهونکی محمد اسحق چې ښه ویکټ ساتنه هم کوي، د زونونو په کچه د غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو تر ټولو ځوان لوبغاړی ونومول شو. نوموړي په ۹ پاینو کې د ۲ نیمه سلیزو پر مټ د ٦۰ منډو په اوسط سره ۳۰۰ منډې جوړې کړې. دغه راز یې په ویکټ ساتنه کې هم له ځانه ښه ورتیا ونبوده، په ۹ پاینو کې یې ٦ کېچونه ونیول او ۲ سټمپونه یې ترسره کړل چې پر مټ یې د دغو سیالیو تر ټولو ځوان لوبغاړی ونومول شو.

د سیالیو غوره لوبډله

د ۲۰۲۳م کال زونونو په کچه غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو په لړ کې ګن شمېر لوبغاړو خورا ښې لوبې ننداري ته وړاندې کړې. د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې د یوه نوي نوښت په ترڅ کې له کورني کرکټ څانګې په همغږۍ د د دغو سیالیو له غوره ځلېدونکو لوبغاړو دولس کسیزه لوبډله جوړه کړه چې پکې شپږ توپوهونکي، درې الرونډر لوبغاړي او درې توپ اچوونکي شامل و.

یمین احمدزی چې په خپله لوبډلمشرۍ کې د بست زون لوبډله یې اتلولۍ ته ورسوله، د یادو سیالیو د غوره لوبډلې لوبډلمشر هم غوره شوی دی. د نوموړي ترڅنګ په نورو لوبغاړو کې د امو زون عبدالمالک او د بست زون نعمان شاه پیلیز توپوهونکي، د سپین غر زون بهیر شاه محبوب او د بست زون درې تکړه توپوهونکي درویش رسولي، بلال احمد او محمد اسحق (ویکټ ساتونکی) د منځنی برخې توپوهونکي، د بند امیر لوبډلې لوبغاړی کریم جنت او د بست زون بل لوبغاړی ننګیال خروټی الراونډر، د بند امیر زون چټک توپ اچوونکی بلال سمیع او د مس عینک زون ورو توپ اچوونکی ظاهر خان شامل دي.

۱: عبدالمالک (امو زون): د امو زون لوبډلمشر عبدالمالک په ۹ پاینو کې د دوه سلیزو او دوه نیمه سلیزو پر مټ د ۵۰.۸۷ منډو په اوسط ۴۰۷ منډې جوړې کړې چې د غوره توپوهونکو په لیکه کې یې دویم مقام درلود، د لومړي پیلیز توپوهونکي په توګه یې دغه لوبډله کې ځای خپل کړ.

۲: نعمان شاه (بست زون): د بست زون ځوان پیلیز توپوهونکي نعمان شاه هم په دغو سیالیو کې خورا ښې لوبې ننداري ته وړاندې کړې. نوموړي په ۸ پاینو کې یوې سلیزې پر مټ د ۳۷.۴۲ منډو په اوسط سره ۲٦۲ منډې جوړې کړې وې، چې د نورو پیلیزو توپوهونکو له منځه تر ټولو ډېرې وې، له همدې امله د سیالیو په غوره لوبډله کې د دویم پیلیز توپوهونکي په توګه وټاکل شو.

۳: بهیر شاه محبوب (سپین غر زون): سپین غر لوبډلې که څه هم په دغو سیالیو کې د تمې خلاف ښې لوبې ونکړې، خو دغه سیالۍ بیا د یادې لوبډلې تکړه توپوهونکي بهیر شاه لپاره له خونده ډکې وې چې پکې نوموړي خورا ښه ځلېده. بهیر په ۸ پاینو کې د ۳ نیمه سلیزو پر مټ د ۴۵،۱۴ منډو په اوسط سره ۳۱٦ منډې جوړې کړې او د خپلې ښې توپوهنې پر مټ یې د یادو سیالیو په غوره لوبډله کې ځای کره کړ.

۴: درویش رسولي (بست زون): د بست زون تکړه لوبغاړي درویش رسولي د دغو سیالیو تر ټولو غوره توپوهونکی و. نوموړي په څلورم نمبر د خپلې لوبډلې لپاره بهترینه توپوهنه وکړه او په ۹ پاینو کې د ۲ سلیزو او درې نیمه سلیزو پر مټ د ۸۲ منډو په اوسط ۴۹۲ منډې جوړې کړې چې د خپلې لوبډلې په اتلولۍ کې یې ستره ونډه درلوده، له همدې امله د سیالیو په غوره لوبډله کې هم د مخکښ توپوهونکي په توګه وټاکل شو.

۵: بلال احمد (بست زون): د بست زون بل تکړه توپوهونکی بلال احمد چې د خپلې لوبډلې په اتلولۍ کې یې اغېزمن رول درلود، د پنځم توپوهونکي په توګه د سیالیو غوره لوبډلې ته لاره موندلې ده. نوموړي په ۸ پاینو کې د یوې سلیزې او یوې نیمه سلیزې پر مټ د ۴۵.٦٦ منډو په اوسط سره ۲۷۴ منډې جوړې کړې. بلال د یادو سیالیو په پایلوبه کې ۸۸ منډې جوړې کړې او له درویش رسولي سره یې خورا ښه ملګرتیا وکړه چې پر مټ یې بست زون لوبډلې امو زون ته د ۳۳۷ منډو ستر هدف وټاکه او د یادو سیالیو اتلولي یې خپله کړه.

٦: محمد اسحاق – ویکټ ساتونکی (بست زون): د بست زون تکړه ځوان توپوهونکی محمد اسحاق د غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو په ۹ پاینو کې د ۲ نیمه سلیزو پر مټ د ٦۰ منډو په اوسط سره ۳۰۰ منډې جوړې کړې، په ویکټ ساتنه

کې يې ٦ کېچونه ونيول او ٢ سټمپونه يې ترسره کړل چې هم يې د دغو سياليو د تر ټولو خوان لوبغاړي جايزه ترلاسه کړه او هم د سياليو غوره لوبډلې کې د شپږم شمېره توپوهونکي په توګه وټاکل شو چې د ويکټ ساتنې دنده به يې پر غاړه وي.

٧: کريم جنت (بند امير زون): د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه الروندر لوبغاړی کريم جنت په غازي امان الله خان لېسټ اې سياليو کې د بند امير زون لوبډلې په ګټه لوبېده. نوموړي په توپوهنه کې د يوې نيمه سليزې پر مټ ۲۱۹ منډې جوړې کړې او په توپ اچونه کې يې ۱۳ ويکټې ترلاسه کړې چې د خپلې هر اړخيزې کارکردګی له وجې د سياليو غوره لوبډله کې وټاکل شو.

۸: ننګيال خروټی (بست زون): د بست زون ځوان الروندر ننګيال خروټی چې په چپ لاس ورو توپ اچونه او په همدې لاس خورا بنه توپوهنه کوي، د زونونو په کچه د غازي امان الله خان جام سياليو يو له غوره لوبغاړو و. نوموړي په توپ اچونه کې ۱۵ ويکټې ترلاسه کړې او هم يې په توپوهنه کې د ۴۹ منډو په اوسط ۱۴۷ منډې جوړې کړې وې. د توپوهنې او توپ اچونې ترڅنګ ننګيال خروټي په ډګر ساتنه کې هم تر ټولو مخکښ و چې د يادو سياليو په ترڅ کې يې له ټولو ډېر ٦ کېچونه ترلاسه کړي و.

۹: يمين احمدزی – لوبډلمشر (بست زون): د بست زون لوبډلمشر يمين احمدزي لپاره د زونونو په کچه د غازي امان الله خان جام سيالۍ خورا يادګاري وې ځکه چې هم يې په خپله لوبډلمشرۍ کې لوبډله اتلولۍ ته ورسوله او هم د دغو سياليو تر ټولو غوره توپ اچونکی ونومول شو. نوموړي په ۹ پاينو کې په ۱٦،۷٦ اوسط او ۴،۹۳ ايکانومي رېټ سره ۲۱ ويکټې ترلاسه کړې او د غوره توپ اچونکي د جايزې خپلولو ترڅنګ د سياليو د غوره لوبډلې لوبډلمشر هم وټاکل شو.

۱۰: بلال سميع (بند امير زون): د بند امير زون ځوان نبي لاسي چټک توپ اچوونکي بلال سميع د روان کال په لېسټ اې سياليو کې خورا نبي لوبي وکړې. نوموړي په ۷ پاينو کې په ۱۸.۲۲ اوسط او ۴.۹۳ ايکانومي رېټ سره ۱۸ ويکټې واخيستې او د غوره توپ اچوونکو په ډله کې يې دويم مقام خپل کړ چې له امله يې د دويم چټک توپ اچوونکي په توګه د يادو سياليو غوره لوبډلې ته لاره ومونده.

۱۱: ظاهر خان (مس عينک زون): مس عينک زون لوبډلې که څه هم د يادو سياليو د نمراتو په جدول کې له ټولو وروسته پاتې شوه او له ۸ سياليو يې يوازې په ۳ هغو کې برياوې خپلې کړې، خو د يادې لوبډلې چپ لاسي ورو (چاينه مبن) توپ اچوونکي ظاهر خان له ځانه ښه ورتيا ونښوده او په ۷ پاينو کې يې ۱۴ ويکټې ترلاسه کړې چې د دويم ورو توپ اچوونکي په توګه د سياليو غوره لوبډلې کې وټاکل شو.

د دغو ۱۱ لوبغاړو ترڅنګ يو بل لوبغاړی چې له ځانه يې خورا ښه ورتيا ونښوده، د بست زون لوبډلې الراونډر شمس الرحمن و، چې د يوې نيمه سليزې پر مټ يې ۱۵٦ منډې جوړې کړې او هم يې په توپ اچونه کې ٦ ويکټې ترلاسه کړې وې چې د ورو توپ اچونکي الراونډر لوبغاړي په توګه د سياليو په غوره لوبډله کې د ۱۲م لوبغاړي په توګه ټاکل شوی دی.

په دغه لوبډله کې د ۱۲م لوبغاړي په شمول ۹ داسې لوبغاړي دي چې پوره توپوهنه کولی شي، دغه راز دري چټک توپ اچوونکي او ۴ ورو توپ اچوونکي شامل دي. په ورو توپ اچوونکو کې اف بريک، چپ لاسی ورو توپ اچوونکي او چپ لاسی چاينه مبن توپ اچوونکي چې د مروند په مرسته توپ اچونه کوي، شامل دي.

مالي ملاتړي

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۳م کال زونونو په کچه غازي امان الله خان جام لېسټ اې سياليو لپاره له ګڼ شمېر مالي ملاتړ کوونکو کمپنيو سره تړونونه لاسليک کړل. د افغانستان نوموتي ملي شرکت سوپرکولا ته د يادو سياليو د مخکښ مالي ملاتړ حقوق ورکړل شوي و چې له مخې يې د ياد شرکت د اکس بول انرژۍ نښان د ټولو ګډون کوونکو لوبډلو د تمريناتو او لوبو د لباسونو په مخه، له سينې لاندې د لباس په مرکزي برخه ولګېد.

دغه راز د افغانستان مخکښې مخابراتي شبکې اتصالات افغانستان ته د يادو سياليو د مرستيال مالي ملاتړ حقوق ورکړل شول چې د تړون له مخې د ياد شرکت نښان د ګډون کوونکو لوبډلو د لوبو لباس د شا په پورتنۍ برخه، د لوبغاړي له نوم پورته، وکارول شو. سربېره پر دې د افغانستان کرکټ بورډ او هندي ډافا نيوز کمپنۍ د تړون په اساس د يادو پاورډ-باي مالي ملاتړ حقوق دغې کمپنۍ ته ورکړل شول چې نښان يې د سياليو په عمومي لوګو يا نښان کې وکارول شو.

د دې ترڅنګ سټار روغتيايي مرکز او افغان ټيليکام شرکت چې هر يو يې د دوه اړخيزو اوږدمهاله تړونونو په اساس د افغانستان کرکټ بورډ د روغتيايي او ټکنالوژۍ برخې همکاران دي، هم په دغو سياليو کې له افغانستان کرکټ بورډ سره په اړونده برخه کې همکاري درلوده. له پورته ذکر شويو ټولو کورنيو او بهرنيو شرکتونو سره د لنډمهاله او اوږدمهاله تړون له مخې د يادو شرکتونو نښان د غازي امان الله خان جام لېسټ اې سياليو د ګډون کوونکو لوبډلو په لباسونو او د دغو سياليو په عمومي لوګو کې د لګېدو سربېره په غازي امان الله خان کرکټ لوبغالي کې هم لوحې، اعلانات او نښانونه نصب شوي و. دغه راز د افغانستان ملي راډيو تلويزيون د ملي سپورت برخې نښان چې د دغو سياليو د ژوندي خپراوي حقوق يې خپل کړي و، هم په لوبغالي کې لګېدلی و چې هم يې لوبغالي ته ښکلا وربخښلې وه او هم د يادو سياليو له لارې دغو شرکتونو ته د بازارموندنې غوره فرصت برابر کړی و.

په دې سره د افغانستان کرکټ بورډ د زونونو په کچه د ۲۰۲۳م کال غازي امان الله خان لېسټ اې سياليو لپاره په ټوله کې ۳ مالي ملاتړي او په بېلابېلو برخو کې ۴ همکاران درلودل چې په دې سياليو کې يې د افغانستان کرکټ بورډ سره ګډ کار وکړ.

پروډکشن او رسنیز حقوق

د افغانستان کرکټ بورډ د یوه ځانګړي اقدام له مخې د زونونو په کچه د ۲۰۲۳م کال غازي امان الله خان جام ټولې سیالۍ په ژوندۍ بڼه نشر شوې. دا د دغو سیالیو په تاریخ کې لومړی ځل و چې ټولې ۲۱ سیالۍ په ژوندۍ بڼه نشرېږي. د یادو سیالیو د نشراتي تولید لپاره د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې د اداري له نورو اړوند څانګو سره د ګډې همغږۍ په ترڅ کې له ګڼ شمېر پروډکشن کمپنیو سره اوږدې خبرې اترې وکړې چې په پایله کې یې د افغانستان له ملي راډیو تلویزیون سره د یادو سیالیو د تولید او رسنیزو حقوقو تړون وکړ چې له مخې یې دغه سیالۍ په ۱۰ کامرو تولید او په ژوندۍ بڼه نشر کړې.

د سیالیو رسمي خپروونکي چېنلونه

د ۲۰۲۳م کال زونونو په کچه د غازي امان الله خان لېسټ اې سیالۍ په افغانستان کې د افغانستان ملي راډیو تلویزیون اړوند له ملي سپورټ چېنل، د ملي سپورټ د فېسبوک پاڼې او د افغانستان کرکټ بورډ د یوټیوب چېنل له لارې په ژوندۍ بڼه نشر شوې. د دې ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ او ډافا نیوز شرکت ترمنځ د تړون له مخې دغه سیالۍ په هند کې د فېن کوډ(Fancode) له لارې هم په ژوندۍ بڼه نشر شوې.

د ټولنیزو رسنیو پراخ پوښښ

د تلویزیوني سرچینو له لارې د ژوندي نشراتو ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ په خپلو ټولنیزو رسنیو هم یادو سیالیو ته غوره رسنیز پوښښ ورکړ چې د سیالیو له پیله وړاندې د لوبډلو د چمتووالي او تمریناتو انځورونه او ویډیوګانې، د لوبغاړو، روزونکو او اړوند تخنیکي کسانو مرکې، د یادو سیالیو پرومو او نور موارد په منظم ډول نشر او یادو سیالیو ته په خورا ښه توګه کمپاین وشو. دغه راز د سیالیو په لړ کې د لوبغاړو انځورونه، ویډیویي کلیپونه، د غوره لوبغاړو تازه مرکې، د روزونکو مرکې او خبرې اترې هم په خورا ښه ډول نشر شوې. دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ د رسمي فېسبوک پاڼو د ژوندۍ خپرونو له لارې هم د یادو سیالیو له غوره ځلېدونکو لوبغاړو او د لوبډلو روزونکو سره د سیالیو په اړه هر اړخیز بحثونه وشول چې د سیالیو په رسنیز پوښښ کې یې خپل رول اداء کړ.

سربېره پر دې د افغانستان له ملي راډیو تلویزیون سره د تړون له مخې د یادو سیالیو بشپړ او دغه راز د هر لوبغاړي د غوره کارکردګۍ جلا ویډیویي کلیپونه چې پکې پنځوسیزې، سلیزې او له درې-څلورو ډېرې ویکټې شاملې وې، هم په منظمه او هم مهالي توګه د افغانستان کرکټ بورډ د یوټیوب چینل له لارې نشر شول چې د لیدونکو له پراخ هرکلي سره مخ شول.

د سیالیو د اتلولۍ جام

د افغانستان کرکټ بورډ د غازي امان الله خان جام لېسټ اې سیالیو جام له دوه ډوله توکو جوړ کړی و. د دغه جام په تنه کې د کونړ ولایت مشهور لرګی کارول شوی و او په سر یې د کرکټ لوبې توپ چې له افغاني لاجوردو جوړ شوی و، هم دغه جام ته ځانګړې ښکلا وربخښلې وه.

د یادو سیالیو له پایلوبې وړاندې د دغو سیالیو جام ته هم خورا ښه رسنیز پوښښ ورکړل شو. د کابل-جلال اباد لویې لارې په اوږدو کې د ماهیپر، سروبي ولسوالۍ، د لغمان ولایت د علي خان کڅ سیمې په لرګین پل او د جلال اباد ښار اړوند د درونټې برېښنا بند په څېر ښکلو سیمو کې یې انځورونه واخیستل شول او د افغانستان کرکټ بورډ له ټولنیزو رسنیو خپاره شول چې د مینه والو له پراخ هرکلي سره مخ شول. دغه راز یاد جام د امو او بست زون لوبډلو له لوبډلمشرانو سره چې د یادو سیالیو پایلوبې ته یې لاره موندلې وه، یوځای د ننګرهار پوهنتون ته یوړل شو او د یاد پوهنتون د زراعت پوهنځي، ناکامورا پارک او نورو بېلابېلو برخو کې ننداري ته وړاندې شو. سربېره پردې د یادو سیالیو جام د ننګرهار ولایت مقام ته هم یوړل شو چې د ننګرهار ولایت تاریخي شاهي ماڼۍ مخې ته یې انځورونه واخیستل شول. د دې ترڅنګ د جلال اباد ښار په پښتونستان واټ کې هم د مینه والو ترمخه ننداري ته وړاندې شو چې د ګڼ شمېر ښاریانو له پراخ هرکلي سره مخ شو.

د نولس کلنو لوبغاړو نړیوال جام سیالۍ پیلېږي

ICC U19 MEN'S CRICKET WORLD CUP SOUTH AFRICA 2024

AFGHANISTAN FIXTURES

WARMUP MATCHES

SUN, JAN 14, 2024	AFG	V	ENG	ST STITHIANS JOHANNESBURG
TUE, JAN 16, 2024	AFG	V	SA	BRAAMFISCHER OVAL JOHANNESBURG

GROUP MATCHES

SAT, JAN 20, 2024	AFG	V	PAK	BUFFALO PARK, EAST LONDON
TUE, JAN 23, 2024	AFG	V	NZ	BUFFALO PARK, EAST LONDON
FRI, JAN 26, 2024	AFG	V	NEP	BUFFALO PARK, EAST LONDON

SUPER SIX STAGE

TUE, JAN 30 - SAT, FEB 03

SEMI-FINALS

TUE, FEB 06 - FRI, FEB 09

FINAL

SUN, FEB 11

GROUP D

AFGHANISTAN
PAKISTAN
NEW ZEALAND
NEPAL

Super Cola

#FUTURESTARS | #U19WORLDCUP

د کرکټ نړیوالې شورا اړوند د نولس کلنو لوبغاړو پنځلسم پړاو نړیوال جام سیالۍ پیلېږي. دغه سیالۍ له دې وړاندې د سریلانکا په کوربه توب پلان شوې وې، خو د کرکټ نړیوالې شورا له لوري د یو شمېر ستونزو له امله یاد هېواد د غړیتوب ځنډولو وروسته د دغو سیالیو کوربه توب سوېلي افریقا ته ورکړل شو.

د مهالوېش له مخې به دا ستري سیالۍ د ۲۰۲۴م کال د جنوري میاشتې په ۱۹مه نېټه د زمبابوې او سریلانکا لوبډلو ترمنځ په لوبه پیل شي چې د یاد هېواد په پنځو بېلابېلو لوبغالو کې به د فبروري میاشتې تر ۱۱مې دوام ومومي. په دغو سیالیو کې ۱٦ لوبډلې ګډون لري چې په څلورو بېلابېلو ګروپونو وېشل شوې دي. د دغو سیالیو په لومړي ګروپ کې هند، بنګله دېش، ایرلنډ او امریکا، په دویم ګروپ کې انګلستان، سویلي افریقا، ویسټ انډیز او سکاټلنډ، په دریم ګروپ کې استرالیا، سریلانکا، زمبابوې او نمیبیا او په وروستي ګروپ کې افغانستان، نیوزیلنډ، نیپال او پاکستان لوبډلې ځای پر ځای شوې دي.

د دغو سیالیو له اصولو سره سم به هره لوبډله په ګروپي پړاو کې درې لوبې ترسره کړي چې د هر ګروپ درې غوره لوبډلې به د ٦ غوره لوبډلو پړاو ته لاره ومومي. په ٦ غوره پړاو کې به د لومړي ګروپ لوبډلې د وروستي ګروپ او د دویم ګروپ لوبډلې به د دریم ګروپ له لوبډلو سره لوبې ترسره کړي. په دې پړاو کې به هم هره لوبډله دوه لوبې وکړي چې له منځه به یې څلور غوره لوبډلې د نیمه پایلوبو پړاو ته لاره ومومي. د نیمه پایلوبو ګټونکې دوه لوبډلې به پایلوبې ته لاره ومومي چې ګټونکې لوبډله به یې د ۲۰۲۴م کال د نولس کلنو کم عمره لوبغاړو اتله لوبډله وبېژندل شي.

د یادو سیالیو د مهالوېش سره سم به افغان نولس کلنه کم عمره ملي لوبډله خپله لومړۍ لوبه د جنوري میاشتې په ۲۰مه نېټه د پاکستان پر وړاندې ترسره کړي. دغه راز به د همدې میاشتې په ۲۳مه نېټه خپله دویمه لوبه د نیوزیلنډ او دریمه لوبه د جنوري په ۲٦مه نېټه د نیپال نوولس کلنې کم عمره لوبډلې پر وړاندې ترسره کړي چې ټولې سیالۍ به یې د سویلي افریقا د پلازمېنې جوهانزبرګ اړوند د ختیځ لندن په بفالو پارک لوبغالي کې ترسره شي.

دغه راز به د رسمي سیالیو له پیله وړاندې هره لوبډله دوه تمریناتي لوبې هم ترسره کړي چې له مخې به یې افغان لوبډله هم د جنوري میاشتې په ۱۴مه نېټه د انګلستان او دوه ورځې وروسته د همدې میاشتې په ۱٦مه نېټه د کوربه سوېلي افریقا لوبډلې پر وړاندې د سیالۍ ډګر ته ښکته شي.

سربېره پر دې د افغانستان کرکټ بورډ د افغان لوبډلې د لا غوره چمتووالي په موخه له هند او سوېلي افریقا سره درې اړخیزه لوبلړۍ هم برابره کړې ده چې د دسمبر میاشتې په ۲۹مه به پیل او د جنوري تر ۱۰مې به دوام وکړي. د دغو سیالیو په ترڅ کې به هم افغان ځوانان څلور لوبې ترسره کړي چې لومړۍ یې د دسمبر میاشتې په ۲۹مه نېټه له هند، دویمه د همدې میاشتې په ۳۱مه له سوېلي افریقا، دریمه د جنوري په څلورمه یو ځل بیا له هند او څلورمه لوبه د جنوري په اتمه نېټه له سوېلي افریقا سره د سیالۍ ډګر ته ښکته شي. د یادو سیالیو پایلوبه د جنوري میاشتې په لسمه نېټه پلان شوې ده چې د یادو درې لوبډلو ترمنځ به د دوه مخکښو هغو ترمنځ ترسره شي. په دې سره به افغان ځوانان د نړیوال جام سیالیو ته په بشپړه توګه چمتو شي.

د کرکټ نړیوالې شورا د نولس کلنو نړیوال جام اتلولي تر نورو زیات ۵ ځلې هندوستان، ۳ ځلي استرالیا او ۲ ځلې پاکستان ګټلې ده. همدارنګه سویلي افریقا، انګلستان، بنګله دېش او ویسټ انډیز لوبډلې بیا ۱-۱ ځلې د یادو لوبو اتلولي په خپل نوم کړې ده.

د یادونې وړ ده چې د ۲۰۲۲م کال نولس کلنو نړیوال جام لوبو اتلولي هندي لوبډلې ګټلې ده او د سږ کال په سیالیو کې به له خپلې اتلولۍ دفاع کوي. د نولس کلنو نړیوال جام سیالۍ چې هر دوه کاله وروسته ترسره کېږي، د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۸م کال کې پیل شوې چې تر اوسه یې ۱۴ پړاونه ترسره شوي دي. افغان نولس کلنه ملي لوبډله له ۲۰۱۰م کال را پدیخوا په پرلپسې توګه د اتم ځل لپاره په یادو لوبو کې ګډون کوي چې د ۲۰۱۸م کال وروسته په ۲۰۲۲م کال کې د دویم ځل لپاره د پاپو نیوګینې، زمبابوې او سریلانکا لوبډلو په ماتولو د یادو سیالیو نیمه پایلوبو ته رسېدلې وه.

سیستم بررسی موقیعت توپ

Ball Tracking

بازی کریکت یک بازی سرگرم کننده برای مخاطبان و بینندگان به دلیل چگونگی تولید، نمایش و نشر این بازی است. بدون شک پیشرفت در نوع تولید، نشر و کیفیت آن مخاطبان را بیشتر از قبل وابسته به این بازی میکند. فناوری روز در تصمیم گیری عادلانه داور (امپایر)، ریفری مسابقه (میچ ریفری) و کیفیت بازی نقش چشم گیری دارد. فناوری های روز افزون در بازی کرکت و اطلاعات جمع آوری شده توسط تکنالوژی های مختلف و تجزیه و تحلیل این اطلاعات در جریان بازی کمک شایان را برای مسوولین مربوطه در اخذ تصامیم نهایی میکند.

یکی از این فناوری ها، تکنالوژی بررسی موقیعت توپ در بازی کرکت است که در این مقاله به آن پرداخته میشود. قبل از اینکه به چگونگی کارکرد این سیستم بپردازیم نخست باید بدانیم که یک جسم در فضا چگونه تعین موقعیت میشود؟ پاسخ این پرسش خیلی ها ساده است؛ شما باید موقیعت جسم را در سیستم مختصات x-y-z (سیستم سه بعدی مختصات کارتزین) که شامل یک محور سوم (z) عمود بر محورهای افقی (x) و عمودی (y) است که در سیستم مختصات x-y-z، باید مطالعه کنید. این محور های سه بعدی در گرافیک کمپیوتری برای ایجاد مودلهای دارای طول، عرض و عمق، و حرکت دادن مودلها در فضای سه بعدی مورد استفاده قرار مگیرد. حال اینکه توپ در حال حرکت است، سرعت و زمان نیز نقش عمده را برای بررسی موقیعت توپ باز میکند. بدین معنا که سرعت توپ که از دست توپ انداز رها میشود تعین میکند که بعد از برخورد با زمین و با در نظر داشت زاویه برخورد با زمین به کدام مسیر حرکت میکند. و این دقیق همان کاری است که سیستم بررسی موقیعت توپ (Ball Tracking) انجام میدهد. تمام اطلاعات به شمول موقیعت لحظه به لحظه توپ در فضای سه بعدی توسط این سیستم مطالعه میشود، سیستم مذکور مکان برخورد توپ و حرکت پس از برخورد با زمین بازی را مدنظر مگیرد و دوباره با در نظر داشت مسیر حرکت و سرعت توپ تعین میکند که توپ اگر با بدن توپزن برخورد نمیکرد به کدام مسیر حرکت مینمود.





در بازی کریکت چگونه کار میکند؟

تاریخچه

ردیابی توپ اولین بار در سال ۲۰۰۱ در مسابقه بین انگلستان و پاکستان مورد استفاده قرار گرفت و از آن زمان تاکنون جز مهمی در تصمیم گیری های LBW (Leg Before Wicket) که یکی از انواع اوت شدن در بازی کریکت است، بوده است. ردیابی توپ نه تنها در کریکت بلکه در ورزش های مختلف دیگر مانند والیبال، راگبی و تنیس نیز استفاده می شود.

هاک آی (Hawk-Eye) یا چشم عقاب) فناوری مورد استفاده برای تعیین مسیر توپ است که به طور کلی از ٦ کمره برای مثلث کردن موقعیت توپ در تصمیم گیری دقیق استفاده می کند. تمام این فیلمها از لحظه رهایی توپ از دست توپ انداز الی توقف کامل ضبط می‌شوند و به عنوان اطلاعات برای تعیین مسیر آینده توپ با استفاده از یک مودل سه بعدی استفاده می‌شوند.



این سیستم چگونه کار میکند ؟

برای کارکرد سیستم متذکره شش عدد کمره ثابت در نقاط مختلف میدان نصب میشود، کمره های متذکره قابلیت تصویر برداری ۲۰۰ فریم در ثانیه را دارا میباشند. امروز با پیشرفت تکنالوژی مودل های مختلف و تولیدات کمپنی های مختلف در بازار قابل دسترس هستند. این کمره ها با زاویه دید ۳۰ درجه منطبق به هم نصب میشوند، استفاده از شش کمره احتمال قرار گرفتن یک بازیکن میان این کمره ها و توپ را کاهش میدهد. اگر یکی از این کمره ها موقعیت توپ را از دست بدهد کمره دیگر که جاگزین کمره کور است اطلاعات از دست رفته را به سیستم انتقال میدهد.

سیستم متذکره دو آپراتور یا کنترول دارد، کنترول اولی که تمامی اطلاعات در رابطه به موقعیت توپ را توسط چندین سافتویر از قبیل (Full Track AI, Flight Scope & Hawk-Eye) ذخیره میکند. اطلاعات متذکره به دو طریق قابل ذخیره هستند.

1- سیستم کود گذار پایتون (Python) با استفاده از چارت های مختلف به دور توپ با زوایای مختلف.

2- سیستم ردیاب مرکزی که توسط یک مرکز ردیابی موقعیت توپ در جهت افقی، عمودی و مسیر حرکت را تشخیص میدهد.



در هر دو طریق فوق موقعیت توپ از لحظه رها شدن از دست توپ انداز الی توقف کامل ثبت سیستم میشود.
شاید در جریان مسابقه بار های شنیده اید که مبصرین بازی میگویند منتظر DRS (Decision Review System) هستیم. این به دلیل این است که اطلاعات از سیستم اولی به سیستم و کنترول دومی انتقال میکند. در سیستم دومی سافتویر های که قابلیت تهیه CGI (Computer Generated Imagery) دارند نصب هستند و با استفاده از اطلاعات منتقل شده به سیستم تصاویر گرافیکی سه بعدی را تشکیلی میدهند که برای داوران و بینندگان تصمیم گیری و فهم بازی را ساده میسازد.



پس از شکل گیری تصویر گرافیکی مسیر حرکت توپ با یک خط استوانه یی با عناصر ذیل در تصویر نشان داده میشود:

1- Pitching: سیستم محل برخورد توپ با زمین بازی را نشان میدهد، که آیا توپ روی خط فرضی و یا در پیشروی این خط برخورد نموده است یا خیر.

2- Impact: سیستم با استفاده از اطلاعات گرفته شده از شش کمره ثابت اطراف میدان بازی، نشان میدهد که آیا توپ در داخل خط فرضی با توپزن برخورد نموده است یا بیرون از این خط.

3- Hitting: سیستم با استفاده از اطلاعات همچون سرعت، مسیر حرکت توپ، زاویه برخورد توپ با زمین بازی، مسیر حرکت پس از برخورد و تماس با بدن توپزن پیش بینی میکند که اگر توپ با بدن توپ انداز برخورد نمیکرد آیا به ویکت ها برخورد میکرد یا خیر؟

4- Original decision: اوریجنل دیسیژن عبارت از فیصله نخست داور بازی است که آیا بازیکن ویکت خود را از دست داده است یا خیر؟ به عبارت دیگر این نشان دهنده تصمیم داور بازی در مورد اخراج بازیکن از میدان است. این تصمیم اکثریت اوقات برای بازیکنان هردو تیم قابل قبول است ولی بعضا بازیکنان تصمیم داور بازی را به چالش میکشند که گاهی موفق و گاهی هم یکی از Review های خویش را از دست میدهند. برای بخشی از مخاطبان مساله Umpire Call اندکی گیچ کننده است. فرض کنید تیم که توپ اندازی میکنند خواهان مرور دوباره تصمیم داور در رابطه به یک قضیه LBW میشوند، زیرا داور بازی بدین باور است که توپزن ویکیت خود را از دست نداده است. حال اگر پس از بررسی تعین موقعیت توپ نشان داده شود که کمتر از ۵۰ درصد توپ با ویکت ها برخورد میکند و بیشتر از ۵۰ درصد توپ با ویکت ها برخورد ندارد، موضوع Umpire Call یا تصمیم داور درمیان است و توپزن ویکیت خود را از دست نداده است. در عین قضیه اگر داور بازی تصمیم به اخراج بازیکن از میدان بازی گرفته باشد و تیم که توپزنی میکنند خواهان Review شوند، چون تصمیم داور بازی مبنی بر اخراج بازیکن بوده است، بازیکن out است و اگر داور بازی نخست تصمیم گرفته باشد که بازیکن از میدان اخراج نشود و به بازی ادامه بدهد، بازیکن Out نیست و به بازی خود ادامه میدهد.



مزایا و معایب
سیستم بررسی موقیعت توپ

- ردیابی توپ با کمک به داوران و دادن بینش به آنها در مورد مسیر حرکت توپ، نقطه برخورد و مسیر نهایی توپ، بازی را به طور غیرقابل برگشتی تغییر داده است.

- سیستم بررسی موقیعت توپ به دلیل نحوه استفاده از آن در کریکت به خصوص در سیستم مرور تصامیم داور بازی (Decision Review System) یک قسمت غیر قابل تعویض کریکت است.

- در نظر داشته باشید که در سیستم بررسی موقیعت توپ جایی برای خطا وجود دارد؛ زیرا فقط تا ۳.۶ میلی متر دقیق است و در برخی موارد استدلال می شود که انحراف بیشتر است.

- با این حال، می‌تواند به ما کمک کند تا تصمیمات دقیقی را از طریق فناوری چشم عقاب (Hawk-Eye) در مورد اینکه آیا توپ در مسیر درست به سوی ویکت ها است یا خیر.

- خطا تنها منحصر به سیستم بررسی تعین موقیعت توپ نیست، حتی داوران نیز در تصمیم گیری بعضا خطا میکنند، زیرا آنها فقط به چشم غیر مسلح خود متکی هستند.

- همچنین، فناوری سیستم بررسی موقیعت توپ با ترکیب Ultra-Edge یا Snicko-meter (ارائه تصویر گرافیکی از صدا) نیز به داور کمک می کند تا تشخیص دهد که آیا توپ با بیت، لوازم و یا با بدن توپزن تماس دارد یا خیر؟ پس از انجام همه این کارها، داور سوم سپس به ردیابی توپ مراجعه می کند و تصمیم دقیق می گیرد.

د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې څانګې د روزنې په برخه کې بېلابېل ښوونيز سيمينارونه ترسره کړل

د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفيت لوړونې څانګې، د فزيکي تکړښت، کرکټ روزنې او ويشتنځاى جوړونې په برخو کې روزنيز سيمينارونه ترسره کړل.

د ياد سيمينارونو له جملې لومړى هغه يې د فزيکي تکړښت (Strength and Conditioning) لومړى درجه روزنيز سيمينار و او ١٢ تنو ته پکې روزنه ورکړل شوه چې پکې ٣ تنه د ملي لوبډلې لوبغاړي، ٣ تنه د کورني کرکټ روزونکي او ٦ نور يې هغه کسان و چې د تېرو څو کلونو راهيسي يې د افغانستان کرکټ بورډ سره په ياده برخه کې کار کوي.

بايد وويل شي چې دغه روزنيز سيمينار چې د نومبر مياشتې په ٢٦مه نېټه پيل او د همدې مياشتې په ٣٠مه نېټه پاى ته ورسېده، د ظرفيت لوړونې مرکز اړوند فزيکي تکړښت پياوړي روزونکي راجيش چوهان له لوري چې په دې برخه کې د دريمې درجې سند لري؛ وړاندې شو.

د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفيت لوړونې څانګې مسوولين وايي، له ياد کورس څخه يې موخه خپلو روزونکو ته د فزيکي تکړښت د روزنې نوي او عصري ميتودونه وړاندې کول او د دوى ظرفيتونو ته وده ورکول دي.

له دې جملې دويم سيمينار(Refresher Coaching Course) د دسمبر په ١۴مه او ١۵مه د دوو ورځو په لړ کې د اکاډميو روزونکو لپاره ترسره شو چې ٢٠ روزونکو پکې ګډون کړى و چې ١٢ تنه يې د کرکټ بورډ اړوند د هېواد رسمي اکاډميو روزونکي او ٨ نور يې د کرکټ بورډ سره ثبت شويو شخصي اکاډميو روزونکي وو.

ياد دوه ورځنى سيمينار د افغانستان کرکټ بورډ غوراوي کمېټې مشر اسدالله خان او ظرفيت لوړونې مرکز مشر حاجي ولي امين له لورې وړاندې شو چې دواړه د روزنې په برخه کې د دريمې درجې سندونه لري. همدارنګه د ټرېننګ برخه کې اړوند معلومات د فضل الرحمن ځاځي او ډګر ساتنې برخه کې سيد رحمن احمدزي وړاندې کړل.

د يادونې وړ ده چې په دې روزنيز سيمينار کې د کرکټ د اوسني وخت د پرمختللي تخنيک، پلان، راپور او د لوبغاړو فزيکي جوړښت او تکړښت معلومات او روزونه ورکړل شوه او دغه راز يې د اوسنيو اړتياو پر بېلابېلو اړخونو عملي او تيوريکي معلومات ورسره شريک کړل.

د سيمينارونو د لړۍ دريم سيمينار بيا د کرکټ لوبغالو او روزنځايونو د ويشتنځايونو جوړوونکو (Curators) لپاره ترسره شو او پکې ٣٩ تنو کيورېټرانو ګډون کړى وو چې له ډلې يې ٣٦ کسان د کرکټ بورډ اړوند لوبغالو او روزنځايونو کيوريټران او د هغوى مرستيالان او ٣ تنه د هغه شخصي روزنځايونو کيورېټران وو چې ورڅخه د اړتيا پر مهال د ملي لوبډلو تمريناتي کمپونو کې کار اخېستل کيږي.

ياد سيمينار چې د دسمبر له ١٨مې تر ٢١مې نېټې تر سره شو، د ګاونډي هېواد پياوړي کيورېټر محمد اشرف له خوا وړاندې شو چې نوموړى په دې برخه کې له ٣٠ کلونو ډېره کاري تجربه لري. محمد اشرف د سيمينار ګډونوالو ته د ويشتنځايونو جوړولو معياري موادو، د وچې، لمدې، شنې او ورته نورو ويشتنځايونو ډولونو او جوړولو لارې چارې په نظري او عملي ډول وړاندې کړې.

د يادونې وړ ده چې د يادو سيمينارونو نظري زده کړې د کرکټ بورډ په سرپټي روزنځاى او عملي برخه يې د کابل کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه.

د کوڅې او ښوونځیو کرکټ

د کرکټ په نړۍ کې ګڼ داسې مشهور لوبغاړي شته، چې په لومړي ځل د کرکټ اکاډمیو ته تللي نه دي، بلکې د کوڅې او ښوونځیو په کچه یې کرکټ کړی او بیا د کرکټ ځلانده ستوري شوي دي. د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې د ښوونځیو په کچه کرکټ سیالۍ کېږي. په دغو سیالیو کې غوره او وړ لوبغاړي بیا اکاډمیو ته ورپېژندل کېږي او وروسته کورني کرکټ ته شاملېږي. له دې پړاونو له وتلو وروسته لوبغاړي بیا تر ملي لوبډلو ځانونه رسوي او د نړۍ په کچه پېژندل کېږي.

د کوڅو او ښوونځیو کرکټ د رسمي کرکټ پیل او بنسټ دی. اوسمهال په هېواد کې زرګونه تنکي زلمي هره ورځ په خپلو کوڅو، پټیو، میدانونو او دښتو کې کرکټ کوي. دوی نه روزونکي لري، نه ورته ویل کېږي چې بېټ باید څرنګه ونیول شي، توپ له کومه اړخه وشي، توپ څرنګه ونیول شي او توپوهوونکی څنګه د لوبې له ډګره وباسي؛ خو دوی خپله لوبغاړي هم دي او د خپلو ځانونو روزونکي هم. دغه زلمي هره ورځ په ساعتونو ـ ساعتونو کرکټ کوي، خولې تویوي او په دې تمه دي، چې یوه ورځ یوې اکاډمۍ کې مسلکي کرکټ پیل کړي.

دغه زلمکیو کې ډېر وړ لوبغاړي شته. دا چې د کورنیو ستونزو، د هېواد په ګوټ ګوټ کې د اکاډمیو نشتون، اقتصادي ستونزې، غربت او ګڼو لاملونو د دوی د پرمختګ مخه نیولې ده. که څه هم اوس په افغانستان کې د کرکټ لوبې د هېواد تر ګوټ ګوټ رسېدلي دي. اوس د نورستان، بدخشان، کونړ، پکتیکا او نورو غرنیو ولایتونو لوبغاړي په ملي لوبډله او کورنیو لوبو کې لوبېږي او خپل ځانونه یې هم ثابت کړي دي. دوی هم له لومړي سره په اکاډمیو کې کرکټ نه دی کړی، بلکې د کوڅې او ښوونځیو په کچه لوبېدلي دي او وروسته تر ملي لوبډلې رسېدلي دي.

په افغانستان کې هم یو شمېر داسې لوبغاړي شته، چې له لومړي سره په اکاډمیو کې نه دي لوبېدلي، بلکې د ټېپ بال لوبې یې کړې؛ خو د وړتیا له مخې اوس په ملي لوبډله کې دي. حضرت الله ځاځی، وفادار مومند، درویش رسولي او ...

د ښوونځیو کرکټ ولې مهم دی؟

اوسمهال په افغانستان کې کرکټ یو له هغو لوبو څخه دی چې په ډېرې چټکۍ د ودې په حال کې دی. دغه لوبه اوس یوازې تر یو قوم محدوده نه ده، بلکې د هېواد هر قوم لوبغاړي لري. دا چې دوی تر اوسه تر ملي لوبډلې نه دي رسېدلي په راتلونکو څو کلونو کې به په ملي لوبډله کې د هر قوم لوبغاړی وي. دوی به د خپلې وړتیا له مخې ملي لوبډلو ته لاره بیامومي او د ګران افغانستان استازیتوب به کوي. عبدالرحمن رحماني د افغانستان د پشه‌یي قوم څخه دی او د چټکې توپ اچونې الراونډر دی. اوسمهال موږ په کورني کرکټ کې د ترکمن، تاجېک او نورو قومونو لوبغاړي هم لرو. دغو لوبغاړو د ښوونځیو او کوڅو کې کرکټ کړی، وروسته اکاډمیو یا روزنځایونو ته تللي او اوس په لېست اې، فرسټ کلاس، دویمه درجه، لومړۍ درجه، انټرکلب او نورو کورنیو لوبو کې لوبېږي.

همدا اوس په کوڅو کې ګڼ غمي شته چې د ټېپ بال لوبه کوي. یا د ښوونځیو زده کوونکو کې داسې لوبغاړي شته چې د ۱٦ کلنو او ۱۹ کلونو کم عمره لوبډله کې یې حق جوړېږي. دوی ته مسلکي روزنه نه ده ورکړل شوې، بلکې په خپل خدایي وړتیا لوبې کوي. افغانستان کرکټ بورډ اداره هڅه کوي، ترڅو له دې وروسته هر کال د هېواد په کچه د ښوونځیو او هغه لوبغاړو چې په کوڅو کې لوبې کوي، لوبې او د لوبو کولو زمینه برابره کړي، دوی په مسلکي ډول وروزي، نیمګړتیاوې یې کمې کړي، نو لرې نه ده چې موږ به ډېر ګڼ داسې غمي راپیدا کړو چې د کرکټ په هر فارمټ یا بڼه کې ډېر ښه وځلېږي.

د کرکټ په تاریخ کې لس زړه ماتوونکې پېښې

کرکټ ډېره زړه راښکونکې او عجیبه لوبه ده، زیاتره خلک یې مسخره او ډېری نور یې ناځوانه او د زړه خوراک لوبه هم بولي. تاسې به ډېر لوبغاړي په اوښلنو سترګو حتماً لیدلي وي چې له ډګره بهر کېږي او له سترګو یې اوښکې رواني او یا هم په لوبغالي کې زړه ماتي ناست او پراته وي. داسې پېښې ډېری وخت په نیمه پایلوبو او پایلوبو کې کېږي. یوه لوبډله به بریا ته نږدې وي، خو په وروستۍ ویکټ به توپوهوونکی ودریږي او لوبه به ترې وګټي یا به یوې لوبډلې ته په ۵۰ توپونو ۲۰ منډې په کار وي او ۵ لوبغاړي به هم لري؛ خو یاد لوبغاړي به دغه ۲۰ منډې پوره نه‌کړي او لوبه به وبایلي. په سږني نړیوال جام کې افغانستان خپلو ۲۹۲ منډو هدف په دفاع کې د سیالې استرالیا لوبډلې ۷ لوبغاړي په ۹۱ منډو کې له ډګره ویستلي وو. لوبه نږدې سل سلنه د افغان لوبډلې په واک کې وه؛ خو ګلېن مکسوېل او پېټرېک کمینز ودرېدل، په ډېره حیرانوونکې توګه یې د ۲۰۰ منډو ملګرتیا وکړه او لوبه یې وګټله. د کرکټ په تاریخ کې داسې سلګونه بېلګې شته چې لوبډلو په څومره ناځوانۍ لوبې بایللې او یا یې په څومره ناشونې ګټه خپل لوري ته راړولې ده. په دې لیکنه کې د کرکټ په تاریخ کې لس ورته زړه ماتوونکو پېښو ته کتنه شوې ده:

1 هغه ورځ چې سچن ټنډولکر له کرکټ سره مخه ښه وکړه

سچن ټنډولکر د کرکټ نړۍ یو افسانوي لوبغاړی و چې په نړۍ کې یې مېلیونونه مینه وال لرل. نوموړي د هندۍ لوبډلې په ګټه شاوخوا ۲۴ کاله کرکټ وکړ، له ۳۴ زرو ډېرې منډې او سل سلیزې یې جوړې کړې چې تر اوسه په نړیواله کچه بل هېڅ لوبغاړي دومره ډېرې سلیزې او منډې نه دي جوړې کړې او ښایي جوړول یې نور هم ډېر وخت واخلي. نوموړي خپله وروستۍ لوبه د ۲۰۱۳م کال د نومبر میاشتې په ۱٦مه نېټه د ویسټ انډیز پر وړاندې وکړه چې پکې ۷۴ منډې یې وکړې. کله چې د وروستي ځل لپاره لوبغالي ته ښکته کېده نو هم د ده سترګې له اوښکو ډکې وې او هم یې مېلیونونو مینه والو ژړل. دا د کرکټ په نړۍ کې یو له هغو پېښو وه چې ډېر مینه وال یې وژړول، ښایي ډېر وخت داسې ونه شي چې د لوبې سره دې د یو لوبغاړي په خدای پامانۍ مېلیونونه مینه وال اوښکې تویې کړي.

2 د مهېندرا سینګ ډوني ژړا

هندۍ کرکټ ملي لوبډلې د ۲۰۱۵م کال نړیوال جام سیالیو پر مهال په ګروپي پړاو کې خپلې ټولې شپږ لوبې ګټلې وې. په نیمه پایلوبه کې له استرالیا سره مخ شوه چې هغوی په ټاکل شوو ۵۰ اوورونو کې د ۷ ویکټو په زیان د ۳۲۹ منډو هدف ورکړ. هندۍ لوبډلې په ۴٦.۵ اوورونو کې خپل ټول لوبغاړي په ۲۳۳ منډو کې له لاسه ورکړل او د د ۹۵ منډو په لوی توپیر یې لوبه وبایلله. د هند لوبډلمشر مهېندرا سینګ ډوني په ٦۵ توپونو ٦۵ منډې وکړې او د ګلېن مکسوېل له لوري رن اوټ شو (د منډې پر مهال یې خپله ویکټ له لاسه ورکړه). هند له پایلوبې پاتې شو، ډوني ډېره هڅه وکړه چې خپلې اوښکې پټې کړي؛ خو دا چې هېواد یې له پایلوبې پاتې شوی و نو احساسات پرې زورور شول او ویې ژړل چې ورسره یې مېلیونونه خلک هم وژړول. کرکټ کې داسې پېښې ډېرې کېږي. سږ کال په نړیوال جام کې هم هندۍ لوبډلې د نیمه پایلوبې په ګډون ټولې لس واړه لوبې ګټلې وې؛ خو په پایلوبه کې یې له استرالیا ماتې وخوړه او د سلګونه میلیونه هندي مینه‌والو زړونه یې خوابدي کړل.

3 هغه ورځ چې سویلي افریقا د ۱۹۹۹ام کال نړیوال جام له پایلوبې پاتې شوه

سوېلي افریقا د کرکټ نړی ته خورا نوموتي او با استعداده لوبغاړي وړاندې کړي دي چې ډېر ښه ځلېدلي هم دي، خو دغه لوبډله تر اوسه د یوه نړیوال جام په گټلو هم نه ده بریالی شوې. یاده لوبډله هر ځل په گروپي پړاو لوبو کې ښې لوبې وکړي؛ خو په نیمه پایلوبه کې ماتې خوري. د ۲۰۲۳ز نړیوال جام کې هم سویلي افریقا ښې لوبې وکړې. دوی د اسټرالیا او نیوزیلېنډ په گډون خورا قوي لوبډلې ماتې کړې، خو له نیدرلېنډ لوبډلې یې داسې ماتې وخوړه، چې تمه یې نه کېده. دغه لوبډله له هند وروسته د لومړي پړاو د دویمې مخکښې لوبډلې په توگه په نیمه پایلوبه کې له اسټرالیا سره مخ شوه چې ماتې یې وخوړه او یو ځل بیا له پایلوبې پاتې شوه. د ۱۹۹۹م کال نړیوال جام سیالیو په نیمه پایلوبه کې هم سویلي افریقا له اسټرالیا سره مخ وه. استرالیایي لوبډلې په ۴۹.۲ اورونو کې د لسو ویکټو په زیان ۲۱۳ منډې وکړې. سویلي افریقا د یاد هدف په ځواب کې ښه لوبه وکړه، لوبه یو وخت داسې حالت ته ورسېده چې سویلي افریقا ته په درې توپونو یوه منډه په کاره وه، الان ډونلډ او لانس کلوزنر توپوهنې ته ولاړ وو او داسې ښکارېده چې سوېلي افریقا به بریا خپله کړي، خو د وروستي اور په څلورم توپ الان ډونلډ د وروستۍ منډې جوړولو په هڅه کې خپله ویکټ له لاسه ورکړه او لوبه مساوي شوه. دا چې د سویلي افریقا په پرتله د اسټرالیا نېټ رن ریټ ښه و؛ نو استرالیا پایلوبې ته لاره ومونده او سوېلي افریقا له پایلوبې پاتې شوه. دغې پېښې د کرکټ په نړۍ کې د سوېلي افریقا د لوبغاړو او مینه والو سربېره د کرکټ د نړۍ د میلیونونو مینه‌والو زړونه مات کړل او اوس هم د کرکټ د نړۍ د زړه ماتوونکو پېښو په توگه یادېږي.

4 د ډان براډمن وروستۍ لوبه او په صفر سوځېدل

د اسټرالیا لوبډلې پخوانی لوبډلمشر ډان براډمن د کرکټ د نړۍ یو نوموتی توپوهونکی دی چې په ټېسټ لوبو کې د توپوهنې تر ټولو لوړ ۹۹.۹۴ اوسط لري. نوموړي په خپل لوبیز ژوند کې ۵۲ ټېسټ لوبو کې ٦۹۹٦ منډې کړې وې، چې ۲۹ سلیزې یې هم جوړې کړې وې. براډمن خپله وروستۍ لوبه د ۱۹۴۸ د اگست میاشتې په ۱۴مه نېټه پیل کړه او یوازې ۴ منډو ته یې اړتیا لرله چې د منډو اوسط یې پوره ۱۰۰ ته ورسېږي؛ خو نوموړي په خپله وروستۍ ټېسټ لوبه کې په صفر له ډگره بهر شو او په دې بریالی نه شو چې د خپلو منډو اوسط سلو ته ورسوي.

5 د ۲۰۰۵ز کال د ایشېز دویمه لوبه

ایشېز د ټېسټ سیالیو لوبلړۍ ده چې په دوو کلونو کې یو ځل/ هر دوه کاله وروسته د اسټرالیا او انگلستان ترمنځ کېږي. په ۲۰۰۵م کال کې د دغو تاریخي سیالیو لړۍ په انگلستان کې کېده، په لومړۍ لوبه کې اسټرالیا کوربه لوبډلې ته په لوی توپیر ماتې ورکړې وه. د لوبلړۍ دویمه لوبه چې د اگست له څلورمې تر اوومې نېټې په ایجباسټن لوبغالي کې ترسره کېده، کوربه لوبډلې په وروستۍ پاڼۍ کې اسټرالیا ته د ۲۸۲ منډو هدف وټاکه. اسټرالیا ښه پیل وکړ، خو وروسته یې یو په بل پسې ویکټې له لاسه ورکړې، یو وخت داسې راغی چې په ۱۳۷ منډو کې یې ۷ ویکټې له لاسه ورکړې وې او داسې ښکارېده چې دغه لوبه به په درېیمه ورځ پای ته ورسېږي، خو وروستیو توپوهوونکو ښه توپوهنه وکړه او لوبه یې دوامداره وساتله. اسټرالیا خپله نهمه ویکټ داسې مهال له لاسه ورکړه چې لا هم د بریا لپاره ٦۲ منډې پکار وې. د وروستۍ ویکټې لپاره بریټ لي او کاسپروویز ښه توپوهنه وکړه او لوبه یې جالب پړاو ته ورسوله. وروستیو دوه توپوهونکو ډېره مقابله وکړه، بریټ لي ۴۳ او کاسپروویز ۲۰ منډې جوړې کړې وې او اسټرالیا ته یوازې دوه منډې پکار وې، ترڅو بریا خپله کړي خو کاسپروویز د سټیو هارمېسن د یوه ډېر ښه توپ ښکار شو او ویکټ ساتونکي ته یې کېچ ورکړ، دغه کېچ که څه هم بیا بیا د تلوېزون په پرده وښودل شو خو لوبڅار پرېکړه وکړه چې کېچ په سمه توگه نیول شوی او انگلستان دغه لوبه د دوو منډو په توپیر گټلې ده. بریټ لي چې په سخت وخت کې یې ډېره مقابله کړې وه، د لوبې بایللو له امله ډېر سخت خواشینی شو خپلې اوښکې یې پټې نه کړی شوې او ویې ژړل چې له امله ډېر مینه وال هم خواشیني شول.

6 د ۱۹۹٦ام کال نړیوال جام نیمه پایلوبه

د ۱۹۹٦ز کال نړیوال جام سیالیو کوربه توب د هند، پاکستان او سرېلانکا په غاړه وو. د دغو سیالیو لومړۍ نیمه پایلوبه د هند او سرېلانکا لوبډلو ترمنځ ترسره شوه چې سرېلانکا هندۍ لوبډلې ته د ۲۵۲ منډو هدف کېښود. هندي توپوهوونکو د دغه هدف په ځواب کې ښه توپوهنه ونه کړه او له سچن ټنډولکر پرته چې ٦۵ منډې یې کړې وې، نور لوبغاړي ښه ونه ځلېدل. هندۍ لوبډله په سخت حالت کې وه او په ۱۲۰ منډو کې یې خپل ۸ لوبغاړي له لاسه ورکړي وو، کله چې هندي نندارچیان پوه شول چې لوبه یې له گوتو وتلې او له پایلوبې پاتې کېږي؛ نو د خپلې لوبډلې بېکاره توپوهنه یې ونه شوی زغملی، لوبغالي ته یې د بوتلونو غورځول پیل کړل، همدارنگه یې د نندارچیانو د ناستې ځایونو کې اورونه بل کړل. لوبه د څو شېبو لپاره ودرېده؛ خو د نندارچیانو اخلال، مزاحمت او گډوډۍ پای ته ونه رسېده. له لنډې دمې وروسته د لوبې ریفري د سرېلانکا لوبډله بریالۍ اعلان کړه چې له امله یې د هندي لوبغاړو ترڅنگ مینه وال هم زړه ماتي خپلو کورونو ته ستانه کړل. سرېلانکا لوبډلې بیا په پایلوبه کې د اسټرالیا په ماتولو د یاد کال نړیوال جام اتلولي خپله کړه.

7 کله چې ډي‌ایل مېتود د میلیونونه افریقایانو زړونه مات کړل

د لیکنې په لومړیو برخو کې هم د سویلي افریقا کرکټ لوبډلې یادونه شوې ده چې خورا نوموتي لوبغاړي لري، خو بد قسمته لوبډله هم ده. دغه لوبډله د ۱۹۹۲م کال نړیوال جام نیمه پایلوبو ته وتلې وه چې له انګلستان سره مخ شوه. دغه لوبه د ورښت له امله ۴۵ اوورونو ته کمه شوې وه چې انګلستان لوبډلې په لومړي پاټي کې د شپږو ویکټو په زیان ۲۵۲ منډې وکړې. سویلي افریقا یو مهال په ۴۲.۵ اوورونو کې ۲۳۰ منډې لرلې او په ۱۳ توپونو ۲۲ منډې پاتې وې تر څو بریا خپله کړي؛ خو لوبه یو ځل بیا ورښت وځنډوله. د باران له دریدو وروسته د ډې ایل (Duck-worth Lewis) مېتود له مخې، هغه سیستم چې په باراني حالاتو کې د وخت د ضایع کېدو له امله د پاتې اوورونو او نوي تعریف شوي هدف د معلومولو لپاره کارول کېږي، سویلي افریقا ته په ۴۳ اوورونو کې د ۲۵۲ منډو هدف وټاکل شو. په دې حساب سویلي افریقا ته په یوازې یوه توپ د ۲۲ منډو اړتیا شوه، چې پوره کول یې سخت بلکې ناشونی کار و. سویلي افریقا په ۴۳ اوورونو کې د شپږو ویکټو په زیان ۲۳۲ منډې وکړې او لوبه یې د ۱۹ منډو په توپیر انګلستان ته وبایلله. دغه مېتود په دې ورځ د میلیونونه افریقایانو زړونه مات کړل. که په دغه لوبه کې باران نه وی ورېدلی نو پایلوبې ته د سویلي افریقا د رسېدو موکه ډېره وه، خو د نورو ډېرو کلونو په څېر سویلي افریقا یو ځل بیا په نیمه پایلوبه کې ماتې وخوړه او له مخکې تګ بې برخې شوه.

8 کله چې جاوېد میانداد ټول هندي مینه‌وال خوابدي کړل



په ۱۹۸۶م کال کې د استرالیا-اسیا کپ په نوم د دوه لویو وچو اسیا او استرالیا، اړوند ۵ لوبډلو ترمنځ د سیالیو یوه لړۍ پیل شوه چې له اسیا نه پکې هند، پاکستان او سریلانکا او له استرالیا لویې وچې پکې استرالیا او نیوزیلنډ لوبډلو ګډون درلود. دغه سیالۍ د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۶ کال کې ترسره شوې چې له دې وروسته په ۱۹۹۰ او ۱۹۹۴ کلونو کې هم ترسره شوې چې پکې بنګله دېش او متحده عربي اماراتو لوبډلې هم یو-یو ځل ولوبېدې. د دغو سیالیو د لومړي پړاو پایلوبه د هند او پاکستان ترمنځ په شارجه کې ترسره شوه چې پکې هندی لوبډلې سیالې پاکستانی لوبډلې ته ۲۴۶ منډو هدف ورکړی و. پاکستان ته د لوبې د ګټلو په موخه په یوه توپ څلور منډې پاتې وې. د پاکستانی لوبډلې پیلیز توپوهونکی جاوېد میانداد په ۱۱۰ منډو توپوهنې ته ولاړ و او چیتن شرما توپ اچونه کوله. داسې انګېرل کېده چې لوبه به هند وګټي؛ خو میانداد په وروستي توپ شپږیزه ووهله او د میلیونونو هندي مینه‌والو زړونه یې خوابدي کړل.

9 کله چې د سترګې د ټپ له امله د کرېګ کېسویټر لوبیز ژوند پای ته ورسېد

کرېګ کېسویټر د انګلستان نوموتی پیلیز توپوهونکی و چې په ښي لاس د غوره توپوهنې ترڅنګ یې ویکټ ساتنه هم کوله. کېسویټر د انګلستان لپاره د ۲۰۱۰م کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو په ګټلو کې مهمه ونډه لرله. نوموړي د دغو سیالیو په پایلوبه کې ۶۳ منډې وکړې او د خپلې لوبډلې په اتلولۍ کې یې ستر رول ولوباوه. دغه لوبغاړي بنایي ډېر ښه کرکټ کړی وی خو په ۲۰۱۴م کال کې د انګلستان په کورنیو کاونټي سیالیو کې په باونسر توپ ولګېد، توپ د نوموړي د هېلمټ له پنجرې ووت او د نوموړي په مخ ولګېد چې له امله یې پوزه ماته شوه او د سترګې قالب یې هم کسر وکړ چې له امله یې د اوږدې مودې لپاره په روغتون کې بستر شو. نوموړی وروسته ښه شو او هڅه یې وکړه چې کرکټ لوبې ته راستون شي خو د سترګو لید د کموالي له امله یې له کرکټ سره د تل لپاره د مخه ښې پرېکړه وکړه.

10 د ۱۹۸۷م کال نړیوال جام په پایلوبه کې د انګلستان ماتې

د ۱۹۸۷م کال نړیوال جام سیالۍ په هند او پاکستان کې ترسره شوې. د دغو سیالیو پایلوبې ته د استرالیا او انګلستان لوبډلو لاره موندلې وه. استرالیا لوبډلې لومړی توپوهنه وکړه او انګلستان ته یې د ۲۵۴ منډو هدف وټاکه. انګلستان خپل لومړی لوبغاړی ژر له لاسه ورکړ، خو د لوبډلمشر مایک ګټینګ په شمول نورو توپوهونکو ښه لوبه وکړه او داسې اټکل کېده چې لوبه به انګلستان ګټي؛ خو له دې سره سره یې د ۵۰ اوورونو تر پایه ۲۴۶ منډې وکړې، د ۷ منډو په توپیر یې لوبه وبایلله او د نړیوال جام له ګټلو پاتې شول. انګلستان بیا دغه خوب ۳۲ کاله وروسته پوره کړ او د ۲۰۱۹ کال د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام یې وګاټه.

د ۲۰۲۳م کال فعالیتونه

لاسته راوړنې

او ننګونې

۲۰۲۳م زېږدیز کال د افغانستان کرکټ بورډ لپاره له هره اړخه د لاسته راوړنو ډک کال و. دغه کال د افغانستان کرکټ بورډ لپاره د نړیوالو او کورنیو سیالیو د تنظیم، د بېلابېلو ملي لوبډلو د فعالیتونو، نړیوال جام کې د افغان لوبډلې د یادګاري ګډون، اداري جوړښت، بازارموندنې، مالي، په هېواد کې د ننه د زیربنایي اسانتیاو د رغونې او بیارغونې، افغان دولت، نړیوالې او اسیایي شورا او نورو هېوادونو سره د پراخه اړیکو او ګڼ شمېر نورو برخو کې له لاسته راوړنو او بریاو ډک کال و.

نړیوال کرکټ

۲۰۲۳م کال د نړیوال کرکټ له اړخه د افغانستان لپاره له ډېرو لاسته راوړنو ډک کال و. د دغه کال په ترڅ کې افغان لوبډلې ۸ شل اوریزې نړیوالې، ۲۰ نړیوالې یو ورځنۍ او یوه ټېسټ لوبه ترسره کړې. افغان لوبډلې ۲۰۲۳م کال د متحده عربي اماراتو پر وړاندې د یوې شل اوریزې لوبلړۍ په ګټلو سره پیل کړ چې نورو سیالیو ته د غوره چمتووالي په برخه کې یې اغېزمن رول ولوباوه. له دې وروسته د افغانستان کرکټ بورډ په متحده عربي اماراتو کې د مارچ میاشتې له ۲۴مې تر ۲۷مې نېټې د درې شل اوریزو نړیوالو سیالیو لپاره د پاکستان کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړ چې په ترڅ کې یې د دواړو لوبډلو ترمنځ د کرکټ بهترینې سیالۍ ترسره شوې. د یادو سیالیو په لومړیو دوه لوبو کې افغان اتلانو د بېسارو لوبو پر مټ سیالې پاکستانۍ لوبډلې ته ماتې ورکړه او د یادې لوبډلې پر وړاندې یې تاریخي بریاوې خپلې کړې.

دا د افغانستان د کرکټ په تاریخ کې لومړی ځل و چې د افغانستان د کرکټ ملي لوبډله په رسمي نړیوالو سیالیو کې پاکستان ته ماتې ورکوي. له دې وړاندې د دواړو لوبډلو ترمنځ ۷ نړیوالې سیالۍ ترسره شوې وې، چې پکې ۴ نړیوالې یو ورځنۍ او ۳ نړیوالې شل اوریزې سیالۍ شاملې وې، چې په ټولو سیالیو کې سیالې پاکستان لوبډلې بریاوې خپلې کړې وې. د پاکستان پر وړاندې سیالیو کې د افغان لوبډلې دغه تاریخي بریاوې په هېواد او نړۍ کې د کرکټ مینه والو د ځانګړې پاملرنې وړ وګرځېدې او په نړیواله کچه د افغانستان کرکټ د مینه والو لخوا په پراخه کچه ونمانځل شوې. په هېواد کې د ننه نارینه، ښځینه، ماشومانو، ځوانانو او سپین ږیرو د افغان اتلانو د دې سترو او تاریخي بریاو پراخ هرکلی وکړ او په خورا ښه توګه یې ونمانځلې.

د دغه کال په جون میاشت کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو په موخه سریلانکا ته سفر وکړ چې په لومړۍ لوبه کې یې ستره بریا خپله کړه، خو وروستیو دوه سیالیو کې له ماتې سره مخ شوه. د سریلانکا له سفر وروسته افغان اتلانو د بنګله دېش ته سفر وکړ او هلته یې د کوربه لوبډلې پر وړاندې یوه ټېسټ، درې یو ورځنۍ او دوه شل اوریزې سیالۍ ترسره کړې. ټېسټ او شل اوریزې سیالۍ که څه هم کوربه لوبډلې وګټلې، خو د یو ورځنیو سیالیو په لوبلړۍ کې افغان اتلانو بریا خپله کړه او په تېرو اته کلونو کې یوازې دویمه لوبډله شوه چې بنګله دېش ته په بنګله دېش کې ماتې ورکوي.

د بنګله دېش پر وړاندې سیالیو وروسته د افغانستان کرکټ بورډ د اګسټ میاشتې له ۲۲مې تر ۲۶مې د پاکستان کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړ، دا په روان کال کې دویم ځل و چې افغانستان د بېلابېلو نړیوالو سیالیو لپاره د پاکستانۍ ملي لوبډلې کوربه توب کوي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لوبلړۍ ۰-۳ د پاکستان په ګټه پای ته ورسېده. له دې سیالیو سمدلاسه وروسته افغان لوبډلې په اسیا جام سیالیو کې د ګډون په موخه پاکستان ته سفر وکړ چېرته چې افغان لوبډلې دوه لوبې وکړې او د سریلانکا پر وړاندې له یوې زړه ماتونکې پېښې وروسته په دوه ماتو سره په یادو سیالیو کې له مخکې تګه بې برخې شوه.

له دې وروسته افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د روان کال په اکتوبر میاشت کې د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې د ګډون په موخه هند ته سفر وکړ چېرته چې افغان لوبډلې بهترینې لوبې ننداریو ته وړاندې کړې او د انګلستان، پاکستان، سریلانکا او نیدرلنډز په څېر لوبډلو ته یې ماتې ورکړې. دا په نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې دریم ګډون و، خو دا لومړی ځل و چې افغان لوبډله په نړیوال جام کې له یوې ډېرې لوبې ګټې. افغان لوبډلې له دې وړاندې سریلانکا او نیدرلنډز لوبډلو ته ماتې ورکړې وه، خو انګلستان او پاکستان ته یې د لومړي ځل لپاره په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ماتې ورکړې. په ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې ګډون او د دغو تاریخي بریاو خپلول د افغانستان د کرکټ سترې لاسته راوړنې شمېرل کېږي چې په افغانستان او نړۍ کې له ستر هرکلي سره مخ شوې.

د ملي لوبډلې د سياليو سربېره افغان ابداليان (د افغانستان الف) کرکټ ملي لوبډلې هم په نړيوالو سياليو کې خورا ښې لوبې وکړې. دغې لوبډلې لومړی په اسيا ايمرجېنګ جام سياليو کې ګډون وکړ چې د عمان او سريلانکا لوبډلو ته يې ماتې ورکړې او له بنګله دېش يې ماتې وخوړه. له دې وروسته افغان ابداليان لوبډله د چين په هانګزو کې په اسيايي سياليو کې ګډون وکړ چې هلته يې لومړی سريلانکا او ورپسې پاکستان ته ماتې ورکړه چې پر مټ يې د يادو سياليو پايلوبې ته لاره ومونده. په پايلوبه کې افغان لوبډله له هند سره مخ شوه خو د شديد باران له امله دغه لوبه بشپړه نشوه او د يادو سياليو د اصولو او په درجه بندۍ کې د مخکښوالي پر اساس د سرو زرو مډال هندۍ لوبډلې ته ورکړل شو او افغان ابداليانو د سپينو زرو مډال په خپل نوم کړ. د يادونې وړ ده چې دا د ۲۰۱۰م او ۲۰۱۸م کال ترڅنګ پرلهپسې درېيم ځل و چې افغان لوبډله په اسيايي سياليو کې ګډون کوي او له يادو سياليو د سپينو زرو مډال هېواد ته راوړي. په اسيايي سياليو کې له بريالي ګډون وروسته افغان ابداليان لوبډلې عمان ته سفر وکړ او هلته يې له کوربه لوبډلې سره دوه يو ورځنۍ او ۵ شل اوريزې سيالۍ ترسره کړې. د دوه يو ورځنيو سياليو لړۍ افغان ابداليانو ۲-۰ وګټله، خو په شل اوريزو سياليو کې کوربه لوبډلې خورا ښې لوبې وکړې او افغان لوبډلې له ټولو پنځو لوبو له منځه يوازې يوه لوبه کې بريا خپله کړه.

د افغان ابداليان لوبډلې ترڅنګ تېر کال د افغان نولس کلنې کم عمره لوبډلې لپاره هم خورا مصروف کال و. د تېر کال له پيل وړاندې د افغانستان کرکټ بورډ د يوې نوې نولس کلنې کم عمره ملي لوبډلې د جوړولو په موخه د هېواد په ۵ زونونو کې د ازادې سيالۍ اعلان وکړ چې په ترڅ کې يې له ۵۰۰۰ ډېر لوبغاړي وازمايل. د افغانستان کرکټ بورډ د لوبغاړو د غوراوي کمېټې د يادې پروسې په لړ کې ۱۰۷ غوره او په معيار برابر لوبغاړي په نښه کړل چې د يادې پروسې په دويم پړاو کې يې په يوه لس ورځني تمريناتي کمپ کې ۱۵ سيالۍ برابرې کړې چې پکې ټول لوبغاړي يو ځل بيا وازمايي او له منځه يې غوره ۳۰ کسيزه لوبډله جوړه کړي. د افغانستان کرکټ بورډ د يادې پروسې له دويم پړاو ۳۰ غوره او تکړه لوبغاړي د وروستي پړاو کمپ لپاره وټاکل. وروستی پړاو کمپ بيا په ننګرهار ولايت کې ترسره شو چې په لړ کې يې ټولو ۳۰ لوبغاړو خپلمنځي تمريناتي سيالۍ ترسره کړې. د ياد کمپ په پای کې د افغانستان کرکټ بورډ د لوبغاړو د غوراوي کمېټې ۲۱ تنه هغه لوبغاړي چې له دې وړاندې يې په ټولو پړاونو کې له ځانه غوره وړتياوې ښودلې وې، د افغانستان نولس کلنې کم عمره ملي لوبډلې ته وټاکل.

د لوبډلې له ټاکل کېدو وروسته د افغانستان کرکټ بورډ د دوه اړخيزو او درې اړخيزو لوبلړيو لپاره د بنګله دېش او د سريلانکا هېوادونو ته نولس کلنو لوبډلو کوربه توب وکړ چې په ترڅ کې يې افغان لوبډلې له سيالو لوبډلو سره ۹ يو ورځنۍ سيالۍ ترسره کړې. له دې ډلې افغان نولس کلنې کم عمره لوبډلې ٦ سيالۍ په خپل نوم کړې، په يادو ٦ سياليو کې يې څلور ځلې سريلانکا او ۲ ځلې د بنګله دېش هېواد نولس کلنې لوبډلې ته چې خورا پياوړې لوبډله ده، ماتې ورکړې. د افغانستان خورا نوې نولس کلنې کم عمره ملي لوبډلې په خپل لومړني نړيوال سفر کې خورا ښې لوبې وکړې، د درې اړخيزو سياليو له لومړي پړاو يې د مخکښې لوبډلې په توګه پايلوبې ته لاره ومونده، دغه راز يې سريلانکا ته د دوه يو ورځنيو سياليو په لوبلړۍ کې ماتې ورکړې او د يادو سياليو جام يې هېواد ته راوړ. له دې وروسته هم د افغانستان کرکټ بورډ د دغې لوبډلې د مصروف ساتلو او يادو لوبغاړو ته لا ډېرو روزنيزو او لوبيزو فرصتونو د برابرولو په موخه د زرغون افغانستان جام سياليو ترڅنګ په يو شمېر نورو سياليو کې هم موقع ورکړې او هم يې ورته د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې روزنيز کمپونه برابر کړل، ترڅو راتلونکو نړيوالو سياليو ته لا زيات چمتو شي.

افغان نولس کلنې کم عمره ملي لوبډلې په دې وروستيو کې متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ ترڅو په اسيا جام سياليو کې ګډون وکړي. افغان لوبډلې په دغو سياليو کې نيپال ته ماتې ورکړه، خو له هند او پاکستان يې ماتې وخوړې او په دغو سياليو کې له مخکې تګ بې برخې شوه. افغان ځوانان په متحده عربي اماراتو کې د راتلونکې نړيوال جام سياليو ته لا زيات چمتووالي په موخه په تمريناتو بوخت و، چې ورپسې د درې اړخيزې لوبلړۍ په موخه چې د سويلي افريقا او هندوستان لوبډلو پر وړاندې په سويلي افريقا کې ترسره کېږي؛ لاړل او له يادې درې اړخيزې لوبلړۍ وروسته به د نوولس کلنو ځوانانو د نړيوال سياليو تر پايه په ياد هېواد کې پاتې شي.

۲۰۲۳م کال په ټوله کې د افغانستان د بېلابېلو ملي لوبډلو لپاره له لاسته راوړنو ډک کال و. د لومړي ځل لپاره پاکستان ته د نړيوالو شل اوريزو په لوبلړۍ کې ماتې ورکول، بنګله دېش ته په بنګله دېش کې د لوبلړۍ ګټل، انګلستان ته د لومړي ځل لپاره ماتې ورکول، پاکستان ته د لومړي ځل لپاره يو ورځنۍ نړيواله لوبه ګټل، په نړيوال جام کې د ۴ برياوو ثبتول، په اسيايي سياليو کې د سپينو زرو مډال ګټل او يو شمېر نورې هغه لاسته راوړنې وې چې افغانستان په ۲۰۲۳م کال کې د کرکټ په برخه کې ترلاسه کړې.

کورنی کرکټ

د افغانستان کرکټ بورډ هر کال د یوه منظم پلان له مخې د کورني کرکټ په کچه ګڼ شمېر سیالۍ ترسره کوي، چې په هېواد کې د لوبې په پراختیا او د نویو لوبغاړو په موندلو کې ستر رول لري. د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې د تېرو کلونو په څېر، د ۲۰۲۳م کال لپاره هم د کرکټ د بېلابېلو بڼو ګڼ شمېر سیالۍ په پام کې نیولې وې چې د دغه په ترڅ کې په بېلابېلو ولایتونو کې ترسره شوې.

د ۲۰۲۳م زیږدیز کال د کورني کرکټ سیالۍ د وزیر محمد اکبر خان په دویمه او لومړۍ درجه ولایتي لوبې پیل شوې. په دې لړ کې لومړی د هېواد په څلورو بېلابېلو لوبغالو کې د ۳۱ لوبډلو او څه باندې ۶۰۰ لوبغاړو په ګډون دویمه درجه ولایتي سیالۍ ترسره شوې. د دې سیالیو له پای ته رسېدو وروسته لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ ترسره شوې چې ۱۲ ولایتي لوبډلو پکې برخه لرله. په دغو سیالیو کې د هېواد د کورني کرکت پیاوړو لوبغاړو او هغوی ته چې په دویمه درجه ولایتي سیالیو کې یې د پام وړ لوبې کړې وې، د لوبېدو موقع ورکړل شوې وه. یادې سیالۍ هر کال په هېواد کې د کرکټ لوبې د لا زیاتې ودې او ترویج په موخه ترسره کېږي چې په منظم ډول د افغانستان کرکټ بورډ ته نوي لوبغاړي وروپېژني.

له دې وروسته په اپرېل او مې میاشتو کې د زرغون افغانستان جام سیالۍ چې په ۲۰۲۲م کال کې د افغانستان د کورني کرکټ په جوړښت کې ځای پر ځای شوې وې، د څلورو لوبډلو ترمنځ ترسره شوې. دغو سیالیو نه یوازې نړیوالو سیالیو ته د افغان لوبډلې په چمتووالي کې رغنده رول لوبولی او خورا ګټورې ثباتې شوې، بلکې په پیلولو سره یې د کورني کرکټ جوړښت او کورنیو سیالیو لا زیاته ښکلا او تنوع موندلې چې ورسره د کورنیو یو ورځنیو سیالیو او په ټوله کې د کورني کرکټ کیفیت نور هم لوړ شوی دی. د یادو سیالیو په لومړي پړاو کې دري لوبډلو هندوکش سټرایکرز، پامیر لیجینډز او میوند ډیفینډرز، ګډون درلود، خو د افغانستان کرکټ بورډ د جونیر چېمپینز په نوم څلورمه لوبډله هم دغو سیالیو ته اضافه کړه چې پکې به د هېواد د نولس کلنې کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړو برخه درلوده. د دې اقدام تر شاه هدف دا و چې دغه ځوان لوبغاړي د هېواد د ملي لوبغاړو ترڅنګ ولوبېږي، مهارتونه یې لا زیات وغوړېږي او راتلونکو نړیوالو سیالیو ته په ښه توګه چمتو شي.

د نولس کلنې کم عمره ملي لوبډلې د لوبغاړو ترڅنګ په دري نورو لوبډلو کې د ملي لوبډلې ګڼ شمېر لوبغاړي ولوبېدل. دغه راز د هېواد ځوانو لوبغاړو ته د لا پرمختګ او غوره لوبیزو فرصتونو برابرولو په موخه د کورني کرکټ یو شمېر ځوان لوبغاړو ته هم په یادو لوبډلو کې ځای ورکړل شوی و چې د په دغو سترو سیالیو کې ولوبېږي او له مشرانو لوبغاړو زده کړه وکړي. دغه سیالۍ په یو ورځنۍ بڼه ترسره شوې، هره لوبډله په لومړي پړاو کې دوه ځلې له نورو لوبډلو سره مخ شوه چې د ۱۹ ورځو په موده کې یې تر منځه ټولې ۱۳ سیالۍ وشوې چې د افغانستان له ملي سپورت تلویزیون په ژوندۍ بڼه خپرې شوې او په هېواد کې د ننه او له هېواده بهر ګڼ شمېر مینه والو ننداره کړې. د زرغون افغانستان جام سیالیو پیلول د افغانستان کرکټ بورډ لپاره ستره لاسته راوړنه شمېرل کېږي چې پر مټ یې کورني کرکټ له زیاته ښکلا، کیفیت او ارزښت موندلی دی.

د دې سیالیو سره هممهاله په کندهار ولایت کې د رحمت ولي مسرور په نوم د څلورو لوبډلو ځوان اتلان، ماهیپر ستوري، هېواد ساتونکي او اباسین ځوانان ترمنځ د ایمرجېنګ جام سیالۍ ترسره شوې چې پکې د هېواد ګڼ شمېر ځوان لوبغاړي ولوبېدل. دا لومړی ځل و چې د افغانستان کرکټ بورډ په کورني کرکټ کې دغه سیالۍ ترسره شوې. له یادو سیالیو وروسته د ننګرهار ولایت په دوه بېلابېلو کرکټ لوبغالو کې د زونونو په کچه د میرویس نیکه جام دري ورځنۍ سیالۍ ترسره شوې چې پکې پنځه لوبډلو ګډون درلود.

دغه راز په اګسټ او سپټمبر میاشتو کې د هېواد د کورني کرکټ تر ټولو سترې فرسټ کلاس (څلور ورځنۍ) ترسره شوې. دغه سیالۍ د تېرو پړاونو په خلاف د څلورو لوبډلو ترمنځ په ډبل راونډ-روبېن فارمټ ترسره شوې چې په ترڅ کې یې هرې لوبډلې له نورو سره دوه-دوه لوبې ترسره کړې. له دې وروسته د ننګرهار ولایت په غازي امان الله خان کرکټ لوبغالي کې د زونونو په کچه د غازي امان الله خان لېسټ اې سیالۍ هم ترسره شوې چې ۲۳ ورځې دوام یې وکړ او په ژوندۍ بڼه نشر شوې. دا لومړی ځل و چې د زونونو په کچه ټولې لېسټ اې سیالۍ په ژوندۍ بڼه خپرېږي چې دا په خپل ځای ستره راوړنه شمېرل کېږي. سربېره پر دې په دسمبر میاشت کې په کندهار ولایت کې د زونونو په کچه د غوره کلبونو ترمنځ د اتلولۍ جام سیالۍ او د همدې میاشتې په وروستیو کې د زونونو په کچه د شپاړلس کلنو کم عمره ځوانانو ترمنځ سیالۍ په خوست ولایت کې ترسره شوې.

په ټوله کې د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ په جوړښت کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې لس بېلابېل ډوله سیالۍ ترسره شوې چې پکې نه یوازې د هېواد د ملي لوبډلو لوبغاړي، بلکې د کورني کرکټ ځوان هم ولوبېدل. د افغانستان کرکټ بورډ ژمن دی ترڅو هر کال د کورني کرکټ سیالۍ په منظمه او معیاري بڼه ترسره کړي چې په پایله کې یې د افغانستان بېلابېلو ملي لوبډلو ته ګڼ شمېر لوبغاړي په واک کې ورکوي.

کلنۍ عمومي غونډه

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۳م کال په مارچ میاشت کې د بورډ غړو ترمنځ کلنۍ عمومي ناسته ترسره کړه چې پکې د افغانستان کرکټ بورډ د فعالیتونو، لاسته راوړنو مصرف شوي بودیجې، عوایدو او د تېر کال د تفتیش راپورونه وړاندې شول. په یاده غونډه کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې په نړیوالو لوبو خبرې وشوې. د دې ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ نوی اداري جوړښت چې له دې وړاندې پرې څو میاشتې کار شوی و، په دې غونډه کې منظور او ګټې اخیستنې ته وړاندې شو. دغه راز د یادې غونډې په ترځ کې د افغانستان کرکټ بورډ ټولې پالیسۍ او طرزالعملونه چې په تېره ناسته کې وړاندې شوي و، د بورډ د غړو له لوري په بشپړه توګه منظور او لاسلیک شول چې د ۲۰۲۳م کال په ترځ کې د یادو پالیسیو او طرزالعملونو په رڼا کې د اداري چارې پرمخ ولاړې.

رسنیز او مطبوعاتي فعالیتونه

د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې له ملي او نړیوالو رسنیو سره د اړیکو، د افغانستان کورنیو او نړیوالو سیالیو ته د پوښښ ورکولو او د افغانستان او په ټوله کې د افغانستان کرکټ د مثبت انځور د خپرولو او ساتلو په برخه کې د ۲۰۲۳م کال په ترځ کې خورا هر اړخیز فعالیتونه ترسره کړل. د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې په ۲۰۲۳م کال کې د افغانستان د بېلابېلو ملي لوبډلو نړیوالو سیالیو ته هر اړخیز پوښښ ورکړ او په وخت یې له هېوادوالو سره د لوبو او لوبډلې په اړه تازه معلومات شریک کړل.

دغه راز یې د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ ټولو سیالیو کې چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې ترسره شوې، د انځورونو، ویډیوګانو، مرکو، مطبوعاتي کنفرانسونو، خبرپاڼو، د لوبو راپورونو، ژوندۍ خپرونو، د لوبو د غوره او مهمو شېبو، د لوبغاړو د انفرادي کارکردګۍ، لنډو او اوږدو مستندونو، د لوبو ژوندی حال، د لوبغاړو او روزونکو نظرونو او ګڼ شمېر نورو موادو په خپرولو سره پراخ او هر اړخیز پوښښ ورکړ. دغه راز د زرغون افغانستان جام، احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو وروستۍ دوه لوبې او غازي امان الله خان لېسټ اې سیالۍ په ژوندۍ بڼه هم خپرې شوې چې د ټولو سیالیو د ژوندي خپراوي د هوکړې، همغږۍ او هر اړخیزې څارنې او ارزونې مسوولیت هم د رسنیو او مطبوعاتو څانګې په غاړه و چې په خورا ښه توګه ترسره شول.

د رسنیو او مطبوعاتو څانګې افغانستان ته د کرکټ نړیوال جام سفر ته هم په خورا ښه توګه پوښښ ورکړ او دغه جام یې د کابل او بلخ ولایتونو بېلابېلو ښکلو منظرو ته یووړ او هلته یې ترې انځورونه او ویډیويي کلیپونه واخیستل چې د افغانستان کرکټ بورډ د ټولنیزو رسنیو ترڅنګ د کرکټ نړیوالې شورا له ټولینزو رسنیو هم خپاره شول. د ۲۰۲۲م کال د کلني راپور او په ۲۰۲۳م کال کې د دې ګڼې په شمول څلورو درې-میاشتنیو مجلو ترتیب، لیکل او چاپول نور هغه فعالیتونه دي چې د رسنیو او مطبوعاتو څانګې د یاد کال په لړ کې ترسره کړي دي. کلنی راپور د کرکټ نړیوالې او اسیایي شورا ترڅنګ له ټولو دولتي ادارو سره شریک شو. دغه راز ټولې چاپ شوې مجلې په کابل او ولایاتو کې په بېلابېلو ملي او خصوصي ادارو، ښوونیزو او علمي مرکزونو، چاپي او انځوریزو رسنیو، روغتیایي مرکزونو، د کرکټ په ملي او خصوصي روزنځایونو او د افغانستان کرکټ بورډ ولایتي څانګو ته په منظمه توګه لېږل شوې او وېشل شوې دي چې د افغان ولس له پراخ هرکلي سره مخ شوې دي.

د افغانستان کرکټ بورډ او ملي لوبډلو اړوند انځورونو، ویډیويي کلیپونو او اړوند موادو د تنظیم، ساتلو او د اړتیا پرمهال د کارولو په موخه د رسنیو او مطبوعاتو څانګې منظم ارشیف جوړ کړ چې په ترځ کې یې د تېرو کلونو ټول معلومات په منظمه توګه خوندي کېږي. دغه راز دغې څانګې د افغانستان کرکټ بورډ د ویبپاڼې د ترمیم، بیا ځلي جوړولو، ساده کولو او ښکېلو اړخونو ته د اسانه لاسرسي برابرولو په موخه د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې سره په ګډه همغږۍ کار پیل کړی چې په نږدې راتلونکي کې به بشپړ او په نوې بڼه به پر لیکه شي.

د رسنیو او مطبوعاتو څانګې د اداري له انجینري څانګې سره په ګډه همکارۍ د یوې منظمې سټوډیو د جوړولو چارې هم پیل کړې چې تر ډېره بشپړې شوې دي. د دغې سټوډیو په جوړولو سره به له دې وروسته هغه ستونزه حل شي چې له دې وړاندې د لوبغاړو او روزونکو د مرکو د ثبتولو او یا د سیالیو لپاره د لوبغاړو د انځور اخیستنې (فوټوشوټ) او نورو بېلابېلو ژوندیو او ثبتي خپرونو کې موجودې وې. په دې سره به د افغانستان کرکټ بورډ د ټولنیزو رسنیو د خپرونو، مرکو او د سیالیو پر مهال د ژوندۍ خپرولو او له لوبغاړو، روزونکو او نورو تخنیکي کسانو سره د خبرو اترو او بحثونو شمېر هم زیات شي. دغه راز د لوازمو په برخه کې هم اړین بدلونونه رامنځته شول، د رسنیو او مطبوعاتو څانګې د اداري د بشپړ ملاتړ په رڼا کې د انځور او ویډیو اخیستنې لپاره بېلابېل عصري وسایل وپېرل چې د ډرون کامرې په شمول د انځورونو او ویډیو اخیستنې بېلابېلې کامرې، د ورزشي انځور اخیستنې لینزونه، مک سټوډیو، د ویډیو جوړونې او ګرافیک ډیزاین لپاره دوه عصري سیسټمونه، د موادو او معلوماتو د ساتلو لپاره ۷۲ ټي بي ارشیف سیسټم او یو شمېر نور اړین وسایل وپېرل چې ورسره د انځورونو او ویډیو کیفیت له پخوا څو چنده ښه شوی دی او لا هم پرمخ روان دی.

په ۲۰۲۳م کې د دغې څانګې لپاره یوه بله غټه لاسته راوړنه د افغانستان کرکټ بورډ د ټولنیزو رسنیو مونیټایز (Monetize) کول و چې د بازارموندنې څانګې د ګډې همغږۍ په ترځ کې د افغانستان کرکټ بورډ یوټیوب چېنل، رسمي فېسبوک او انسټاګرام پاڼې په عوایدو راغلې چې له مخې یې د افغانستان کرکټ بورډ له اګسټ میاشتې راهیسې د ۲۰۲۳م کال تر پایه څه باندې ۱۷ زره ډالر عواید ترلاسه کړي دي. ټولنیزې رسنۍ د عوایدو غوره سرچینې بلل کېږي او هیله مندي شته چې د افغانستان کرکټ بورډ په راتلونکو کلونو کې له دې لارې نور ډېر عواید هم ترلاسه کړي.

زېربنایي او بنسټیز فعالیتونه

د کرکټ لوبې لپاره د زېربنایي اسانتیاوو رامنځته کول د افغانستان کرکټ بورډ ستر لومړیتوب شمېرل کېږي. له نېکه مرغه ۲۰۲۳م کال د افغانستان کرکټ بورډ لپاره د زېربنایي او بنسټیزو اسانتیاوو د رامنځته کولو له اړخه هم د پام وړ کال و. د دغه کال په لړ کې د افغانستان کرکټ بورډ د رغونې او بیا رغونې د بېلابېلو پروژو له لارې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کرکټ اړینې اسانتیاوې رامنځته کړې چې د ډېر شمېر پروژو چارې بشپړې شوې او یو شمېر یې لا هم روانې دي. په دې لړ کې کابل ولایت د ملي کرکټ لوبغالي بیارغونه، د ننګرهار ولایت په غازي امان الله خان او نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالو، د لغمان، لوګر، پکتیا، خوست، غزني، پروان، کاپیسا، زابل، کندهار، هلمند او کندوز ولایتونو کې د کرکټ لوبغالو، روزنځایونو او د لوبغاړو لپاره د مېلمستونونو په شمول د رغونې، بیا رغونې، ترمیم، سمسورتیا او د برېښنا لپاره د سولري سیستمونو د جوړولو په برخه کې هر ډول اړینې اسانتیاوې رامنځته شوې. دغه راز افغانستان کرکټ بورډ پلان لري ترڅو د راتلونکي زېږدیز کال په لومړیو کې د کابل په الوخېلو سیمه کې هم په ځانګړې شوې ځمکه د کرکټ لوبغالي کې رغولو چارې پیل کړي.

د ظرفیت لوړونې څانګې اړوند فعالیتونه

د افغانستان کرکټ بورډ په اداري جوړښت کې د ظرفیت لوړونې څانګې په شاملولو سره د لوبغاړو، روزونکو او نورو بېلابېلو تخنیکي کسانو د ظرفیت لوړونې او د بهرنیو روزونکو د ګمارنې په برخه کې د پام وړ فعالیتونه ترسره شوي دي. دغې څانګې د ۲۰۲۳م کال په ترڅ کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي.

- د ملي کرکټ اکاډمۍ لپاره د توپوهنې او توپ اچونې د دوه تنه بهرنیو روزونکو ګمارل
- د لوبغاړو د درملنې مرکز (Rehab Center) لپاره د مجرب بهرني ډاکټر ګمارل
- د لوبغاړو د تکړښت مرکز (Gym) لپاره د یوه مجرب بهرني ټرېنر (روزونکي) ګمارل
- د چټکو توپ اچوونکو د لټون پروګرام پیلول او په یاده برخه کې د درې بېلابېلو کمپونو ترسره کول
- په متحده عربي اماراتو کې د ۱۲ افغان روزونکو لپاره دریمه درجه روزنیز ورکشاپ دایرول
- د روزنې لومړۍ درجه روزنیز ورکشاپ
- د ملي او خصوصي اکاډمیو ۲۰ تنه روزونکو روزنیز ورکشاپ
- د ۱۲ روزونکو لپاره د فزیکي تکړښت روزنیز لومړۍ درجه روزنیز ورکشاپ
- د ۳۱ ویشتنځای جوړونکو لپاره د ویکټ جوړونې روزنیز ورکشاپ
- د منډه شمېرونکو (سکوررانو) روزنیز پروګرام

د بازارموندنې په برخه کې د افغانستان کرکټ بورډ فعالیتونه

د افغانستان کرکټ بورډ د بازارموندنې او مارکېټېنګ په برخه کې هم د پام وړ لاسته راوړنې لرلې. افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۳م کال په ترڅ کې د د بېلابېلو نړیوالو او کورنیو سیالیو پرمهال له بېلابېلو ملي او نړیوالو شرکتونو سره د مالي ملاتړ او همکارۍ تړونونه وکړل چې د عوایدو له اړخه یې افغانستان کرکټ بورډ ته ډېر ګټور تمام شول. په دې برخه کې یو شمېر فعالیتونه په لاندې ډول ذکر شوي دي:

- د متحده عربي اماراتو پر وړاندې شل اوریزو سیالیو لپاره د سوپرکولا او کام ایر شرکتونو سره د مالي ملاتړ تړون
- د پاکستان پر وړاندې شل اوریزو سیالیو لپاره له اتصالات، کام ایر او سوپرکولا شرکتونو سره د مالي ملاتړ تړون
- د سریلانکا پر وړاندې یو ورځنیو سیالیو ته له سوپرکولا شرکت سره د مالي ملاتړ تړون
- د بنګله دېش پر وړاندې لوبلړۍ لپاره له سوپرکولا (اکس بول انرژي)، عمر منرالز او کام ایر شرکت سره تړون
- د پاکستان پر وړاندې یو ورځنیو سیالیو لپاره له سوپرکولا او مرحبا د موټرو نندارتون سره د مالي ملاتړ تړون
- د اسیا جام سیالیو لپاره له سوپرکولا او ټي ټین ګلوبل شرکت سره د مالي ملاتړ تړون
- د نړیوال جام لپاره له امول نړیوال شرکت سره د مالي ملاتړ تړون
- د متحده عربي اماراتو پر وړاندې شل اوریزو سیالیو ته له سوپرکولا او اتصالات شرکت سره تړون
- د نولس کلنو اسیا جام سیالیو لپاره له مرحبا د موټرو نندارتون سره تړون
- د زرغون افغانستان جام سیالیو لپاره له سوپرکولا او ډافا نیوز شرکت سره تړون
- د زونونو په کچه د فرسټ کلاس سیالیو د وروستیو دوه لوبو لپاره له ډافا نیوز شرکت سره تړون
- د زونونو په کچه د لېسټ اې سیالیو لپاره له سوپرکولا (اکس بول)، اتصالات او ډافا نیوز شرکتونو سره تړون
- له سوپرکولا شرکت سره د مالي ملاتړ د تړون غځول
- له ډریم ایلېون نړیوال شرکت سره د مالي ملاتړي اوږدمهالي تړون لاسلیکول

دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ له ټایکا شرکت سره د ملي لوبډلو د لباس د تولید په برخه کې، له سټار روغتیایي مرکز سره په طبي برخه کې او له افغان ټیلیکام ملي شرکت د معلوماتي ټکنالوژي په برخه کې د همکارۍ اوږدمهاله تړونونه لري چې د بېلابېلو سیالیو پرمهال ترې ګټه اخلي.

مالي فعالیتونه

۲۰۲۳م کال د افغانستان کرکټ بورډ لپاره له مالي اړخه هم د پام وړ کال و. د کرکټ نړیوالې او اسیایي شورا لخوا د افغانستان کرکټ بورډ عمومي بودیجه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. دغه راز افغانستان کرکټ بورډ له افغان دولت هم بودیجه ترلاسه کوي، سربېره پر دې له مالي ملاتړو سره د تړونونو، د رسنیزو حقوقو د پلورلو او د ټولنیزو رسنیو د مونېټایزېشن له لارې هم د پام وړ عواید ترلاسه کوي چې بېرته يې په نړیوالو او کورنیو سیالیو پرمهال مصرفوي.

اداري او لوجستیکي فعالیتونه

د افغانستان کرکټ بورډ اداري څانګې د ۲۰۲۳م کال په ترڅ کې د ورځنیو خدماتو په وړاندې کولو او اداري کارکوونکو ته د یوه هوسا چاپېریال په برابرولو کې پوره هڅه کړې ده. دغه راز یادې څانګې له دولت او نورو ښکېلو اړخونو سره د پراخه اړیکو په ساتلو په برخه کې خپل فعالیتونه دوامداره ساتلي و. د دې ترڅنګ په اداري جوړښت کې د لوجستیکي مدیریت څانګې په جوړولو سره د افغانستان کرکټ بورډ د کورنیو او نړیوالو سیالیو، بېلابېلو تمریناتي کمپونو او دغه راز مهمو غونډو د کوربه توب او تنظیم په برخه کې هم د پام وړ بدلون راغلی دی.

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۳م کال په ترڅ کې د پاکستان پر وړاندې د شل اوریزو او یو ورځنیو سیالیو د دوه بېلابېلو لوبلړیو د کوربه توب مسوولیت په غاړه درلود چې د هر اړخیزو لوجستیکي، عملیاتي، تخنیکي، رسنیزو او مالي خدماتو په وړاندې کولو سره يې دغه سیالۍ په خورا ښه ډول تنظیم کړې. دغه راز د بنګله دېش او سریلانکا پر وړاندې د نولس کلنو کم عمره لوبغاړو دري اړخیزه لوبلړۍ هم د افغانستان په کوربه توب په متحده عربي اماراتو کې ترسره شوه چې ټول اړوند خدمات يې په خورا ښه توګه وړاندې شول. د دغو ټولو سیالیو غوره مدیریت دا په ډاګه کړه چې د افغانستان کرکټ بورډ د سترو سیالیو او بشپړو لوبلړیو د کوربه توب او مدیریت ظرفیت لري او کولی شي چې د لا ډېرو سیالیو او اوږدو لوبلړیو لپاره د نورو سترو لوبډلو کوربه توب هم وکړي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند فعالیتونه

د افغانستان کرکټ بورډ د معلوماتي ټکنالوژي څانګې هم د دغه کال په ترڅ کې د اداري له مالي څانګې سره په بشپړې همغږۍ د چارو د مدیریت سیستم چې دوه کاله وړاندې پر لیکه شوی و، یو شمېر نور کوچني سیستمونه هم جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل چې له مخې يې اداري کارکوونکي کولی شي د سفر او رخصتي اړوند خپلې غوښتنې په انلاین ډول ثبت کړي. دغه راز یاده د اداري له رسنیو او مطبوعاتو څانګې سره د همغږۍ په ترڅ کې د افغانستان کرکټ بورډ د نوې وېبپاڼې د ترمیم، بیا ځلې جوړولو، ساده کولو چارې هم پیل کړې چې په نږدې راتلونکي کې به بشپړې شي.

نړیوالو سره اړیکې

د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه له نړیوالې او اسیایي شورا سربېره نورو غړو هېوادونو سره د پراخه او پایداره دوه اړخیزو اړیکو په ټینګښت ډېر کار وکړ. د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه د دغه کال په ترڅ کې د کرکټ د نړیوالې او اسیایي شورا په بېلابېلو غونډو کې په پراخه کچه ګډون وکړ چې پکې افغانستان ته د بودیجې پر لوړولو، تخنیکي همکاریو، ظرفیت لوړونې اړوند فعالیتونو، افغان لوبډلو ته د لا زیاتو سیالیو برابرولو په اړه يې پراخ بحثونه وکړل چې خورا ښې پایلې يې لرلې. دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ چارواکو د بنګله دېش، سریلانکا او هندوستان په ګډون ګڼ شمېر هېوادونو ته سفرونه وکړل.

د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه سریلانکا هېواد ته د خپل وروستي سفر او د دغه هېواد د کرکټ له مسوولینو سره د ناستې په ترڅ کې له خپلو مثبتو دوه اړخیزو همکاریو په ګټې اخیستنې سره د افغانستان او سریلانکا ترمنځ د ۲۰۲۴م کال په جنوري او فبروري میاشت کې لوبلړۍ ته، چې پکې یوه ټیسټ او دري نړیوالې شل اوریزې سیالۍ شاملې دي، د دري نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ هم اضافه کړې. دغه راز د یادې ناستې په ترڅ کې دواړه اړخونه په سریلانکا کې د افغانستان په کوربه توب د سیالیو په ترسره کولو هم هوکړې ته ورسېدل چې له هغه وروسته د افغانستان کرکټ بورډ د سریلانکا په دوه بېلابېلو نړیوالو لوبغالو کې د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو په موخه د پاکستان کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړ.

له نېکه مرغه افغانستان کرکټ بورډ د سریلانکا سربېره له هند، بنګله دېش، متحده عربي اماراتو او ګڼ شمېر نورو غړو هېوادونو سره پراخې اړیکې لري چې له مخې يې وخت نا وخت د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ترڅنګ د الف، نوولس کلنې کم عمره او ایمرجېنګ لوبډلو لپاره سیالۍ برابروي. د نوولس کلنو نړیوال جام له پیله وړاندې د افغانستان، هند او سویلي افریقا ترمنځ د دري اړخیزې لوبلړۍ کره کول او دغه راز سریلانکا ته د افغان ابدالیان لوبډلې راتلونکی سفر له یادو هېوادونو سره د افغانستان کرکټ بورډ د اړیکو او ترې د ګټې اخیستنې غوره بېلګې دي.

د افغانستان کرکټ بورډ ژمن دی چې د کرکټ نړیوالې او اسیایي شورا او نورو غړو هېواد له مشرانو سره پرلپسې ناستې وکړي او افغان لوبډلو ته د لا زیاتو سیالیو په برابرولو او د افغانستان کرکټ ته په مالي او تخنیکي برخه کې لا زیاتې ودې او پرمختګ په برخه کې خپلې هڅې جاري وساتي.

راتلونکي پلانونه

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۴م زېږدیز کال په ترڅ کې خورا مصروف مهالوېش لري چې له مخې به يې د افغانستان کرکټ ملي لوبډله ګڼ شمېر نړیوالې سیالۍ ترسره کړي. دغه راز د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې کورني کرکټ په ترڅ کې د فرسټ کلاس، لېسټ اې او شل اوریزو سیالیو ګڼ شمېر سیالۍ په پلان کې لري چې پکې به د هېواد سلګونه کرکټ لوبغاړي ولوبېږي.

په نړیوال کرکټ کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې یو ستر هدف د ۲۰۲۴م کال شل اوریز نړیوال جام سیالیو ته ښه چمتووالی دی. دغه سیالۍ د دغه کال په جون میاشت کې په ویسټ انډیز او امریکا کې. افغانستان کرکټ ملي لوبډلې یادو سیالیو ته په مستقیم ډول لاره موندلې ده چې د افغانستان کرکټ بورډ او ملي لوبډلې لپاره ستره لاسته راوړنه شمېرل کېږي.

له یادو سیالیو وړاندې افغان لوبډله په نږدې راتلونکي کې له هند سره دري نړیوالې شل اوریزې سیالۍ لري. له دې وروسته به افغان لوبډله سریلانکا ته سفر وکړي او هلته به یوه ټیسټ، دري شل اوریزې او دري نړیوالې یو ورځنۍ لوبې ترسره کړي چې ډېر ژر به يې کره نېټې په ډاګه شي. له یادو سیالیو وروسته به افغان لوبډله د یوې ټیسټ، دري شل اوریزو او دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لپاره د ایرلنډ لوبډلې کوربه توب وکړي. په نړیوال جام کې له ګډون وروسته به افغان لوبډله د جولای او اګست میاشتو په ترڅ کې د دوه ټیسټ، شل نړیوالو شل اوریزو او دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لپاره د بنګله دېش کوربه توب وکړي. سربېره پر دې به افغانستان کرکټ بورډ په اګست میاشت کې دري نړیوالو شل اوریزو سیالیو لپاره د استرالیا او په سپتمبر میاشت کې د یوې ټیسټ لوبې لپاره د نیوزیلنډ لوبډلې کوربه توب وکړي. له دې وروسته افغان لوبډله د دغه کال په وروستۍ دسمبر میاشت کې د دوه ټیسټ، دري نړیوالو شل اوریزو او دري نړیوالو یو ورځنیو لوبو لپاره زمبابوې ته سفر وکړي.

د کورني کرکټ په ترڅ کې د افغانستان کرکټ بورډ د نویو استعدادونو د موندلو او د کرکټ لوبې د لا ترویج لپاره خپلې هلې ځلې جاري وساتي او د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې به ګڼ شمېر سیالۍ ترسره کړي. د افغانستان کرکټ بورډ د کلني پلان له مخې به روان کال په ترڅ کې د کورني کرکټ بېلابېلې یو ورځنۍ، شل اوریزې، دري ورځنۍ، څلور ورځنۍ او د معلولیت لرونکو وګړو لپاره هم منظمې سیالۍ ترسره کړي.

د نوي کال لپاره د افغانستان کرکټ بورډ بله د تمرکز وړ ساحه د لا زیاتې بازاموندنې او لا زیاتو مالي ملاتړو د خپلولو وي چې له مخې به يې د افغانستان کرکټ بورډ ډېر زیار وباسي ترڅو له ډېرو ملي او نړیوالو شرکتونو سره د مالي ملاتړ تړونونه لاسلیک کړي او له مالي اړخه اداره بسیا کړي.

همدارنګه به د افغانستان کرکټ بورډ د یوه ستر لومړیتوب په توګه هڅه کوي چې د رغونې او بیا رغونې د بېلابېلو پروژو له لارې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کرکټ اړینې اسانتیاوې رامنځته کړي. په دې برخه کې د کابل ولایت په الوخېلو سیمه کې د نوي لوبغالي رغونه، په ننګرهار ولایت کې د شهید نجیب الله ترکي کرکټ لوبغالي د رغنیزو چارو بشپړول او د پکتیا، پکتیکا، خوست، لوګر، کندهار، هلمند، زابل، لغمان، میدان وردګ او ګڼ شمېر نورو ولایتونو کې د کرکت د لوبغالو، روزنځایونو او د لوبغاړو لپاره د مېلمستونونو په شمول هر ډول اسانتیاوې برابرول شامل دي.

دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ تل په دې هڅه کې دی چې له ټولو کرکټ بورډونو، د کرکټ نړیوالې او اسیایي شورا، ملي او نړیوالو سوداګریزو شرکتونو او نورو ښکېلو اړخونو سره غوره او موثرې اړیکې وساتي ترڅو په هېواد کې د کرکټ د ودې او پراختیا په برخه کې ترې ګټه واخلي. سربېره پر دې د افغان دولت ملاتړ او هڅونه د افغانستان کرکټ بورډ لپاره حیاتي ارزښت لري ترڅو خپلې چارې لا زیاتې پراخې کړي او د په هېواد کې د کرکټ لوبې د ودې ترڅنګ په نړیوالو ډګرونو کې بریاوو په خپلولو سره افغانستان ته ویاړونه راوړي.

په ټوله کې، د افغانستان کرکټ بورډ د ملي لوبډلې او کورني کرکټ د پیاوړي کولو لپاره تر خپله وسه کار کوي او د کرکټ لوبې لپاره د یوه دوامداره مالي موډل په رامنځته کولو سره په افغانستان کې د کرکټ د ودې لپاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي. د افغانستان کرکټ بورډ ژمن دی ترڅو په خپلو ټولو فعالیتونو او پریکړو کې د روڼتیا او شفافیت وساتي ترڅو د افغان دولت، افغان ولس او ټولو اړونده ښکېلو اړخونو باور او اعتماد وساتي.

REAL-TIME DATA ANALYTICS

The use of real-time data analytics is arguably one of the most significant advancements in cricket. Coaches and players can now access vast amounts of data on individual players, teams and playing conditions. As a result, this can help them make better-informed decisions. This data also can help coaches identify patterns, analyse individual player performance and improve the team's overall performance. Additionally, the data can assist with tactical decisions such as field placements, bowling changes and batting orders.

WEARABLE TECHNOLOGY

Wearable technology is another significant game-changer in Cricket. Smart watches, fitness trackers and GPS devices can provide real-time information about player performance, such as heart rate, breathing and hydration levels.

This data can help coaches and players make informed decisions about player fatigue, injury prevention and recovery. Players can also use the data to track their fitness levels, monitor their training progress and set goals for themselves.

VIRTUAL REALITY AND 3D REPLAYS

Virtual reality and 3D replays are also changing the game of cricket. Fans can experience the game in a new way, from the perspective of the players. Coaches and players can use VR technology to simulate different playing conditions, analyse performance and develop new tactics / strategies.

3D replays, on the other hand, give fans a better understanding of the game and can be used to analyse individual player performance and make tactical decisions. The popularity of DRS will also be influenced by technology improvements that will help make correct decisions when it comes to critical umpiring decisions.

STADIUM IMPROVEMENTS

Smart stadiums are another significant advancement in the sport of Cricket. With technology such as sensors, cameras and Wi-Fi, fans can have a unique experience at the ground. They can use their smartphones to order food and drinks, access real-time statistics as well as watching replays.

As a result, stadiums can also provide fans with a more interactive and engaging environment, such as participating in interactive games, taking photos with players, and accessing behind-the-scenes content. In the future, this will only help grow the game of Cricket and get more fans watching the live action.

Technology is significantly impacting the way Cricket is played and watched. The sport is becoming more interactive and engaging, with real-time data analytics, wearable technology, virtual reality, and smart stadiums. Technology's use can help improve player performance, reduce the risk of injury and provide fans with a more immersive experience. As technology continues to evolve, it's exciting to see how it will shape the future of cricket.

The Future of Cricket:

How Technology is changing the Game

Cricket has come a long way from its traditional roots, and technology has played a significant role in the sport's evolution. With over a billion global fans, the game is set to embrace more changes in the future, thanks to technology's influence. In this article, we explore how technology is already revolutionising cricket, the impact of real-time data analytics, wearable technology, virtual reality and smart stadiums.

BETTING & SECURITY

Betting payment methods have come a long way in recent years, with significant improvements made to enhance the overall user experience. One of the most notable improvements is the integration of e-wallets such as Paypal betting sites Australia. They allow users to deposit and withdraw funds quickly and securely. They also offer additional layers of security by not disclosing financial information to the betting site.

The Majestic Trophy of the #GAKCUP2023

Afghanistan Cricket Board
Kabul International Cricket Stadium
Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul, Afghanistan